# درنه کورنی

دعلامه حبواخوندزاده مشهور په « فاضل کندهاري »
کورنی

د
محمد معصوم هوتك
لیکنه

کتابپېژندنه

دکتاب نوم : درنه کورنۍ
ليکونکی : محمد معصوم هوتك
دليکلو نېټه : ډسمبر ۲۰۰۰م
دليکلو ځای : ټورنټو ـ کاناډا
کمپوز : سعيد لودين
دچاپ کال : ۲۰۰۳ م
خپروونکې : دعلامه حبيبي دڅېړنو مرکز
تيراژ : ۱۰۰۰ ټوکه

اهداء

د

علامه عبدالحي حبيبي

درانه نامه

ته

# یادښت

د ارواښاد علامه عبدالحی حبیبي درنه کورنۍ په درنو تاریخي او علمي بنسټیزو ولاړه ده او له سوونو کلونو راهیسې دې درنې کورنۍ افغاني ټولنې حتی ټولې نړۍ ته علمي بخښنې کړې او ددې کورنۍ علامه عالمانو درانه او له نوښته ډک علمي آثار افغاني او بشري ټولنې ته وړاندې کړي دي او هم یې دهېواد په روښانه،مبارزو او مجاهدو حلقو کې سربښندنې کړې، قربانۍ یې ورکړې او دمشروطیت، خپلواکۍ او اولسواکۍ په لاره کې یې مخکښ او بدلوونکی نقش لوبولی دی.

ددې درنې کورنۍ علمي اومبارزوي نقش دعلامه حبیب الله یا حبو اخونزاده له وخته ډېر برجسته او پیاوړی شو او دمبارزې او علم میراث یې نسل پر نسل راپاتې شو څو چې ارواښاد علامه عبدالحی حبیبي په نړیواله سطحه علمي تبارز وکړ او داستبداد په وړاندې یې دعملي مبارزې علم پورته کړ.

ستاسو په لاس کې کتاب چې دهېواد پر کاره او دقیق محقق ښاغلي معصوم هوتك کښلې ددې درنې کورنۍ په باب درانه او مستند بحثونه لري او لوستونکي پرېوه تاریخي مسیرددې کورنۍ له فرد. فرد سره اشنا کوي او دهغوی په خدمتونو رڼا اچوي.

د علامه حبیبي دڅېړنومرکز له ښاغلي معصوم هوتك نه مننه کوي چې دانښکلی اثر یې کښلی اودې مرکز ته یې په مینه سپارلی دی خو له دې نه چې د کتاب چاپ دوه کاله وځنډېد بخښنه غواړي. څکه دعلامه حبیبی مرکز له پېښور نه کابل ته راولېږدول شو او دلته په دوو تېرو کلونو کې د چاپ امکانات لکه څنګه چې لازم دي مهیا نه وو خو علمي کتابونه زرښت نه لري او خپل درنښت یې پر ځای دی.

په همدې ډاډ موږ دا ګټور کتاب ددرنو لوستونکو مخې ته ږدو او هیله من یو چې ددې درنې کورنۍ له ژوندلیك نه خوند واخلي او هېواد ته د دوی له درنو خدمتونو سره اشنا شي.

په درنښت

د علامه حبیبي د څېړنومرکز

۱۳۸۲/۸/۱۵





بسم الله الرحمن الرحیم

## لومړی خبري

په پښتني عنعنه کي له لرغونوزمانوراهیسي یورروایت سته چي وایي یووخت دمېړاني بادراوالووت، دغرغښت پرژبه، د ښېتني پرموټ اودسره بن پرلمن ونښت دهمدې باد اغېزه وه چي غرغښتي ( غورغښتي ) قبېلې دژبې، بیان، پوهي، تلقین اوروحانیت څښتناني سوې، ښېتنیوته توره ومېړانه ورسېده اوسړبنوته اداره اوواکمني ورپه برخه سوه . (١)

کاکړپه نسبي وېش کي په غرغښتوپښتنوګډېږي څکه نوددوی په باب اولسي روایت داسي دئ چي د« برخو» په وېش کي، کاکړوته دعلم وپوهي برخه ورسېده.وایي چي اولسي روایتونه دژوندله عیني واقعیتوڅخه راپیداسوي اوورېسې عام سوي بیانونه دي. «کاکړوته دعلم وپوهي رسېدل» پراولسي روایت سربېره یوداسي حقیقت دئ چي مصداق یې مادسرپه سترګولیدلی دئ. ماته دکندهارپه کاکړوکي ډېرلږداسي کسان په مخه راغلي دي چي لیك ولوست دي یې زده نه وي اوداخبره باید سره ومنوچي زموږ په وروسته پاته ټولنه کي په لیك لوست پوهېدل د پوهي نخښه ده. د

(١) دپښتنودغه لرغوني روایت هغه دودته ورته دئ چي په اوستاکي دزردشت دزامنوپه باب راغلی دئ او هیرودت یې د« سکا» قبایلو ددروګونو طبقو دبیان په ترځ کي راوړي. وګورئ د «مشابهت های فکری مردم قدیم وآثار آن درطبقات احتماعی اریایی» مقاله چي دعلامه عبدالحی حبیبي په قلم لیکل سوې اوپه (آفریده های مهجورعلامه حبیبي) کي دایران یغما مجلې د٣ ګڼې ١٣۴۵ش څخه رانقل سوې ده.

پښتنو، په تېره بیادلوی کندهارزیاتره پښتانه عالمان، دیني ومذهبي لارښونکي ، روحانیون، دسلوك وعرفان دلاري لارویان ، شاعران اولیکوال دکاکړوقوم ته منسوب دي.اروانښاد کاندید اکاډمیسن محمدابراهیم عطایي چي د پښتنوپه اتنیکي څېړنوکي دپراخي مطالعې څښتن و ، د کاکړوپه باب لیکي « ددغي قبیلې خلك په شپنیتوب اوکرنه ژوندکوي خوپه عمده توگه په کلیوکي ملایان له دوی څخه ټاکل کېږي اوځرنگه چي دپښتنوپه قبیلوي عرف کي دوی ستانه بلل کېږي نودملایي وظیفه چي مقدسه شمېرل کیږي دوی ته سپارل کېږي داسی معلومیږی چی په دغسی پراخه ساحه د دوی د تیتیدلو یوعامل به هم دغه و چی دوی مذهبي وظایف پرغاړه اخیستل اوهری سیمی ته چی ورتله هلته به دبیگانه په سترگه نه ورته کتل کیدل . سره له دې چی ددې قبیلې په فولکلور کی دجنگ جگړو قهرمانان هم په لمانځنه له هیری څخه راژغورل کیږي خودعلمی او مذهبي کارونوله پلوه یې شهرت عام دی اوپه اتلسمه پېړۍ کي دافغانی درباروتو ملایان ددغی قبیلې څخه ټاکل کېدل اوپه نولسمه پېړۍ کی ددغی قبیلې یو زیات شمېر کسانو دسیاست په میدان کي هم درنې لوبي کړي دي . » ( ۱ )

(درنه کورنی) چي زماهمدالیکنه دهغې په باب ده ، د کندهار په کاکړوکي یوه مشهوره علمي کورنی ده چي دڅه کم دریو سوو کالوپه اوږدوکي دعلم وفضل څراغ پکښي لگېدلی پاته

---

( ۱ ) دزرغوني یاد ـ دمقالو مجموعه ـ ۶۲ مخ ـ کابل ـ ۱۳۶۲ ش



سوی دئ. داکورنی دمسه خېلوکاکړوکورنی ده چي د افغانستان په سیاسي وثقافتي تاریخ کي یې خوراسترږرول لوبولی دئ. ددې کورنی غړو مجاهدې ومبارزې کړي دي، ددین ووطن په لارکي یې سرونه ښندلي دي، حماسې یې زېږولي دي، آثاریې کښلي دي، څېړني یې کړي دي، شاگردان یې روزلي دي اوښه نوم یې پرې ایښی دئ. دگران هیواد په علمي وسیاسي وادبي غورځنگونوکي ددغي کورنی ونډه دومره ستره ده چي پرخدمتونوباندي یې د اروانښاد سرمحقق محمدصدیق روهي( ۱۳۱۲ ـ ۱۳۷۵ ش ) خبره «کتابونه کښل کېدای شي»(۱) ددې کورنی مشرنیکه ملا بابړ(۲) نومېدئ، خوپه علمي وثقافتي حلقوکي دنومړي دلمسي علامه حبیب الله کندهاري(حبواخوندزاده ) په نامه مشهوره ده.د (حبواخوندزاده ) دکورنی یودوه کوره په کندهارکي پاته سوي او نور ژوندي غړي یې د نړۍ په پنځولویووچوکي د نوروافغانانوپه څېرخواره واره دي .

ددې کورنی دخینوغړوپه باب زموږدهیواد په کتبي اثاروکي ښه پوره مطالب لیکل سوي دي خودهغې په باب دیوې بشپړې رسالې یاکتاب خلا (تشه ) مااحساس کړه اوهمدغه احساس وچي زمادغه لیکنه یې وزېږوله . ددغي لیکنې مطالب زما د خپلو یاداښتو او ځینولیکل سوو مدارکو او منابعو له مخي برابرسوي

---

( ۱ ) وگورئ روهي ـ محمدصدیق ـ دپښتوادبیاتوتاریخ ـ معاصره دوره ۷۸ مخ

( ۲ ) پښتانه پرنارینه وښځینه اولادوباندي دخینوقبیلونومونه ږدي. سدوزی و محمدزی که دیوې قبیلې نوم دئ ، خوپه کندهارکي دډېروکسانولمړی نوم هم وي.

دي . ما هڅه کړې ده چې مستندي خبري سره راغونډې کړم . مخکې له دې چې په اصل مطلب پیل وکړم لازمه ګڼم له خپلې ګرانې مورڅخه دزړه له کومې مننه وکړم چې د درنې کورنۍ دنارینه و ښځینه غړوپه باب یې زما معلومات رااصلاح اوپه دې لړ کې یې ځینې نوې ټکې راته بیان کړل . استاد حبیب الله رفیع د زیاتې کورودانۍ وړڅکه دئ چې یو یې پردې کتاب دڅه لیکلو تکلیف پرځان منلی او بل یې دچاپ په چارو کې زیار ګاللی دئ .
له ښاغلو ډاکټر حبیب الله حبیبي ، انجنیر میرویس حبیبي او ډاکټرخوشحال حبیبي څخه هم ممنون یم چې خپل ژوندلیکونه اودخپلې کورنۍ یوشمېر عکسونه ( فوټوګان ) یې راولېږل . ګران دوست اودپښتو ژبې خواخوږی لیکوال لطیف جان بابي دځینولیکلو موادو د فوټوکاپیوپه رالېږلو سره غټولی یم . کوردې ودان وي . دګران جهاني صاحب له کتابتون څخه خوتل داسې استفاده کوم لکه زماخپل چې وي خوبیایې هم کورودان چې دتل په شان یې دېولړ موادوپه برابرولوکې مرسته کړې ده . زماګران خوریې جاوید جان له کندهاره دځینوعکسو په تهیه کولو او زمابل خوریې ګران سعید لودین دکتاب په کمپوز او ټایپ کې کومک کړی دئ . دواړوته ښه ژوند غواړم .ګران سعید لودین دپښتو ژبې ډېر ښه شاعردئ او زماډېر امیدونه ورته سته .

لیکنه مې ددغې کورنۍ له مشر نیکه رانښلولې ده او دنورو نوموړو فاضلانو بیانونه مې یوپه بل پسې راوړي دي .

***

*



## ملابابړ

څه دپاسه دوه نیم سوه کاله وړاندې دکندهارښارته له ږوب ـ کاکړستان څخه یوعالم اومدرس ملا راوکوچېدچې ملابابړنومېدی اوپه ختېه مسه خېل کاکړو.داوخت پرکندهارباندې دهوتکودواکمنۍ وروستې کلونه وو. ددغې ملې واکمنۍ په جریان کې نه یوازې داچې زموږدهیوادله یوې برخې څخه پردیودسلطې په لیرې کولوسره دیوموټي افغانستان دجوړېدوپرلورلومړنې ګامونه واخیستل سول(۱) بلکې ددې واکمنۍ مرکز (زوړکندهار )په یوه ادبي، علمي اوثقافتي مرکزباندې واوښت اودې مرکزته له لیرې ونږدې څخه پوهان، عالمان اوشاعران رامات سول. دملابابړاخوند په لېږدېدنه کې هم ددغه ثقافتي غورځنګ اغېزه دخیله وه. نوموړي د کندهارپه ښارکې دتدریس حلقه جوړه کړه اوپه خلکوکې ددرناوی وړڅښتن سو. له بده مرغه دده دژوندپه باب تفصیلي خبري نه دده دکورنۍ له خواوړاندې سوي اونه بل چالیکلې دي. ددرة الزمان مولف عزیزالدین وکیلي ددغه کتاب په ۳۶۳مخ کې دسدوزي تیمورشاه دوخت د یوې قبالې عکس خپورکړی چې داحمدشاهي کندهاردشرعي محکمې دقاضي عبدالرحیم مهرورباندې لګېدلی دئ. قبالـــه دمــرتـــضـــی خــــان

---

(۱) دیومرټی معاصرافغانستان دجوړېدوپاړدلوی احمدشاه بابا ( ۱۱۶۰ ـ ۱۱۸۶ ق ) په برخه دئ. نوموړي هغه غورځنګ دبري لوړپوړته ورساوه چې زړی یې دملي مشراوقایدمیرویس نیکه په لاس ایښوول سوی و. دتفصیل له پاره وګورئ : پښتانه دتاریخ په رڼاکښې ۸۲۶ مخ ، افغانستان درمسیرتاریخ ـ ۳۲۰ مخ ـ چاپ ۱۳۶۶ ش

پوپلزي په نامه سجل سوې اونېټه يې د۱۱۹۳ هق کال درجب میاشت ده . پردغه قباله باندي دملاباباړاخوند شاهدي ستنه اوشهادت عبارت يې داسي دئ « الشاهدبمافيه عاليحضرت فضايل وکمالات پناه ملابابرمدرس» . له دغه عبارت اوالقابوڅخه دهغه وخت په رسمي اوعلمي ټولنوکي دملاباباړاخونددرناوی درجه اټکل کېدلای سي اوتر۱۱۹۳ هق کال پوري دنوموړي ملابابړدژوندزمانه يقيني کوي. داکال دتيمورشاه دپاچهی شپږم کال دئ. دملابابړدتاليفاتوپه باب چاڅه نه دي کښلي اونه يې دآثاروڅرك چابښوولی دئ خو زما (هوتك ) دکندهاردکتابوپه خطي زېرمه کي دمحمد محمود بن محمد د (لباب الاخبار ) يوه نسخه خوندي وه چي دميرافضل خوګاڼي(۱) په قلم ليکل سوې وه. له دغه کتاب سره دامالي قصيده (عربي ) ، طريقه اسقاط (پښتو )، شمايل حضرت رسول (ص) اوابوالمنتهی (عربي ) هم ګنډلي وو. طريقه اسقاط که څه هم په پښتوليکل سوې وه خوځای ځای يې عربي عبارتونه اونقل قولونه هم درلودل اوڅرنګه چي دغه رساله دسراوپای له خوانيمګړې وه، ځکه يې دمولف نوم معلوم نه و. دنوموړي رسالې مولف دملابابړکاکړ په قولونواستنادکړی اود (مولانافاضل ) په لقب يې يادکړی اوکښلي يې و "... لماکان الاسقاط من امورالاهم والعظمه فقال مولانافاضل الاخند ملابابر اخندکاکري وطريق الاسقاط الميت علي التفصيل هذاويحسب عمرالميت يسقط عنه اثنی عشره بسنه من المذکورتسع سنه عن

(۱) په پښتني قبيلوکي بايدخوګاڼی اوخوګياڼی (خوږياڼي ) سره ګډ نه سي




الانثی ..."

له دې عبارت څخه څرګنديږي چي ملابابړاخونددتاليفاتوڅښتن واوتاليفات يې پخپل وخت کي ثقه اومعتبرکتابونه وو چي نورومولفينويې قولونه داستناد په توګه نقلول. دغه ټکي ما (هوتك ) په ۱۳۶۵ ش کال په کابل کي دزيري جريدې په ۱۵ ـ ۱۶ ګڼه کي د « پښتومنهاج العابدين قلمي نسخه » ترسرليك لاندي په يوه ليکنه کي خپاره کړل . له بده مرغه له ليکني څخه زمانوم سهواً! غورځول سوی و.

وايي کله چي زمورپرهيواد باندي دافشارنادرخونړی تاړاك راغی اودځينوناسيالوپه ټونګ يې دپښتنوملي وسياسي مرکز (دکندهارزوړښار ) له خاورو سره سم کړ اودپښتنودسپکاوی په نيامت يې« پرلويانو، مشرانواوپوهانو باندي ډول ډول کړاوونه راوستل، ملابابړ هم په کندهارکي دنوي ښار (نادراباد ) دجوړولوپه بېګارامرسوی و.» (۱) افشارنادرغوښتل په دې کارسره پښتنوعالمانوته روحياتي ګوزاروړکړی. له ښه مرغه ددغه مدرس عالم حيثيت په احمدشاهي عصرکي بيرته اعاده سو، په ښارکي داستوګني له پاره ځای ورکړه سو اودتدريس چارويې دوام وموند، په دغه وخت کي يې زوی (ملا فيض الله ) هم دخلکواودولت په نزدلوړمقام درلودچي تفصيل به يې وروسته ولولئ .

دملابابړ اخوندنه دمړيني نېټه څرګنده ده اونه يې ماته د اولادو بشپړ شمېرمعلوم دئ خو زوی يې ملا فيض الله دخپل وخت په

(۱) خلمی ـ محمدولی ـ دکندهارمشاهير ـ ۱۶۴ مخ ـ درهم چاپ ـ ۱۳۶۸ ش کال





علمي اورسمي کړیوکي ددرانه نامه څښتن و.

# ملا فيض الله

ملا فيض الله د ملابابړ زوی اودخپل وخت عالم، مدرس اوپه عربي، پارسي او پښتو ژبو د تصنيفاتوڅښتن ، شاعراوپياوړی ليکوال اوپه احمدشاهي عصرکي دوخت واکمنانوته ددرناوي وړشخصيت و .ارواښاد عزيزالدين وکيلي پوپلزی ليکي چي لوی احمدشاه بابادخپل زوی تيمور (وروسته تيمورشاه ) دښووني روزني کاردخوتنوعالمانو، خطيبانو، اديبانو اومنشيانوپرغاړه اچولی و چي په دغه ډله کي ملافيض الله هم و. (۱) نوموړي داشرف الوزرا وزيرشاه وليخان باميزي دکورنۍ استادهم واووزيرورته په درنه سترگه کتل. دهمدغه ارادت اغېزه به وه چي دملافيض الله کورنۍ ته دکندهارښاردباميزوپه کوڅه کي زړې جامع (۲)ته نږدې داستوگنې له پاره ځای ورکړه سوی و اوکورونه يې دنوموړي وزيردکورجنوبي خواته پراته و(۳) .

په همدغه وخت کي دکندهارپه احمدشاهي ښارکي دميافقيرالله

---

(۱ ) وکيلي عزيزالدين ـ تيمورشاه دراني ـ ۴۰ مخ ـ کابل ۱۳۴۶ش

(۲ ) زړه جامع د عزيزالدين وکيلي په قول د احمدشاهي کندهار لومړنی مسجد دئ چي په ۱۱۷۲ق کال ودان سوی دئ . ( تاريخ خرقهٔ شريفهٔ قندهار ـ ۳۴ مخ ـ ۱۳۶۷ ـ کابل ـ دوهم چاپ ) . داچي نوموړی ليکي کندهاريان دغه مسجد ته « زاړه مسجد » يا « موی مبارك » وايي ، دتامل وړ ده . کندهاريان دغه مسجد ته « زړه جامع » او دپوښلي چارسو جامع ته « موی مبارك » وايي .

(۳ ) دغه کورونه دکندهارښاردکابل دروازې دشمالي کلاقصيل اوباميزوکوڅې تقاطع ته څرمه داحمدشاهي کلالوېديځ لورته پراته دي چي ددې کرښېودليکلوتروخته لاپرخپل حال ولاړدي . دکلادهمدې برخي په ښېخ کي يواړودقبرستنه چي زيارت هم پرجوړدئ. محلي خلك دغه زيارت شهيدبابابولي.

جلال آبادي ثم الشکارپوري ( ۱۱۹۵ ق مړ ) ديوه خليفه ، ملافرح الدين اخوند ( ۱۱۵۹ ... ۱۲۴۱ ق ) دعرفان وسلوك مرکزفعال و .دهمدې مرکزله لاري دکندهاري علماوو اونومورې مياصاحب (رح) ترمنځ علمي وعرفاني رابطه ټينګېدله اودخداى نازولو دمياصاحب له عرفاني مکتب سره دپېژندګلوى اوپيروى له لاري ترې فيضونه اوچتول (۱) . ملافيض الله کاکړ هم ددغه تصوفي مرکزله پېشوا، ميافقيرالله صاحب سره علمي وعرفاني اړيکي درلودل اويوبل ته يې ليکونه لېږل .

دملا فيض الله کاکړ په آثاروکي يوه عربي رساله سته چي دخپل زوى حبيب الله له پاره يې په منطقوکي کښلې ده .دبلې رسالې نوم يې تحقيق التوبه دئ اودغه رازيې پرتجويد هم يوکتاب تاليف کړى دئ . ددغواثاروخطي نسخې دکابل په ملي ارشيف کي خوندي وې . دحاجي عبدالمجيدهوتك په قلمي کتابوکي دملافيض الله يواثرخوندي و اوس يې زماڅخه نوم هېردئ خوپه هغه شعرکي مي يادونه کړې چي دهمدې قلمي کتابودضايع کېدلوپروخت مي ويلى و (۲) .

ملا فيض الله شعر هم وايه . په پښتانه شعراء لومړي ټوك کي يې دغه پښتوشعرخوندي دئ :

(۱) ملافرح الدين اخوندپه کندهارکي دنقشبنديه طريقې لوى مرشدو. په پښتوژبه يې يو اثر د تعدادالکبايرپه نامه کښلى دئ چي چاپ سوى هم دئ.

(۲) دشعرنوم (زړې پاڼې) دئ اودسرخوبيته به يې دلته راوړم.

زموږپه کورکي زماله تره سره يوخوږې نسخې وې
نسخې نه وې ، مرغلري وې، عقيق وه درداني وې

( دشعر پاته برخه دراتلونکي مخ په حاشيه کي ولولئ )



که دعشق لـه کړه خلاص شوم    زه به نذر کانــــدم غړى
دعشق اور هسي ستي کـړم    لکه پنډه او سپين خـــړى
د پت مـــــزي سره غړم    بيرته اوم دعشق پـــه تاوشي
که هرڅـــوپرېږ وي غښتلى    بيرته شي هغه اومـــړى
ورك يم ستاپـــه مينه گوره    لاس را اوړدکـړه چي ولاړ شم
ماپه دواړه کـــونه ستادئ    پــه رشتيانيولى پــړى
په اوربل چي دي ســورتيك شو    زمـــاپه زړه د اورسکروټه
په ټټردي لـــــونګين دئ    زمادمـــــرګ پيغام راوړى
فيض الله پـــر تا مين يم    تا ايستلى لــــه وطن يم
په کوګل کښې مي سور اوردئ    تالــــه ميني رابل کــړى *

( دتېر مخ دحاشيې پاته برخه )

د حبو دعـــلم نخښې دقاضي غـــلام دفترو
داحـــمدپاچا دېوان ودقاضي يې رســالې وې
تصنيفونه د خـــروټي عبدالحق وفـــرح الدين وو
بل دميافقيرالله صـــاحب دليك خـــونښانې وې
دکاکړملافيض الله اخوند اثرېکښې خـــونـــدي و
دشاعرملاشمس الدين دېوان شعرونه اوقـــطعې وې
دزړې جـــــامع دپاڼوفيض هـــم ور رسېدلى
غريبك په درافشانوګـــوتوکښلې پرحـــاشيې وې
دپښتوودفـــــارسي وعـــربي درنـــاياب وو
ناياب څه چي ورته نړې د نړى کتب خانې وې ( الخ )

داکتابونه له سلهاوو ټوکو نورو چاپي نوادرو سره تر۱۳۶۴ش کال پورې په کندهارکي زماله اکا حاجي عبدالمجيد هوتك سره وو په همدې کال دکندهارامنيتي حالات ګډوډ سول او کتابونه يې کابل ته رانقل کړل . په کابل کي دکتابوديوسرداګرملاسعدالله له خواوپېرودل سول اولمغوتي پاکستان ته يووړل سول اوهوري ترې تم سول (جوزا۱۳۶۴ش ) .

* دپښتانه شعرا لومړى ټوك د پښتو ادبي مرکز پاکستان له خوا هم په يوځه بدلون سره چاپ سوى دئ دا شعر ما له هماغه چاپ ( سراى نورنګ بنون ـ ۱۹۸۴ ) څخه رانقل کړ .

# علامه حبیب الله کندهاری ( حبو اخندزاده )


د ملافیض الله زوی علامه حبیب الله په معقولو او منقولو علوموکي د دتبحردرجې ته رسېدلی و. دعلم وفضیلت انګازې تر هیواد دباندي ملکونو (ایران، هند اوحجاز ) ته رسېدلي وې اوپه بهرکي یې دپوهانو له خواد (محقق کندهاري )، (فاضل کندهاري ) لقبونه ګټلي وو. دخپل هیواد په علمي حلقوکي په (حبواخندزاده ) باندي مشهوررو. سردارغلام محمدخان طرزي دعلامه حبیب الله علمي مقام داسي ستایلی دئ :

آنکه چون وی عالمی کم دیدچشم روزګار
ګــــرچه ګردیده بسی اندر بیابان طلب
مظهرتـــــــقوی ودانش منبع علم وعمل
معدن فضل وهنرکان عـلوم مکتسب( ۱ )

نوموړی د۱۲۱۳ هـ ق کال دکندهاربنادبامیزوپه کوڅه کي پیداسو. لومړنی زده کړي یې دخپل فاضل پلارترلارښوني لاندي دکورنی له غوړڅخه وکړې . په ځواني کي یې دخپل عصرمروج علوم (صرف، نحو، بلاغت، تفسیر، حدیث، فقه، اخلاقیات ) ولوستل پردې سربېره یې په ریاضي اونجوم کي هم ژوري مطالعې وکړې . دعلامه حبیب الله کندهاري په استادانوکي ددوتنونومونه یادسوي دي ، یوداحمـــــدشاهي کندهارقاضي القضات ملا احمد

---

( ۱ ) بشیر شعر دهمدې لیکني په ۳۱ مخ کي ولولئ .



زړه جامع

مرکزي دالان او دباندني محراب یې

الکوزی(۱) اوبل ملافرح الدین اخند . ملافرح الدین اخند یې پراستادی سربېره، روحاني مرشدهم و

دعلامه حبیب الله دژوند زمانه پرکندهاربانديږ د کندهاري وروڼو (کهندل خان ....) دواکمنی له وخت سره برابره ده . په کندهاري وروڼوکي که دسردارکهندل خان له مستبدي واکمنی څخه سرتېکول سوی دئ (۲) خوددوه وروڼه سردارپردل خان اوسردارمهردل خان مشرقي علم دوست اوفرهنگپال شخصیتونه وو. سردارپردل خان دپښتواوفارسي ژبي شاعروااوپه طريقت کي دحضرت جي بابا(رح) مریدو(۳). سردارپردل خان له مولوي حبیب الله سره ډېرښه اړیکي درلودل او په درنه سترگه یې ورته کتل . په یوه لیک کي یې چي د ۱۲۶۴ ق کال نېټه لري ،د « فضیلت پناه » په لقب یادکړی دئ .(۴) . سردارمهردل خان مشرقي چي د پښتواوفارسي ژبوشاعر،لیکوال اوفرهنگپال سړی و او په


---

( ۱ ) ملا احمد الکوزی دکندهاري ملااسماعیل ابدالي زوی داحمدشاهي عصر لوی عالم او مشهور قاضي و . دکندهار په ښارکي اوسېدی . پر محضر یې فاضلان او عالمان راغونډ وو . په تالیفاتو کي یې د تعلیم السلوك ، کاشفه ، رسالهٔ فارقه ا بیان وافیه لطرایف الصوفیه او نور یادولای سو .

( ۲ ) وگورئ : دحاجي جمعه بارکزی دېوان ۱۷۴ مخ ـ ۱۳۶۰ـ کابل


( ۳ ) علامه محمودطرزي دخپل دانشمندپلار سردارغلام محمدطرزي ددېوان په سریزه کي لیکي چي ما له خپل محترم پلارڅخه په علم و کمال کي دده د دومره بریالیتوب وجه وپوښتل او نوموړي په جواب کي دخپلي مور له خولې رانه وویل چي دا دهغې دوعا برکت دئ چي « عم کبیر » سردارپردل خان مرحوم چي په ظاهر وباطن کي د معرفت څښتن اودقطب زمان میان حضرت جی صاحب یو باکمال مرید و، دده په حق کي کړې وه . ( وگورئ : دېوان جناب طرزی صاحب ـ ص ۱۶ ـ چاپ ۱۳۰۹ ) له دې څخه دسردار پردل خان دعلمي و عرفاني شخصیت اټکل کېدلای سي . سردارغلام محمدطرزي درحمدل خان زوی اودپردل خان وراره و .

( ۴ ) دالیك زماسره خوندي دئ . فوتوکاپي مې يووخت استاد رشادصاحب ته هم ورکړې وه . دلیك دعین متن کاپي دهمدې لیکني په ۱۴ مخ کي چاپ سوې ده .



زړه جامع

داجامع دکندهارښاردبامیزوپه کوڅه کي واقع او دوزیرشاولي خان بامیزی په لاس په ۱۱۷۲ ق کال ودانه سوې ده .





کندهارکي دده کورديوه ادبي انجمن شکل درلود ،علامه حبيب الله کندهاري ته ئې ارادت درلود اودرناوی يې کاوه .دخپلې کورنی دغږواستادپه توګه يې ترې علمي استفاده کوله . علامه حبيب الله دنوموړي سردارپه غوښتنه دحديثوپه باب يوکتاب کښلئ دئ چې نقدالثقات .... نوميږي .

لکه وړاندي چې وويل سوه علامه حبيب الله کندهاري د منقولو او معقولو علومو متبحر استاد و . زموږ په ګران هيواد تاريخي افغانستان کي تر چنګيزي تاړاک وړاندي د ساسانيانو ، غزنويانو او غوريانو په دورو کي د هرات ، بلخ ، بست ، زرنج ، غزني و باميان دعلمي مدرسو په تدريسي نصاب کي دمعقولو علومو لکه رياضي ، نجوم ، هيات ، فلسفه او منطق تدريس شامل و . خو تر چنګيزي تاړاک وروسته داتول ښکلي ښارونه او علمي مدرسې له خاوروسره برابري سوې . تر دې وروسته که زموږ په وياړلي خاوره کي دپوهې او معرفت ډيوې روښانه سوي دي ، نو علماوو او دانشمندانو يوازي دمنقولوعلومولکه تفسير، حديث او فقه زدکړي او تدريس ته زياته پاملرنه کړې ده . دمعقولو علومو هغه څراغ چې د علامه البيروني او ابن سينای بلخي له خوا پر دې تاريخي خاوره روښانه سوي و، نوره روڼا نه درلوده . له بلې خوا په شپاړسمه او اوولسمه عيسوي پېړۍ کي دهرات دتيموريانوتر سقوط وروسته زموږ دسيمي خلګ دهند دمغولي اودپارس د صفوي دولت پر ضد دخپلواکۍ ګټني په مبارزو بوخت دي . ددې مبارزو لومړی ارمغان په کندهار دملي قايدحاجي ميرويس خان په مشرۍ دپردیو له تسلط څخه يو خپلواک اوملي دولت جوړېدل و .

دلوی احمدشاه بابا په مبارك لاس چي دواحد او يوموتي افغانستان تاداو کښېښول سو ، نو دعلم او پوهي دمشال دبيا لګېدو له پاره مجال پيداسوخو علماوو مو په تدريسي نصاب کي کوم ديادوني وړ انکشاف رانه ووست او دپخواپه شان دمنقولوعلومود زده کړي پر محور يې خپلي علمي هڅي متمرکزي کړي وې . په دغه وخت کي يوازني شخص چي دهغه وخت دمحيطي قيودو له چوکاټه يې ځان راويوست ، علامه حبيب الله کندهاري و چي د معقولو علومو په رواجولوسره يې د علامه ابوريحان البيروني او ابن سيناى بلخي دوخت علمي هنګامه بيا له سره توده کړه .او لکه ددې بحث په سرکي چي مو وويل دهمدې عالي هدف دترلاسه کولو په نيامت يې هند وايران و حجاز ته سفرونه وکړل او ډك لاس ترې راستون سو. علامه فاضل کندهاري په رياضي ، هندسه او منطق کي داسي شاهکارونه وليکل چي لوى استاد علامه حبيبي مرحوم يې داروپا د شپاړسمي پېړى د علماوو فرانسس بېکن او رنــه ديکارت ( ۱ ) له علمي اکتشافاتو سره ورته ګڼي . علامه فاضل کندهاري خپلو شاګردانو ته توصيه کوله چي « هغه علم ته په بده سترګه مه ګورئ چي په ژوندکي ترې چاره نسته . طب ، حساب ، نجوم اوهندسه زده کړئ ځکه چي دژوندتاداو پرهمدې علومو ولاړ دئ » ( ۲ )

علامه حبيب الله په عربي ، فارسي اوپښتو کي زيات کتابونه تاليف کړي دي چي شمېريې تردېرشواوړي .په همدغو

---

( ۱ ) فرانسيس بېکن ( ۱۵۶۱ ـ ۱۶۲۶ ع ) دانګلستان مشهور فيلسوف او رنه ديــــــکارت ( ۱۵۹۶ ـ ۱۶۵۰ ع ) دفرانسي معروف ساينس پوه او فيلسوف و .


( ۲ ) آريانا مجله ـ د ۱۳۴۵ کال دحوت ګڼه

دریو ژبو یې شعر هم وایه .زمادمعلوماتوله مخي دکندهارپه شخصي کتابخانوکي داسي یوه نه وه چي دعلامه حبواخونزاده تالیفات دي یې خوندي کړي نه وي. دکندهاري سلیمي په خطي کلکسیون ، دمرحوم دوست محمدبړیځ په خطي مجموعه، دحاجي عبدالمجیدهوتك په خطي کتابو، دمرحوم غریبك په خطي گنجینه کي دفاضل استادپوهاند رشاد په خطي زېرمه اوزمادکتابوپه خطي کلکسیون کي دحبواخونزاده آثارسته . دغه رازدحیدرآباد دکن، پېښور اودافغانستان په ملي آرشیف کي هم .

دده دآثارودشمېر اونومونوپه باب رازراز روایتونه سته . دتالیفاتو نومونه یې سره اوښتي دي اودچاپي تېروتنو له امله دکتابو په نومو کي بدلونونه راغلي دي .په دې برخه کي زما دهمدې څېړني په گډون د زیاترو لیکنو ماخذ دارواښادعلامه حبیبي هغه تفصیلي بیان دئ چي د ۱۳۴۵ ش کال د ( آریانا ) په مجله کي خپور سوی دئ .زما سره همدا گڼې دآریانا هماغه مجله نسته خو د علامه مرحوم د لیکني یو نقل راسره سته چي د ښاغلي محمد وزیرکرخی هروی په ښکلي نستعلیق خط لیکل سوی دئ .( ۱ ) په

---

( ۱ ) ښاغلي محمدوزیرهروی د ( یادی ازدانشمندمورخ نامور افغانستان مرحوم پوهاند عبدالحی حبیبی قندهاری ) تر نامه لاندي په ۹۷ مخونوکي دمقالویوه نفیسه مجموعه پخپل خط دکاناډا د انتاریو ایالت دلندن په ښارکي د ۲۰۰۱ م کال په مارچ کي خپره کړې ده . په دې نسخه کي د اروانباد سیدقاسم رشتیا ، ښاغلي عبدالرشید بینش او جناب ډاکترعنایب الله شهرانی مقالې چي ترلي د علامه حبیبي مرحوم په یاد لیکل سوي دي ، خوندي دي . ددغې نسخې یوه کاپي ماته زما ډېر محترم دوست ښاغلي الحاج محمد آصف پاس یوسفي صاحب دلوستلولپاره راکړه چي ممنون یې یم . زماپه همدې لیکنه کي که درانه لوستونکي دعلامه حبیبي مرحوم پر بې حوالې نقل قولونو پېښ سي ، باید پوه وي چي دا نقل قولونه له هغې مقالې رانقل سوي دي چي د۱۳۴۵ کال په حوت کي دکابل دتاریخ انجمن د ( آریانا ) مجلې په یوه گڼه کي خپره سوې ده .



رسالة تصورات

دعلامه حبیب الله کندهاري تالیف

لومړی مخ

دغه لیکنه کي دعلامه حبیب الله کندهاري مشهورپه ( فاضل کندهاري ) آثار داسي معرفي سوي دي :

۱ـ شوارق ـ (په عربي ژبه ) په علم حدیث کي .

۲ـ "رساله تفکر" (په فارسي ژبه ) موضوع يې اخلاق وعرفان دئ

۳ـ "رساله نمازواسرارآن" (په فارسي ژبه ) په دې کتاب کي دلمانځه داسرارو په باب دمنقولواومعقولو علوموله مخي بحث سوی دئ.

۴ ـ موعظې اوخطبې (فارسي اوعربي )

۵ ـ "رساله صبروشکر" (فارسي ) په اخلاق کي .

۶ ـ "رساله محبت الهی" (فارسي ) په تصوف واخلاق کي

۷ ـ "رساله تمیزمومن وکافر" (فارسي ) وايي چي دادځینوتنګ نظرو متفکرانوپه باب یوه دیني اوکلامي څېړنه ده .

۸ ـ "تواریخ وفیات مشاهیراسلامی درقرون ثلاثه" (فارسي )

۹ ـ "شمه بارقه" (فارسي ) دوحدت الوجود اووحدت الشهود په باب . داکتاب شپږ فصله لري او څېړنه يې دقدرور بلله سوې ده .

۱۰ ـ "چهل مساله دیني" (فارسي ) دملامحمداعظم اندړدسوالونوپه ځواب کي . دملي ارشیف په خطي نسخوکي د (جواب فاضل ) په نامه یوه رساله سته چي ملاحبیب الله قندهاري په قلم دمحمداعظم غزنوي په جواب کي کښل سوې ده چي غالباً به همدا رساله وي .

۱۱ـ "احکام المله فی احکام اهل القبله" (عربي ) دامام غزالي رح پر (محصل فیصل التفرقه ) باندي نوي څېړني اوزیاتوني دئ.

۱۲ـ "مغتنم الحصول فی علم الاصول" (عربي ) دېرمهم اثردئ

اوپه هغه کي اصول فقه ته انتقادي کتنه سوي ده . علامه حبيبي مرحوم وايي « ... داکتاب په صايب اجتهادي نظر تاليف سوی چي د بشپړېدو کال يې ۱۲۵۷ ق دئ . يوه سريزه او په مبادی او اصول اربعه کي درې مقالې لري ... دهند علماووخپلوعالي مدرسوپه درسي نصاب کي دعلامه محب الله بهاري د ( مسلم الثبوت ) پر ځای منلی دئ » او زياتوي« مادپېښوردرفيع الاسلام په کتب خانه کي له مولاناسيد صمداني سره د مولانا سيد انورشاه کشميري په قلم يوه شرحه وليدله چي دمغتنم دخطي نسخود پيداکولواودهغه دتدريس توصيه پکښې سوې وه » . پرمغتنم باندي دهرات ملامحمدعمرسلجوقي ( ۱۳۳۱ ق وفات ) د ( الملهم برمغتنم ) په نامه يوه شرحه کښلې ده . ( ۱ )

۱۳ـ "انموذج العلوم" ( ۲ ) په دې کتاب کي د محقق دوانی ، ميرزاحبيب الله شيرازی او خواجه افضل ترکی درې گوني نماذج راغونډ سوي او د متقدمينو پرافکارو يې خپلې څېړني او مطالعات ور زيات کړي دي .

۱۴ "رساله مغالطات" دا رساله په منطق کي دځينو مشهورو او غيرمشهورو مغالطاتوکره کتنه ده اودهغو جوابونه يې ويلي دي . علامه حبيبي ليکي چي « دمتقدمينو اومتاخرينو نظريات يې په آزاده توگه تحليل کړي ، ځيني يې سره سمي کړي اوځيني په

( ۱ ) په مرارات هرات ۱۸۹ مخ کي دا اثر ( ملهم الاصول ) بلل سوی دئ . دملامحمدعمرسلجوقي نور آثار شرح فارسي کافيه ، حاشيه برايساغوجی ، ردالروافض ، حاشيه برغلام يحی بهاری او نوردي .

( ۲ ) انموذج په عربي کي د ( نمونې او بېلگې ) په معنا راځي او په پارسي کي يې معنا ( لږ = اندك ) ده . ( غياث ) جمع يې نماذج ده . انموذج العلوم دعلومولنډيز بايد ترجمه سي .



مرات الحق

دعلامه حبيب الله کندهاري تاليف

لومړی مخ

ټینګه جرحه کړې او انتقاد کړي دي »

۱۵ـ " ابانه الملة فی التوقف عن تکفیراهل القبله" (عربي) څلورفصله لري . موضوع یې فقه ـ عقاید اوکلام دئ . وایي چي ددې کتاب له مطالعې څخه دمولف پراخ نظراوکامل تبحرڅرګندیږي . دااثریې په فارسي هم لیکلی دئ .

۱۶ـ "مرآت الحق" (عربي) اووه فصله لري اوپه ۱۲۶۲ ق کې تالیف کړی دئ .

۱۷ـ "وحدت وجوداوشهود" (پارسي) دملا محمداعظم اندړ دپوښتنوپه جواب کې . وایي ددې کتاب له لوستلو څخه څوك په تصوف او اشراق کې دمولف تبحر خورانبه لیدلای سي . (۱)

۱۸ـ "مستحق القبول والقبله فی تحقیق سمت القبله" (پارسي) دقبلې دښوولوپه برخه کې دفقه اوریاضي دلایلو پراساس معلومات دي چي په پنځو فصلونوکي راغونډ سوي دي .مولف غوښتي دي په دیني دلایلو ثابته کړي چي دقبلې دمعلومولولپاره باید له هندسي اصولوڅخه کارواخیستل سي .علامه حبیبي مرحوم ددغه کتاب خطي نسخه کتلې وه اودغه استنتاجی روایت یې ځني رانقل کړی دئ « هندسه شرعي علم نه دئ یعني له شرع سره کارنلري اوداخبره په دې معنی باید ونه ګڼل سي چي د اړتیاپه ځای کې له هندسي قانون سره سم عمل کول دي منعه وي . طب ، حساب اونجوم هم شرعي علم نه دئ خوداړتیاپه وخت کې په هریوه عمل

(۱) اشراق په لغت کې ځلېدلو ته وایي . ترلمرختو وروسته وخت ته هم اشراق ویل کېږي . اشراقیین هغو حکماړو ته ویل کېدل چي دزیات ریاضت له امله یې په خپل باطن کې روښنایې او اشراق موندلی و. افلاتون و بقراط د اشراقیینو له ډلي ګڼل سوي دي . (غیاث)

کول ضروري دي .داسلام په لومړیو وختوکي په هندسه باندي څکه عمل نه کېده ، چي په هغه وخت کي دغه علم نه و . خودمامون عباسي له وخته بیاترننه پوري دغه علم په اهل اسلام کي پوره رواج موندلی او زیاترو محققینوپوهانو اومدققینوفاضلانو دهغه په هرفن کي له اقلیدس څخه نیولې بیاد مجسطی ترفن پوري گټور تصنیفونه کړي دي ... په هغوښاروکي چي معتبره مهندسین زیات وي باید دهغویه قول ضرورعمل وسي » .

۱۹ ــ "رساله موسیقي"(پارسي) دعلوموپه پخواني تصنیف کي دموسیقي علم دریاضي یوه څانگه ده . وایي چي «دفیثاغورث د فلسفې له مخي دنغمویه تولیدکي دړغونوترکیب دعددي تناسبونو تابع دئ . علامه فاضل کندهاري په رسالۀ موسیقي کي ددغه علم اصول له ریاضي فورمولوسره سم بیان کړي او له شرعي نقطۀ نظره یې ددغه علم پر رواتوب و نارواتوب ( جاز ولایجوز ) بحث کړی دئ . ددې رسالې اهمیت په اوس وخت کي خورا زیات دئ . کاشکي یې مطالعه موږته میسره وای .

۲۰ــ "تنقیح التهافت الفلاسفه" (عربي) علامه حبیبي مرحوم لیکي چي په دې کتاب کي یې د امام غزالي رح ( متوفی ۵۰۵ ق ) او ابن ارشد اندلسی او خواجه زادۀ رومی ( متوفی ۸۹۳ ق ) په فلسفي مناظروکي دانصاف په رعایت اوآزادفکرسره حکمیت کړی اوپه څینوبرخوکي یې خپل نظر د دلیل وبرهان په راوړلوسره بیان کړی دئ .

۲۱ـ پرالغ بېگي زیج باندي نوې څېړنه اوحاشیه (پارسي). الغ بیگي زیج دهیات یوډېرمشهور کتاب دئ . علامـــــــه فاضل



کندهاري پرهغه باندي گټوري حاشیې کښلي او هغه خاص مسایل یې ورباندي زیات کړي دي چي ده خپله کشف کړي وو .(۱) دښاغلي داکترعنایت الله شهراني په قول دغه اثرله ترکي ژبي څخه ترجمه سوی دئ.(۲)یوه نسخه یې په کابل موزیم کي سته .

۲۲ـ "شرح نمط تاسع اشارات ابن سینا ( عربی )

۲۳ـ "بسط البسایط"(عربي) دمنطقوپرڅینومباحثوباندي شرحه

۲۴ـ "منتخب تحریر اقلیدس" (عربي) (۳)

۲۵ـ د تحریراقلیدس پارسي ترجمه

۲۶ـ د اکرثاوذوسیوس ترجمه

۲۷ـ "مختصرکشف القناع عن احکام شکل القطاع " دا اثر دخواجه نصیر طوسی دیوه تالیف لنډیزدئ

۲۷ـ "ریاضي المهندسین

داکتاب دعلامه فاضل کندهاری یو علمي شاهکاردئ چي په عربي اوپارسي دواړو ژبو په همدې نامه لیکل سوی دئ . د مخونو شمېر یې پرغټ کاغذ باندي یوزر و پنځو سووته رسېږي او « دهغه وخت دریاضی علومواناسایکلوپیدي »بلل سوی دئ . ددې کتاب دوي نسخې دعلامه حبیبي مرحوم له خولې موږته ښوول

---

( ۱ ) زیج د ( زیک ) معرب ، او د نجوم او هیات په اصولو او احکاموکي هغه علم دئ چي له هغه څخه تقویم استخراجیږي . ( غیاث )


( ۲ ) جریده لمرـ شماره ۱۹ سال دوم ثور ۱۳۸۰ می ۲۰۰۱ چاپ تورنتوـ کاناډا

( ۳ ) اقلیدس ( دلوړي په پېښ او دلام و دال په زبر ) د نرقطرس زوی او د برینقس لمسی مشهور او متبحر فیلسوف . ریاضي پوه او منجم دئ چي په همدې نامه یې په هندسه کي یوکتاب هم تالیف کړی دئ ... اقلیدس په ۳۲۳ ق م کي زېږېدلی او په ۲۸۳ ق م کي مړ سوی دئ . اقلیدس په اسکندریه کي اوسېدئ ( لغتنامۀ دهخدا )

سوي دي چي وايي يوه يې « د ۱۳۰۰ ق په شاوخواکي له کندهاره هند ته وړل سوې اومعلومه نه ده چي اوس چېرې ده ؟ » بله نسخه يې چي خيني برخي يې نيمګړي وې اوعلامه مرحوم استفاده ترې کړې ده ، د « کابل د ادبياتو په پوهنځي کي » خوندي وه (۱) چي دهمدې نسخې له مخي يې په خپله ليکنه کي موږته معرفي کړې ده . وايي چي علامه فاضل کندهاري خپل دغه اثر ( رياض المهندسين ) دعمر په پاى كي كښلى دئ . دا اثرشپږ روضې لري او هره روضه يې د رياضي بېلابېل مبحثونه څېړي . لومړۍ روضه يې د اقليدس د صوري هندسي داصولو ترجمه ، د ( اکر ثاو ذوسيوس ) او ( اكرمانالاوس ) دكتابونو ژباړي دي ، دوهمه روضه يې دحساب دعلم قواعد بيانوي ، دريمه يې دحساب اوهندسي دعلم توابع څېړي ، څلرمه روضه د « علم الابصار » په باب بيانونه لري ، پنځمه بيادعلم هيات په باره كي رڼغېږي اوشپږمه د زيج او تقويم مسايل په بركي نيسي .علامه حبيبي مرحوم ليكي چي « د محقق قندهارى په ټولو هغو كتابوكي چي په رياضي علوموكي يې كښلي دي ، داټكى په څرګنده توګه ليدل كېږي چي ده هغه قيود اوحدود چي علماء له كلونو كلونو راهيسي پكښې محصور وو ، مات كړي اودرياضي مسالوپه كشف اوتحقيق كي يې له اجتهادي نظره كاركړى اونوي علمي كشفيات يې كړي دي » . علامه حبيبي مرحوم دهندسي او رياضي علومو د

---

( ۱ ) ما ( هوتك ) ته څرګنده نه ده چي دانسخه دپوهنتون دکتابونوله وروستي تاراج څخه خوندي پاته سوې ده که څرنګه ؟


یا فتاح

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله خالق السموات والارض وجاعل الظلمات والنور
ومقدر الخیرات والشرور الذی بیده مقالید الامور
وبمشیته تستنیر القلوب وتنشرح الصدور نور
قلوب اولیائه فظهر بدر الحق لهم فی الدیجور واشرق
علیهم صبح الیقین اشراق نور انه من جانب الطور
وحجب بواطن اعدائه فاصبحوا حیاری فی تیه الغفلة
والغرور فی تقلب والسلام علی رسوله الهادی الی
سواء الصراط والناهی عن ظلام الشرک والفسق والفجور
بالبرهان الباهر والبیان الظاهر غایة الظهور وعلی آله
واصحابه الذین لم تغرهم الحیوة الدنیا ولم یغرهم بالله
الغرور وعلی التابعین لهم باحسان ما توالت الاعوام
والشهور وتتالت العصور والدهور اما بعد
از ادای شمه از محامد الهی و اهدای هدیه صلوات بحضرت رسالت
پناهی بر ضمایر اصحاب نظره و نقاده و سرایر ارباب فکرت نقاده

... من افق الوضوح والظهور

[illegible]

ځېړنو په برخه کي دفرانسوي عالم دکارت او علامه فاضل کندهاري د ځېړنو تر منځ مشابهتونه موندلي دي او ليکي چي که دمحقق کندهاري دغه آثار چي « دخطي نسخوپه شکل هم زموږ په هيواد اوهم دپښتونخوا و هند وپاکستان په موزيمونو او کتب خانوکي ليدل سوي دي ، راغونډ سي اودرياضي پوهانو له خوا وځېړل سي ، ښايي دعلامه استاد فاضل کندهاري دمهارت اندازه ښه ترا ځرګنده او روښانه سي . »

۲۸ــ "شرح مقامات حريري" (پارسي)

۲۹ ... "نقدالثقات فی التزييف الموضوعات" داکتاب يې داحاديثو په تخريج کي دسردارمهردل خان مشرقي په غوښتنه کښلی دئ .

۳۰ــ رسالهٔ غرور . دارساله د « اقسام و محاری و آفات غرور » په نامه هم بلل سوي ده . يوه نسخه يې ما ( هوتك ) د کندهاري سليمي په خطي کتابو کي ليدلې وه چي د کندهار د زړي جامع د ملاعبدالاحدکاکړ غريبك په قلم ياداښتونه پر ليکل سوي او د نوموړي ملا صاحب دوه مهره ورباندي لګېدلي وه . دا نسخه د ارواښاد علامه حبيبي تر نظر هم تېره سوې او د کتاب پر لومړي مخ يې پخپل خط او لاسليك دغه ياداښت کښلی و:

« رسالهٔ غرور يکی از تاليفات محقق قندهاری علامه حبيب الله مشهور به حبو اخندزاده است ، که عين همين رساله درمجموعهٔ رسايل بخط خود وی موجود است نزد عبدالحی حبيبی درکابل .

گمان ميرود که اين رساله را از همان اصل نقل گرفته باشند و بعد ازنوشتن مکررا با اصل مقابله شده .

برحواشی دوسه جای خط مولوی عبدالروف قندهاری نواسهٔ مولف موجود است درمعنی اکباب و غمار ، و معلوم است این نسخه بملاحظهٔ آن مرحوم هم رسیده است .

عبدالحی حبیبی

کابل . جمال مینه ۹ جوزا ـ ۱۳۴۲ »

۳۳ ـ "منهاج العابدین" (پښتو) په اخلاق وعرفان کي ۷۰۰۰ بیته دامام غزالي دمنهاج العابدین ترجمه

د پښتومنهاج العابدین اهمیت دملاعبدالباقي افغان له دي بیتوڅخه ښه ښکاري :

دوه کتابه په پښتوکي چي اخــــلاق د مبارك شو
سرتپایه جواهردي دحضرت له خـــــویه ډك شو
باغ پټي دي کل پرورکره یــــو «منهاج العابدین»
سره وسپین دي پرنشارکره بل «اسرارالعارفین» (۱)
حیراني ودې سړي ته چي پښتون هــــم امتي وي
زړه وخونه ولاسونې، له دې دووګنجوخالي وي (۲)

۳۲ـ لسان المیزان في تقویم الاذهان . ( عربي ) داکتاب دمنطق په څېړنه او انتقاد کي لیکل سوی او په پنځوسوو مخونوکي یې دهند و پارس دعلماوو له کتابوڅخه د « تصوراتو مبحثونه » راغونډ کړي دي ، یوه سریزه او نهه مبحثه لري . وایي چي ځینو

( ۱ ) اسرارالعارفین دامام غزالي رح اثر دئ چي ملاشیرمحمد هوتك کندهاري په پښتو نظم دمثنوي په قالب کي اړولی اوپه ۱۳۲۶ هـ ق کال دلاهورپه اسلامیه مطبع کي چاپ سوی دئ . ملاشیرمحمد هوتك د لوی احمدشاه بابادشرعي مشاورملاشاهو ( ملقب په ملاارادت ) زوی و .

( ۲ ) افغان ـ ملاعبدالباقي ـ تهذیب الواجبات لتخریب العادات ـ ۱۳۶ مخ ـ ۱۳۶۶ش چاپ



علماوو دغه کتاب د « تحافت منطقیان » په نامه هم بللی دئ . ددغه اثر یوه نسخه دادبیاتوپوهنځي په کتابتون کي خوندي وه .

۳۳ ـ ابجد التواریخ ( عربي ) موضوع یې داسلام تاریخ دئ ، پنځه سوه مخه لري او دلیکلوکال یې ۱۲۵۲هجري قمري دئ .

حبواخونزاده له خپلو معاصرو علماوو سره تل علمي او فرهنګي اړیکي ساتل.له دغومعاصرینوڅخه یې یوڅو تنه دغه لاندي اشخاص دي :

ملاپیرمحمد الکوزی د ملااحمدالکوزي (قاضي القضات) ورور. نوموړی د (عقیدت المشایخ ولعلما ) مولف دئ .

عبدالحکیم کاکړد ( ردحلیمیه عن مطاعن احمدیه ) مولف . دا عبدلحکیم کاکړبایدله لوی میاصاحب عبدالحکیم کاکړ (مشهورپه ناناصاحب) سره مغالطه نه سي

قاضي غلام هوتك .پرکندهارباندي دسردارکهندل خان دواکمنی په وخت کي دښار قاضی القضات او ارشادالحق مولف

ملا عبدالحق خروټی ( ۱۲۹۰ ق مړ ) دعبدالغفورخروټي زوی په دیارلسمه هجري پېړۍ کي د کندهار له جیدو علماوو څخه و. په آثارو کي یې د « یاقوت السیر » او « شرح اربعین » نوموړی یادولای سو . یاقوت السیر په ۱۳۶۷ ش کال دښاغلی سرمحقق زلمی هیوادمل له خوا ترتیب اوپه کابل کي خپور سوی دئ .

ملا کټه اخوند تره کی . ملا صاحب دخپل وخت مشهور مدرس عالم و .دتدریس حلقه یې د لوی احمدشاه بابا دزیارت په شمالي برخه کي په یومسجد کي فعاله وه . اصلي نوم یې غلام محی الدین او په قام تره کی و.

خان علوم قاضي عبدالرحمن . نوموړی دکندهار دعلومي کورنی غړی او دخان ملاقاضي محمد سعید بارکزي زوی کېدئ . دامیر محمدافضل خان او زوی یې امیر عبدالرحمن خان په درباروکي یې ښه پوره عزت درلود . علومي کورنۍ دکندهار یوه مشهوره کورنی وه او دقضا پېشه پکښې موروثي راغلې وه .

دخرقې شریفي ملا عبدالحق . داملاصاحب په قام علیزی و. د خپل وخت په علماوو کي یې د ( استادکل ) لقب درلود . دی د خرقې شریفي دمتولي ملا محمدصدیق الکوزی استاد و او نوموړي ورته د خرقې مبارکي دمسجد جامع دخطابت چاري د احترام او درناوي په منظور سپارلي وې . سیدجمال الدین افغاني له همدې امله د « ملاعبدالحق خرقه » په نامه یاد کـــړی دئ .
( ۱ ) ملاعبدالحق علیزی د اروابناد عبدالرووف بېنوا نیکه کېږي . ملا محمداعظم اندړ (دغزني دګیرو ) . وایي دې سړي په امرتسرکي داستوګني پروخت دملاعبدالله امرتسري په نامه ډېر کتابونه کښلي دي .

سلطان محمدخان خالص . نوموړی دامیرشیرعلیخان په وخت کي دکندهار له مشهورو قومي مشرانو څخه و چي دخانی پر څنګ یې د پوهي برخه هم درلوده . په تاریخ کي دپراخي مطالعې څښتن و ، پارسي شعر یې هم وایه دېوان یې درلود. تاریخ سلطاني یې چاپ سوی اثردئ . ( ۱۲۹۸ ق ) دمیوندپه تاریخي غزاکي یې برخه اخیسته وه . ( ۲ )

ملامحمدنور دملامحمدحسن توخي زوی دجامع السلوك مولف .نوموړی د

( ۱ ) وګورئ : دهمدې اثر۲۶ مخ . ( ۲ ) وګورئ : په « میوند دافغانستان دتاریخ ځلی » کي دلیکونکي مقاله « ویاړونه او میوندونه » .



میافقیرالله جلاال ابادي شاګرد و .

حبو اخونزاده په ۱۲۶۵ هـ ق کال وفات سو( ۱ )او په کندهارکي ددوی په پلرنی هدیره کي چي دعیدګاه مسجدختیځ لورته واقع ده ښخ دئ .( ۲ ) دکندهار ښار د ډنډ چوك په ختیځ کي دکندهار – هرات پر لویه لار پروت منځنی ښوونځی د « فاضل کندهاري » په نامه نومول سوی و .

دعلامه حبیبالله کندهاري تر پېژندني وروسته غواړم دده له پښتو کتاب منهاج العابدین څخه یوه برخه رانقل کړم چي همدابه یې دپښتو شعر دنمونې په توګه وګڼو .

پس له حمده لـــــه صلوته — واوره تـــــه نېکوصفاته
وایي تاتــــه دا فـــقیر — چي دئ ســــــراپاتقصیر
مــــــقصراو روسیاه دئ — که یې نــــوم حبیب الله دئ
چي زموږ شیخ دطویقت دئ — راهـــــنمادحقیقت دئ
مقتداد عــــام وخاص دئ — دمحیط بحرغــــواص دئ
داحسان د درج ګــــوهردئ — د عرفـــــان د برج اختردئ
دی مجـــــمع دئ دبحرین — هم جامع دکـــــــمالین
ولایت یې احـــــمدي دئ — کـــــــرامت یې ابدي دئ
دارشادپه ملك کښې شاه دئ — دتلقین پـــــرفلك ماه دئ
پراسمان د شــــرع نمردئ — چي جـــهان پرې منوردئ
شمع دین نـــــورالیقین دئ — مولینا فــــــرح الدین دئ

( ۱ ) په « کندهار مشاهیر » ۱۷۳ مخ او د « آریانا » مجلې د ۱۳۴۵ کال دحوت په ګڼه کي دعلامه فاضل کندهاري دمړیني کال ۱۲۶۳ ق ښوول سوی دئ چي یوه تېروتنه ده اوسمېده غواړي .
( ۲ ) اوس دکندهار ښار عمومي عیدګاه په صوفي دښت کي جوړه سوې ده .

په اعمال د شریعت کښي ‌ ‌ په اشغال دطریقت کښي
هسي رنګه مستقیم دئ ‌ ‌ چي نظیرده عدیم دئ
دوایریې د ظلال ‌ ‌ قطع کړي په کمال
تېرله هرعکسه وظل دئ ‌ ‌ اصل الاصل ته واصل دئ
په هرنقش کله بنددئ ‌ ‌ جانشین د نقشبنددئ
ددې عصربایزیددئ ‌ ‌ په کمال فرید وحید دئ
طریقه یې سبحاني ده ‌ ‌ سلسله یې رحماني ده
له توحیده باده نوش دئ ‌ ‌ له تجریده خلعت پوش دئ
دتمکین مرکزیې ځای دئ ‌ ‌ دتفرید د اوج همای دئ
مکمل ظاهرباطن دئ ‌ ‌ هم کاین دئ هم باین دئ
دهغو میو ساقي دئ ‌ ‌ چي طرب یې تل باقي دئ
په تحقیق ددې موسم ‌ ‌ چي سلګون دئ دیارلسم
دی د شرع مجدد دئ ‌ ‌ هم د فقر محدد دئ
ربه ته یې فیوضات ‌ ‌ کړې دایم او برکات
دارشادظل یې پایدارکړې ‌ ‌ مریدان برخوردارکړې
د مخدوم نجیب فرزنددئ ‌ ‌ چي عزیزاوارجمنددئ
منزلت یې ډېررفیع دئ ‌ ‌ میان زاده محمدشفیع دئ
په سیرت دده شبیه دئ ‌ ‌ ولد سرلابیه دئ
چي محکم لري همت ‌ ‌ په ترویج د شریعت
ده داهسي اشارت کړ ‌ ‌ پرحقیریې بشارت کړ
چي منهاج العابدین دئ ‌ ‌ معتبرکتاب ددین دئ
په کښي علم د اخلاق دئ ‌ ‌ مشرف شیرین مذاق دئ
مصنف یې لوی امام دئ ‌ ‌ چي دی حجت الاسلام دئ



محمدغزالي ‌ ‌ چي رتبه یې ده عالي
رحمت الله علیه ‌ ‌ احسن الله الیه
په فارسي دئ داکتاب ‌ ‌ وعوامو ته دریاب
په پښتوکه داکتاب شي ‌ ‌ وسیله به دثواب شي
دافقیرهیچمدان ‌ ‌ که هرڅونلري توان
چي پرهسي کاراقدام کړي ‌ ‌ یاقیام پردامقام کړي
ولي بیاچي شه مامور ‌ ‌ ځان یې وشمیره معذور
ربه راکړې ته توفیق ‌ ‌ قوت راکړې دتحقیق
په حرمت دمخدومانو ‌ ‌ په عزت دمقبولانو

****

یادونه : په « پښتانه شعراء دوهم ټوك ۴۸۷ مخ »کي د مولوي عبدالمجید کاکړ ژوندلیك راغلی دئ . هورې داسي څرګنده سوې ده چي نوموړی مولوي دعلامه حبواخونزاده دکورنی غړی او دهغه شاګرد و . د « فرهنګ زبان و ادبیات پښتو» ښاغلي مولف هم د پښتانه شعراء دغه روایت اخیستی دئ او لیکلي یې دي چي « مولوی عبدالمجید کاکړ ...ازارکان خانوادهٔ علمی علامه حبیب الله کاکړ بود . » تذکره الشعراء چي د اروابښادسراج الدین سعید او اروابښادمولوي صالح محمد هوتك په ګډ زیار لیکل سوئ دئ ، دمولوي عبدالمجید کاکړ لنډه یادونه لري خو د علامه حبو اخونزاده له کورنی سره دهغه دنسبت خبره نه کوي اونه یې دشاګردی یادونه لري . زما دمعلوماتو له مخي د علامه حبو اخونزاده په زامنو کي د عبدالولی او عبدالمجید نومونه سته چي

عبدالمجید به غالباً هماغه مولوي عبدالمجید کاکړوي چې پښتانه شعراء یې یادونه کړې ده . نوموړی دعلامه حبیب الله کندهاري شاګرداودخپل وخت تکړه عالم اوفقیرمشربه سړی و . په ۱۲۲۶ ق کال په کندهار کې زېږېدلی دئ .په ۱۲۸۶ ق کال (۱) یې پښتو« سیرت نبوي » په پنځلس زرو بیتو کې کښلی دئ . دخپل وخت ښه خطاط هم و .

دکندهار په مشهورو کاکړو علماوو کې ماته بل شخص هم معلوم دئ چې دعلامه حبو اخونزاده له کورنۍ سره دخپلوۍ لاري خپلوي لري او هغه ملاعبدالباقي افغان( ۱۳۴۴ ق مړ ) دئ .د ملا عبدالباقي افغان مېرمن او دعلامه حبودلمسي زین العابدین اخونزاده مېرمن سره خوندي وې .

---

( ۱ ) په فرهنګ زبان وادبیات پښتو کې دغه سنه ۱۲۹۶ ق ده .



# مولوي عبدالرحیم شهید

مولوي عبدالرحیم اخونزاده دعلامه حبو اخونزاده زوی د ملا فیض الله کاکړ لمسی او دملابابړ مدرس کړوسی کیږي چې د ۱۲۴۱ ق کال دمحرم الحرام پر ۲۵ دجمعې په ورځ دغرمې پرمهال په کندهارکې زېږېدلی دئ .دشهرت زمانه دامیرشېرعلیخان له پاچهۍ سره برابره ده .ددغه هیوادپا ل امیرپه دربارکې یې ښه په درنښت ورته کتل. امیردکابل په بالاحصارکې ځای ورکړی اودخپل ولیعهدزوی سردارعبدالله جان استاد یې ټاکلی و.

سردارغلام محمدخان طرزي یې دزېږېدوپروخت ویلي دي :

صد هـــزاران شکرکـــزالطاف بی پایان رب
گشت طالـــع نیری ازمطلع علـــــم وادب
نوگل گلزارعـــلم ومــــــعرفت عبدالرحیم
درنسب پــــــــورحبیب الله آن والاحسب
آنکه چـــون وی عالمی کم دیدچشم روزگار
گـــرچه گـــــــردیده بسی اندربیابان طلب
مـــظهرتـــــــقوی ودانش منبع علم وعمل
مـــعدن فضل وهنرکان علــــــوم مکتسب
سال تـــولیدش زپیرعقل طرزي بازجست
درجوابش گفت کای درعلم ودانش منتخب
بیست وپنج ازمحرم یـــــــوم جمعه نیمروز
گشت تولید شـــریفش باعث عیش وطرب

یك عدد بـــــــــرماده تاريخ افزاطرزيبا
وانگه ازنـورشبستان مـعاني کن طلب ( ۱ )

علامه سيدجمال الدين افغان چي د ۱۲۸۳ ق کال په شعبان کي کندهار ته په سفرتللی و، دکندهاربنارپه ښکاپربازار کي يې د جيتن هندو په سرای کي چي دسيد استوگنځی و،دکندهار له جيدو علماوو سره کتلي و.علامه سيد په يوه يادابنت کي ددغوعلماوو کي نومونه راوړي دي چي د (ملاعبدالرحيم پسرملاحبو ) نوم پکښې سته . نور نومونه دادي : ملاعبدالق خرقه ، ملامحمد صديق تلميذ ايشان ، قاصی غلام ، ملاعبدالاحد پسرايشان ، صوفی بردرانی ، ملاخواجه محمد تلميذايشان ، ملامحمدرحيم اسحق زی تلميذ صوفی ، ملاعبدالرحيم پسرملاحبو ، ملاعبدالحق طل، ملامحمدی ، قاضی عبدالرحمن خان ملا ، قاضی سعدالدين پسرايشان ، قاضی عبدالسلام برادرقاضی عبدالرحمن . ( ۲ )

مولوي عبدالرحيم اخونزاده دهغه مجاهدوملاتړی و چي دميوند دزمري غازي محمدايوب خان په مشري د انگرېزانو پر ضد رواني وې . دميوند تر تاريخي غزا او په هغې کي د افغاني لښکر تر وياړلي سوبي وروسته ( ۱۲۹۷ هـ ق ) انگرېزان په دې لټه کي سول چي له افغانستانه پښې وباسي او د کابل تخت ته داسي څوك

( ۱ ) وگورئ :دېوان طرزي افغان ـ ص ۱۵۹ بخش قصايد ۱۳۰۹ ق . په دېوان کي يې پورتني غزل ته په عدد ۱۲۴۳ کښلي دي . خود « نورشبستان معانی : پرابجدي ارزښت ( ۱۲۴۰ ) چي يو زيات سي ۱۲۴۱ خني جوړيږي . گويا دده د زېږدوپه نېټه کي د دوو کالوتوپيرسته .

( ۲ ) مجموعهٔ اسنادومدارك چاپ ناشده دربارهٔ سيدجمال الدين مشهور با افغانی ـ ص ۸ ـ ۱۳۴۲ـ تهران



ورسوي چي په سيمه کي انگرېزي منافع خوندي کړای سي . دا شخص سردارعبدالرحمن خان و چي وروسته د اميرعبدالرحمان په نامه پرتخت کښېنول سو. اميرعبدالرحمن له غازي سردارمحمد ايوب خان سره پر خانداني رقابت سربېره دسياسي اهدافو له لحاظه هم دښمني درلوده او همدا علت وُچي دنوموړي غازي او دهغه له پلويانو سره يې خورا ظالمانه رويه غوره کړې وه . کله چي اميردکندهارزاړه ښارته نژدې پخپل دوولس زريزلښکر باندي دغازي محمدايوب خان لښکرمات کړ(۱۲۹۸ هـ ق ) د کندهار ښاريې ونيواوغازي سردار فرار ته مجبورسو. دده په فرار سره دغه ملي غورځنگ بې سره سو. وشوړېد او پلويان يې سره تيت سول . زموږفاضل استاد پوهاند رشادصاحب ليکي غازي سردار محمدايوب خان له دغه ماتي وروسته هرات ته ولاړ. څرنگه چي دهرات ښارده ترورسېدلودمخه سردارعبدالقدوس خان (اعتمادالدوله ) داميرعبدالرحمن په حکم نيولی و، څکه نوغازي سردارمشهد (ايران ) ته ولاړ څوکاله هورې و. په پای کي دفارس دولت دانگرېزانودفشارله امله هندوستان ته په تگ مجبورکړ. (۱۳۰۴هـ ق ـ ۱۸۸۷ع ). فاضل استاد پوهاند رشاد د ماسکو گزت په حواله ليکي چي په دغه وخت کي علامه سيدجمال الدين افغاني دفارس حکومت له دې امله سخت غندلی و چي « د ميوند زمری يې انگرېزانو (دښمنانو ) ته په لاس ورکړ اوداسلامي همدردی او وفادود يې ترپښولاندي کړ. » ( ۱ ) استاد پوهاند رشاد

( ۱ ) افغان ياد- دمقالومجموعه ـ دپوهاند رشادمقاله ـ ۱۹مخ ـ کابل ـ ۱۳۶۰ش

زیاتوی « غازي سردار اوپرده باندي راغونډ افغانان ټول دپرنګي طاغوتي طاقت خپلي و. دوی داسلامي هیوادونوداتفاق ، تنظیم اوخپلواکی له پاره په مصراواروپاکي دعلامه سیدجمال الدین افغان (رح) ( ۱۲۵۴ـ ۱۳۱۴هـ ق ) مدبرانه اودلیرانه مبارزو اوپه سوډان کي دپرنګیانوپرضد دمحمد احمدالمهدي ( ۱۸۴۴ـ ۱۸۸۵ع ) غزاووته هوسېدل. دعروت الوثقی داخبارخپروني ددوی د زړو زخمونوته پنډکی وې .» ( ۱ ) غازي سردارمحمدایوب خان ددغي ماتي تر دك وروسته په راولپنډۍ کي مړسواومړی یې زامنوله وصیت سره سم دپښتنو سیمي ته راوړ اوپه پېښورکي یې د سید حبیب نقشبندي په زیارت کي ښخ کړ.

دغازي سردارپه لاس دایجادسوی غورځنګ وروسته پاته کسان ترده وروسته پرمحمدشاخان هوتك باندي راغونډ سول . دامیرعبدالرحمن پرضد یې قیامونه وکړل خوپه بې رحمی سره وځپل سول ( ۲ )

امیرعبدالرحمن دکندهارپه ښارکي دغازي محمدایوب خان پرپلویانوباندي مځکه سره تبی کړه . په دې لړکي یې مولوي عبدالرحیم اخونزاده چي دخرقې مبارکي بست ته یې پناه وړې وه ، له بست څخه دهغه وخت دمذهبي عرف پرخلاف په زورسره راوېوست اوپه خپل لاس یې دخرقې شریفي دګومبتي په

( ۱ ) افغان یاد ـ ۱۹مخ

( ۲ ) هوتك ـ محمدمعصوم ـ پوخ کانی
محمدشاه خان هوتك د ملي قاید حاجي میرویس نیکه د وراره حاجي نورمحمدخان مشهورپه حاجي انکو کودی و .



خوله کي په توره سر ورپرې کړ.( ۱ ) امیرعبدالرحمن خان یې د وژلو پېښه داسي بیانوي : "... یکي ازملای کاکري موسوم به (اخون عبدالرحیم ) که نسبت کفربمن داده بود درخرقه شریف متحصن شده بود... لهذا اورا ازعمارت آنجابیرون کشیده بدست خودم اوراکشتم." ( ۲ ) امیر عبدالرحمن خان ته دا واقعه دومره مهمه وه چي هر وخت او هر چاته یې بیانوله . دده په دربارکي استوګن انګرېز فرانك مارتین هم دده له خولې د مولوي عبدالرحیم وژلو ته اشاره کوي او لیکي : « فقید امیرماته یو وخت دکندهار د یوه ملا کیسه وکړه چي پر ده یې د کفر حکم کړی و اوخلك یې دده پرضد پاڅون ته رابلل ... امیرته وویل سوه چي دغه سړي بست تــــــه پناه وړې ده ... امیر توره واخیستله ، مسجد ته ورغلی او سړی یې ځای پرځای وواژه ».( ۳ )

د شهید مولوي عبدالرحیم د کورنی روایت دئ چي مړی یې د کندهارښارشمال ته دتوروپه غروکي دارغنداب پر لار پر لرګیو وځړاوه . وایي چي خلکوبه ترډېره وخته پوري پردغه ځای باندي دتلموراتلموپه وخت کي داروابښاداخونزاده روح ته دوعا کوله . د کندهار په سپین ږیروکي داخبره عامه وه چي ویل به یې کله چي یې عبدالرحیم اخونزاده دامیرعبدالرحمن حضورته ورووست ،

( ۱ ) ښاغلی ډاکترعنایت الله شهرانی لیکي چي په تفنګچه یې وواژه . ( وګورئ : لمر جریده ـ شماره ۱۹ ـ دوهم کال ـ می ۲۰۰۱ ـ ټورنټو ـ کاناډا ) .

( ۲ ) تاج التواریخ ـ ۱۸۸ مخ ـ د بمبی چاپ ـ ۱۹۰۴م ـ ۱۳۲۲ ق

( ۳ ) فرانك مارتین ـ انډر د ابسلیوټ امیر ـ ۱۵ مخ ـ ۱۹۰۷ ع . دا اثر ما ( هوتك ) په پښتو ژباړلی دئ . د پښتو ژباړې نوم یې ( دامیرترسیوري لاندي ) دئ .

اميرپه ډيرغضب خني وپوښتل تاپرمادكفر حكم كړئ دئ !

ده په خواب كي په ډيرجرئت سره وويل :

ته دكفر (انګريز ) ملګرى يې ـ خداى اوقرآن دكفرملګرتيانه ده خوښه كړې . زه ځوك يم چي پرتادكفرحكم كوم .( ۱ )

اميرته ډيرورغى اوپخپل لاس يې سرپه توره ورواهه . له عبدالرحيم اخونزاده سره يې ملاعبدالاحد پوپلزى هم شهيدكړ. دغه ملاعبدالاحدملافرح الدين اخوندد زوى ميامحمدشفيع صاحبزاده له ارادتمندانوڅخه و. وايي چي پر (مناقب ميافقيرالله ) يې شرحه كښلې ده .د (مناقب ميافرح الدين ) په نامه بل اثرهم لري اوپه عربي ژبه يې ايقاظ النيام هم كښلى دئ چي نسخه يې په ملي ارشيف كي خوندي ده. (۲) د مولوي عبدالرحيم اخونزاده عمر د شهادت پروخت ترپنځوسوكالواوښتى و.

اميرعبدالرحمن كه مولوي عبدالرحيم په دومره بې رحمي وواژه، د عامه ذهنيت دتسكين په خاطريې دده زوى مولوي عبدالروف چي څه موده په تبعيدكي و ،د پلارترشهادت دوه كاله وروسته كابل ته بوت ، دشاهي مدرسي مدرس اودحضورملايي وټاكه .

---

( ۱ ) دغه شان سوال و جواب ته ورته بيان دمولوى عبدالرحيم اخونزاده دلمسي مولوي عبدالواسع شهيد او دسقاو دزوى حبيب الله كلكاني ترمنځ هم سوى دئ چي پرخپل ځاى به يې ولولئ . په دې كورنى كي نه يوازي علم و فضيلت له نيكونوڅخه لمسيوته په ميراث رسيدلى و ، بلكي دحق ويلوپه بيان كي يې سياسي زړه ورتوب هم مورونه پاته سوي وه .

( ۲ ) حبيبي ـ عبدالحى پوهاند ـ دميافقيرالله پېژندليك ـ ۱۱۰ ـ ۱۱۱ـ مخونه ـ كابل ـ ۱۳۵۹ش



## مولوى عبدالروف ( خاكي )

مولوي عبدالروف دمولوى عبدالرحيم اخونزاده شهيدزوى دعلامه حبو اخونزاده لمسى دملافيض الله كاكړ كروسى او ملابابړ كوسى دئ چي د۱۲۶۷ هـ ق كال دصفري په مياشت كي په كندهاركي زيږيدلى دئ . نوموړى په عربي ـ فارسي اوپښتوژبه كي ښه قلم درلوداوپه دې دروژبوكي يې تاليفات پرې ايښي دي. كله چي په كندهاركي دغازي محمدايوب خان پرپلويانوباندي ددغه سردارترماتي وروسته ورشوتنګه سوه اودمولوي عبدالروف پلارمولوي عبدالرحيم اخونزاده دخرقې مباركي په بست كي شپې تېرولې په دغه موده كي مولوي عبدالروف له ښاره وتلى واود تبعيدحالت كي اوسېدى . په ۱۳۰۰ هـ ق كي دقاضي القضات سعدالدين خان او سردار عبدالقدوس خان اعتمادالدوله په وساطت داميرعبدالرحمن دربارته ور وغوښتل سو او لكه مخكي چي موووېل دنوموړي اميردحضورملا ، دشاهي مدرسي دمدرس اودقاضيانودممتحن وظيفې يې پرغاړه وې .دده دپېژندګلوى له پاره به ښه وي داروانښادمولوى صالح محمدهوتك ( ۱۳۳۹ ش مړ ) خبري ولولو: "زما جد مغفور مولوي عبدالروف مرحوم دمولوي عبدالرحيم اخندزاده زوى د مولاناحبيب الله اخندزاده قندهاري كاكړي مشهورپه حبواخندزاده سره اوپه خارج كي په "فاضل قندهاري" سره مشهوره لمسى ، چي لوى عالم اوفاضل وپه كابل كي داميرعبدالرحمن خان "ضياءالمله والدين" دحضورملا و؟ چي

بیاداعلیحضرت سراج الملة والدین امیرحبیب الله خان د حضور ملا اودکابل په شاهي مدرسه کي استېدی ـ هرکله چي به په دوبي دگرمی له خاطرو امیرصاحب پغمان ته تئ ـ دی به یې هم ورسره بېوه . په ۱۳۳۳ ق کي په کابل کي وباوه ـ دی دوباپه اثروفات سو چي له پغمانه یې کابل ته راوړئ ، لاژوندی و له یوڅو ساعتو وروسته په کابل کي وفات اود (کوه خواجه صفا ) په لمن کي دفن دئ . رحمت الله علیه رحمه واسعا . عمریې ترشپېتواوښتئ و ـ حافظ دقران ومتهجداوقران خوانه یوښه فاضل و. دده مرحوم دوه زامن چي دواړه دخپل عصرعالمان اوفاضلان وه پاته سوه چي مشرزوی یې مولوي عبدالواسع اخندزاده اوکشرزوی یې مولوي عبدالرب اخندزاده نومیږي اویوه عالمه لوریې پاته سوه چي زهامورده " رحمت الله علیهم اجمعین .(۱)

مولوي عبدالروف په کابل کي دسراج الاخبارافغانستان په نامه یوانجمن جوړکړ چي دهغه وخت زیاتره منورین اوپوهان پکښې راغونډوو. ددغه انجمن له خواد نوموړي په نوښت اوسرمحرری باندي د « سراج الاخبارافغانستان» په نامه یوه میاشتنی جریده خپره سوه چي لومړی شماره یې د۱۹۰۶ کال د جنوری پر۱۱ د کابل دماشینخانې له چاپخانې څخه راووتله اوهمدایې وروستی گڼه هم سوه ځکه انگریزانوبد په یووړل اوامیرته یې دجریدې د بندېدوحکم وکړ.د « سراج الاخبار افغانستان»په خپرېدو سره د هیواد په مطبوعاتي ډگر کي هغه سکوت مات سو چي د شمس

(۱) هوتك ـ مولوي صالح محمد کندهاری ـ پاشلي ویناوي ـ ۱۱۶ مخ ـ تعلیقات ـ ۱۳۶۹ش



النهارجریدې (۱) تر خپرېدو وروسته یې نژدې دري لسیزي دوام کړی و.ددې سکوت ماتوونکی مولوي عبدالروف خان و . که څه هم په اوسنیو نشراتو کي علامه محمود طرزي ته د افغانستان د ژورنالیزم دپلار لقب ورکول سوی دئ چي په رشتیاسره یې مستحق هم دئ ځکه نوموړي په افغانستان کي دلومړي ځل له پاره په پرله پسې او متدوام ډول سره ژورنالیستیکي کارونه کړي دي . خودمولوي عبدالروف خان نوم هم دهیواد په مطبوعاتو کي د یوه مخکښ په توگه دهېرولونه دئ . اروابښادمولوي دیوه متجدد او منورروحاني په توگه خپلي علمي هڅي یوازي دیني مسایلو ته محدودي کړي نه وې بلکي د هیوادوالو دذهنونو روښانولو په غرض یې د جریدې دنشرولو اهمیت په بشپړه توگه درك کړی اوپه دې برخه کي یې عملي گامونه پورته کړي دي . موږ پوهېږو چي د هغه وخت تیارو شرایطود عصري جریدې خپرولو په لاره کي خورا زیات خنډونه ایښي وو . مرحوم مولوي دخپل وخت حالات په ښه توگه څېړلي اودخپلو هیلو دتحقق له پاره یې دجریدې دخپرېدو اړتیاد قرآني آیتونو او نبوي احادیثوپه راوړلو سره ثابته کړې وه . په دغه جریده کي له مولوي عبدالروف سره دهغه وخت نورو منورینوپه تېره بیا د هیواد ملي اوسرښندونکي شخصیت مولوي محمدسرور واصف کندهاري همکاري کوله او دنوموړي جریدې

(۱) شمس النهار جریده په افغانستان کي لومړنی جریده ده چي د امیرشیرعلیخان په روښانه دوره کي د سیدجمال الدین افغاني له افکارو څخه په الهام اخیستلو سره په ۱۲۹۰ ق کال (۱۸۷۳ ع ) د شمس النهار په مطبعه کي خپره سوه او تر ۱۸۷۸ ع پوري یې دوام درلود .

په هماغه لومړی ګڼه کي چي ورروستی هم سوه ،دمولوي واصف
کندهاري یوه اوږده وعظیه قصیده خپره سوې ده . اروانباد علامه
حبیبي لیکي چي « از سرمقالهٔ مولوی عبدالروف و قصیدهٔ مولوی
واصف ـ که درین شماره نشرگردید پدیداراست که درآن هنگام
آثاربیداری و تجدد و مدنیت اروپا به کابل رسیده ومردم و دربار
راتحت تاثیر قرارداده بود .... » ( ۱ ) لکه وړاندي چي وویل سوه
د سراج الاخبارافغانستان دلومړی ګڼې له نشر سره انګریزانو امیر
ته دهغې دبندېدو حکم وکړ او جریده بنده سوه خو دمولوی
عبدالروف نوم دهیواد په مطبوعاتي تاریخ کي دیوه مخکښ په
صفت تلپاتی سو . سراج الاخبارتردغه وخت اووه کاله وروسته
دعلامه محمودطرزي له خوابیرته ژوندی سو.

دامیرعبدالرحمن ترمړیني وروسته چي زوی یې امیرحبیب الله
خان پرځای پاچاسو ، په دربارکي دمولوي عبدالروف مقام اومنزلت
تریخوالازیات و . امیرورته د استادپه سترګه کتل په قضایي
چاروکي یې مرسته څني غوښتله .

مولوي عبدالروف په فارسي اوعربي ژبه کي شاعري هم کړې ده .
په فارسي اشعاروکي یې تخلص(خاکي ) و. علامه حبیبي یې
پخپل وروستني اثر« جنبش مشروطیت درافغانستان » کي دفارسي
شعر څو بیلګي راوړي دي چي زه یې له هغه ځایه رانقلوم .

افغان اګرنظرفکند بـــــــرصلاح خویش
اول ببایدش که بګیرد ســـــلاح خویش

---

( ۱ ) حبیبي ـ پوهاندعبدالحی ـ جنبش مشروطیت ـ ۸ مخ ـ ۱۳۷۷ ش



گـــــراصطلاح وی طلب عیش وعشرتست
فرض است آنکه محوکند اصطلاح خویش
این سرزمین خوش که بافغان چومادرست
داند سپردنش بدګـــــــرهاجناح خویش

وایي داشعر یې دافغان وانګلیس د دوهمي جګړې په وخت کي
دهیواد دفاع ته دخلکو رابللوپه نیامت ویلی و .

دمولوی عبدالروف خاکي معلوم تالیفات دادي :

۱ـ "کشکول" دپښتو،فارسي اوعربي اشعارو مجموعه ده . په دغه
مجموعه کي یې د نوروشاعرانوشعرونه هم غونډکړي دي.

۲ـ "خردنامه امیر" ـ فارسي

۳ـ "تفسیرسوره حشر" ـ فارسي

۴... "سلامنامه عربي" دمزارشریف دروضې له پاره .. ددغې
سلامنامې یوه برخه دامیرعبدالرحمن په امردمزارشریف دروضې
پردروازه ولیکل سوه .

۵ـ "تفسیرآیات العهود" ـ فارسي

۶ـ "ردناسخ التواریخ" ـ فارسي ـ دناسخ التواریخ دیوې برخي رد

۷ ـ "رساله افغانستان" ـ فارسي

۸ ـ عقداللامي فی تتبع بداء لامالي" ـ عربي ـ دعقایدواوکلام په
باب قصیده

۹ ـ کلمات امیرالبلاد فی الترغیب الی الجهاد

۱۰ ـ « تفسیرسوره فاتحه اودقرآن ددېرشمي سپارې تفسیر»
دافغانستان دملي ارشیف په خطي نسخوکي د (تقویم الدین ) په

نامه یوه نسخه خوندي ده چي په لیکنه کي یې یوشمېرعلماوو برخه اخیستې ده . په هغوکي دمولوي عبدالروف نوم هم ستـه نوریې ملا ابوبکر، ملاغلام محمد ، ملاعبدالخالق، قاضي میرجمال ، ملارمضان ممتحن، ملاسیف الدین، ملا سید محمد ممتحن ، ملاسعدالدین ، ملادادمحمدممتحن، ملاعبیدالله ممتحن، ملاعبدالله اوحافظ حبیب الله دي .(١) دکتاب موضوع دجهادپه باب شرعي مسایل دي چي په دري ژبه لیکل سوي دي.

مولوي عبدالروف په ١٣٣٣ هـ ق کال دشوال پر۱۶ دشنبې په شپه وفات سو .(٢) عمر یې د۶۶ په شاوخواکي و . مولوي صالح محمدهوتك په دغه وخت کي دکابل په شاهي مدرسه کي اوسېدی او دخپل مورني نیکه د درانه ماتم مرثیه یې په پښتو وویله .

زړه مي وخوت له کـــوگله ناگهان ولاړ
نه تنهازمـــــابلکي روح دکل افغان ولاړ
دعالم فــــوت په مثال فوت العالم دئ
افـغان خه دئ بلکه روح دټول جهان ولاړ
شکوه نه کــــــوم تقدیرراپېښنه کړي
مرگ خوحق دئ امادی په ډېرارمان ولاړ

( ١ ) فهرست نسخ خطي ارشیف ملي افغانستان ـ جلداول ـ ٣٠٢ ـ کابل ١٣۶٣ ش
( ٢ ) په سراج الاخبار۵ کال لومړی گڼه۱۶ مخ کي یې دوفات نېټه دشوال ١۵ دجمعې ورځ بللې ده .
ما ( هوتك ) دمولوي صالح محمد هوتك « پاشلي ویناوي » نومي اثرته دتعلیقاتوپه ١١٨ مخ کي دمولوي عبدالروف مرحوم عمر دسراج الاخبار دلیکني تراغېزې لاندي ۶٧ کاله بللی دئ چي صحیح نه دئ .



نه مي صبرنه ارام نــــــه طاقت کیږي
وی"زمااغابابا "(١) دبــــرق په شان ولاړ
نقددعلم سوه کـــــوټه قلب چلاني سوه
چي فاضل د زمـــــاني دعلم کان ولاړ
مرغــــــــلري د نکتوکړې صدف پټې
چي غواص دمحیط بحردقـــــران ولاړ
تدریس منع سوبازارد عـــــلم سوړسو
مدرسه سوله خالي تــــول طالبان ولاړ
شپاړســـــمه د شـــــوال شپه د شنبې وه
چي زماجـــــــدمغفورله دي جهان ولاړ
هم سنه یې د وفات "جدمغفور" (٢) سوه
رب دي دی لري مغفورچي ناتوان ولاړ(٣)

****

علامه محمودطرزي په سراج الاخبارکي دده دمړیني خبر خپور کړ او دا واقعه یې "موت العالم موت العالم" وبلله (۴) په دوهمه شماره کي دده سوانح ولیکله اودده درحلت په باب یې خواشیني ښـکاره کړه ددغـي لـیـکـنـي عنـوان یـې (یـك خسـاره تـاسـف

( ١ ) مولوي عبدالروف دمولوي صالح محمدهوتك دمورپلاراوپه کورکي کشرانوورته"اغابابا" وایه.
( ٢ ) د« جدمغفور » ابجدي ارزښت ١٣٣٣ دئ .
( ٣ ) پاشلي ویناوي ـ ۴٩ مخ
( ۴ ) ، سراج الاخبار ـ پنځم کال ـ لومړی شماره ۴ سنبله ١٢٩۴ ش

آورعلمي ) وچي په يوه برخه کي يې داسي راغلي دي : « درين ايام يك سانحه روى داده كه ازتحرير آن قلم مى لرزد ، پنجه مسترخي ميشود ، دل مى طپد ، حواس پريشان مى شود . يعنى زندگى علم وعرفان ، حيات ادبيات به يك صدمهٔ جانكاه ويك تزلزل تهلكه همراهى برخورد . يعنى روح علم ودانش ، روان عرفان و بينش جناب فضايل دستگاه وكمالات همراه مولوى مكرم محترم مولوى عبدالروف خان صاحب ، دنياى بيوفا را ترك گفته ، عازم داربقاگرديد ... مرحوم مشاراليه تنهادروطن عزيز مانى ، بلكه دربسيارى ازصفحات دنيا ، نادرالامثال يك عالم فاضلى بود ، كه درهمه علوم عقليه و نقليه و فنون تصوفيه و ادبيه صاحب يد طولى بودند . ضياع ابدى اين فاضل تحرير ، الحق كه از خسارات و ضايعات خيلى دهشتناكى براى عالم علم و عرفان وطن عزيزماشمرده ميشود ... علاوه برين همه علم وفضل ، حافظ جيدكلام ملك علام بودند و درادبيات يك خصوصيت ممتازى داشتند . ازخامهٔ عنبرشمامهٔ خودشان هم قصايد پرفوايد وادبيات بسياربامعنى سر زده است . ولى افسوس كه پايه شصت و هفتم را از مرقات عمرعزيزبه تكميل نرسانده وطن را از ديدار و فوايد خود بيشتر محفوظ ننمودند ....»

***

**

*

( ۱ ) نقل له جنبش مشروطيت ـ ۱۰ مخ ـ ۱۳۷۷ ش



# مولوي عبدالواسع شهيد

مولوي عبدالواسع شهيد دمولوي عبدالروف مشرزوی و چي د ۱۲۹۰ هـ ق كال په حدودوكي دكندهاربناردبامبزو په كوڅه كي زېږېدلی و. تحصيلات يې له خپل فاضل پلار څخه کړي اوداستادی مقام ته رسېدلی و. د قرآن حافظ اوپه اسلامي علوموكي يې لوی لاس درلود. علامه حبيبي ليكي چي مولوي عبدالواسع په تدريس كي خانته خاصه اولنډه طريقه درلوده . ده كولای سوای په لږوخت كي خپلوشاگردانوته مهم متون ورزده كړي.( ۱ ) عبدالواسع اخونزاده دپوهي پرځنگ په خطابي وركولوكي هم پشپړاستعداد درلود. اوديوه اوړزبي خطيب په توگه يې داسلامي احكاموپه باب دشاه اوگداپه مخ كي په پوره زړه ورتوب سره ويناوي كولې . نوموړي دخپل وخت په علمي ادبي اوسياسي غورځنگونوكي ديوه فعال عنصرپه توگه برخه درلوده .له انگرېزانوڅخه دهيواد دخپلواكی گټلوپه غزاكي مستقل بيرغ درلود.(۱) كله چي دهيوادخپلواكي ترلاسه سوه مولوي

( ۱ ) دافغان ياد ـ ۴ مخ

( ۲ ) دخپلواكی په غزاكي كندهاردغزاله درومحاذوڅخه يومحاذو. نوردوه يې پکتيااومشرقي وو. دكندهاردجبهې عمومي قوماندان سردارعبدالقدوس خان (اعتمادالدوله ) وچي كندهاريانو (غازي بابا ) باله. خودبنارمخورو، علماوو، قومي مشرانوخانته جلاجلا ډلې اوبيرغونه درلودل چي ټول په كډه دغازي بابا په مشري دسپين بولدك پرمحاذ له انگرېزانوسره جنگ ته تيار سوي وو. دسپين بولدك دجبهې وياړلی او سرتېری مجاهد جرنيل محمديوسف خان و چي دبناغلي الحاج محمد آصف خان پاس يوسفی پلاركېږي .

عبدالواسع په کابل کي دهغوهيوادپالوپه جرگه کي شامل سوچي هدف يې په هيوادکي داستبدادي نظام اومطلقه پاچهي پرځای د مشروطه شاهي راوستل و. دوی دغه ملي هدف ته درسېدلوله پاره د قرآن اوسنت پربناديوه سياسي غورځنگ اساس کېښېښود چي زموږ دهيوادپه سياسي تاريخ کي دلومړي مشروطيت په نامه يادسوی دئ خودوی ځانونه(جان نثاران ملت) بلل. ددغه غورځنگ نورسرښندوکي غړي مولوي محمدسرورواصف کندهاري اووروريې سعدالله خان ـ کاکاسيداحمدخان لودين ـ محمدايوب خان پوپلزی ـ جوهرشاه غوربندي ـ ميرسيدقاسم خان لغماني ـ تاج محمدخان بلوڅ ـ لعل محمدخان کابلي اونوروو.ددغي ملي اوروښانفکري ډلي څيني غړي په توپ کي والوزول سوله اوزياتره يې زنداني سول چي په زنداني سووکسانوکي مولوي عبدالواسع اودهغه کشر ورور مولوي عبدالرب هم شامل وو . مولوي عبدالواسع په کابل کي يې له عدليې وزارت سره دقانون جوړولوپه کارکي مرسته پيل کړه . اميرامان الله خان په هيوادکي د قوانينو د جوړولو اودهغوله عملي کولوسره ټينگه علاقه درلوده. ددغه مقصد له پاره يې له عثماني ترکيې څخه دوه تنه قانون پوهان (جمال شاه اوبدري بېگ ) راوغوښتل اوپه عدليه وزارت کي يې په کاروگومارل. مولوي عبدالواسع له دغوپوهانوسره همکاري درلوده.ددوی له خواطرحه سوي قوانين يې داسلامي شريعت اوحنفي مذهب له اصولوسره تطبيقول اواصلاحات وسموني يې پکښې راوستلې. داماني دورې دقانون جوړلوپه سترکارکي دمولوي عبدالواسع ونډه دومره زياته



وه چي دهيواداکثره نظامنامې دده ترلاسليکولوروسته دعمل ډگرته راوتلې. دهغه وخت پرنظامنامو باندي دمولوي مرحوم دغه لاسليك و : خادم العلما محمدعبدالواسع قندهاري .

مولوي عبدالواسع داسلامي اصولواوحقايقودبيان له پاره پر "فصيحواوبليغوخطبو" سربېره قلمي خدمتونه هم کړي دي . مستقل تاليفونه يې دادي :

- "حکمت اسلامي" داکتاب يې د۱۳۳۴ هـ ق کال ددوهمي خور په مياشت کي تاليف کړی اوپه هغه کي يې داسلامي امارت اصول اوداسلامي سياست بيان کړی دئ .ددې اثريوه نسخه چي غالبا به منحصربفرد نسخه وي، دکابل په ملي ارشيف کي خوندي وه . په "فهرست خطي ارشيف ملي افغانستان ۶۹ ـ ۷۰ مخونو "کي دغه کتاب دوې نسخې معرفي سوي چي يوه دمولف پخپل خط اوبله دسيدمحمداليشان الحسيني په کتابت ده . دواړه نسخې د"حکومت اسلامي" ترنامه لاندي قيددي . ددوهمې نسخې دمعرفی په پای کي يوه يادونه راغلې ده چي وايي( ناگفته نماندکه شادوران استادعبدالحی حبيبي درصفحه قبل ازآغازنام کتاب اينطورنوشته است :« حکمت اسلامي تاليف مولوي عبدالواسع قندهاري متوفي ۱۳۰۷ ش درکابل به امرحبيب الله بچه سقو.... همچنان درحاشيه صفحه ۱۰ بخط کاتب متن اين رساله بنام حکمت اسلامي معرفي شده است . حالانکه درپشتي قبل ازآغازبخط جلی حکومت اسلامي تحريرگرديده است . لهذانسخه متذکره بدونام تحريريافته است. "

اصل خبره داده چي داکتاب (حکمت اسلامي) دئ اود (حکومت اسلامي) اثرموږ لیدلی نه دئ ، يوازي مودمولف له خولې نوم اورېدلی دئ . دحکمت اسلامي دلیکلوکال هم لږڅه ابهام لري. علامه حبیبي يې د۱۳۳۴ش کال ددوهمي خور تالیف ګڼي (۱) خوپه فهرست نسخ خطي کي د استنساخ کال تردغي نېټي ۱۷ کاله وړاندي (۱۳۲۲هـ ق) شوول سوی دئ .

ــ "حکومت اسلامي" ددغي رسالې به باب موږيوازي دمولف له خولې خبریوچي وايي "يك رساله علیحده مسمي به حکومت اسلامي هم تحريرشده است..."

ـــ "تمسك القضات امانيه" فارسي ـ داکتاب دوه ټوکه دئ . لومړی ټوك يې د"حقوق" اودوهم يې د"جزا" بیان دئ . دوهم ټوك يې هم دوه کتابه دئ. اول کتاب يې څلوربابه لري اوحدودبیان پکښي راغلی دئ. دوهم کتاب يې هم څلوربابه دئ دجناياتوپه باب مسايل لري . ددغه کتاب مقدمه داعلیحضرت امان الله خان په مهربشکلي سوې ده. دکتاب دوهمه برخه (جنايات) په دوو زرونسخوکي دکابل په سنګي مطبعه کي چاپ سوې ده (۱۳۰۰ ش) چي زما (هوتك) په کتب خانه کي يې يوه نسخه سته خودلومړی برخي (حقوقو) دچاپ په برخه کي علامه حبیبي مرحوم لیکي "... دامعلومه نه ده چي دکتاب لومړی برخه (حقوق) چاپ سو، که يا؟ خودوني معلومه ده ، چي دمرحوم مولف په خط يې اصله مسوده ده په کورنی کي سته." (۲)

(۱) (۲) افغان یاد ـ ۶ مخ



تمسك القضات امانيه يو ډېرمعتبراوعلمي اثــردئ اووايي چي د « الازهرعلماوو هم په درنه سترګه ورته کتلي و » (۱)

"تفسيروايضاح نودونه قاعده فقه" (۱۸۹ مادي ۶۴مخه) دکابل دسنګي چاپخانې چاپ (۱۳۰۰ ش)

"رساله شناخت خدا" داسماالحسنی دمعاني اوفوايدوپه باب . چاپ ۱۳۰۰ ش کابل

" عنوان اساسي دينيات درمضمون تعليمي فلسفه اسلامي قرآني" ـ کابل ـ ۱۳۰۰ ش

« تفسير سورة فاتحه » ـ په پارسي ، پښتو او انګرېزي ژبو علامه حبیبي مرحوم لیکي چي ددغه تفسیر یوه نسخه ورسره وه اوپه ۱۳۳۹ ش کي د پاکستان د پولیسوپه لاس له منځه یـــووړه سوه . (۲) انګرېزي ترجمه يې دپښتو مرکي غړي اروابښاد عبدالوهاب کاموي کړې وه .

هغه کتابونه چي دمولوي مرحوم ترنظرلاندي لیکل سوي دي

ـــ"يوازني پښتو" داکتاب د"مرکه دپښتو" له خواليکل سوی اوچاپ سوی دئ .

ــ"پښتوپښويه"

ــ"پښتوقاموس" داروابښادعبدالرحمن لودين تالیف ـ ناچاپ

(۱) افغاني شمله ـ د مقالو مجموعه ـ د ډاکتر طارق رشاد راټولونه ـ ۷۳ مخ ـ ۱۳۷۹ ش


(۲) جنبش مشروطیت ـ ۲۹ مخ

ــ "دراورتي پښتوګرامراومقدمه يې" په فارسي ژباړل سوې ده .

مولوي عبدالواسع په پښتوژبه شعرهم وايه اوويل کيږي چي خيني شعرونه يې په پخوانيونشراتوکي ... چاپ سوي هم دي.( ۱ ) بايدوويل سي چي دهغه وخت شاعري داسلامي اواجتماعي نظرياتواوداصلاحي افکاروتبليغ ته وقف سوې وه . دملاعبدالباقي افغان مولوي صالح محمدهوتك اونورو منظوم کلام له شعري پلوه زياته رنګيني نه لري خوتبليغي اړخ يې پياوړی دئ . دمولوي عبدالواسع پښتوشعرونه زموږسره نسته . دده يوه اوږده منظومه چي ۱۱۶ بيته ده اودده "فکري مسير " اوټولنيزعقايدپکښي بيان سوي دي ، دويلوتروخت ( ۱۳۰۵ ش ) پنځه پنځوس کاله وروسته داروانښادعلامه حبيبي له خواخپره سوه اوپه (افغان ياد ) نومي مجموعه کي خوندي ده. ددې منظومې نوم "وتعاونواعلى البروالتقوى" دئ چي موږيې دلته تيمناراوړو.

د هـــوښيارسري فطري داوظيفه ده<br>
چي خبره دحکمت دده غـــوښته ده<br>
شپه و ورځ يې دحکمت طلب مطلب<br>
ګه بيګه ددې مطلب دئ پـــه طلب<br>
هرچيري چي(۲ ) دحکمت خبره مونده<br>
هم هغه ځای له پـــرسرځي نه پرېونده<br>
فرق پرنسته چي دچا، ياچادخولي ده<br>
چي حکمت و،دده دين دنياهوري ده

( ۱ ) افغان ياد ـ ۹مخ . ( ۲ ) چي = چي يې




دمولوی عبدالواسع شهیدمسجد

دامسجد د کندهارښارد کابل دروازې په شمالي کلاتصل کې د صحرا ي باندې پرته ... اوس هم ولاړ دئ


ددښمن له خولې کې(١) خپل مقصداداسي
دښمني سي څني هیره پـــــه خنداسي
اوکې ( ٢ ) دوست کړي بې حکمته حرکت
په دوستي کي يې نه غـــــواړي برکت
داخاصه د سړيتوب ده پـــــه اجماع
د خـــلاف پــه دې کي نسته هیڅ سماع
ددلیل اود بــــــرهان احتياج يې نسته
وجداني ذوقې( ٣ ) قبليږي نــه په لوسته
اوکه ستاوجـــــدان يې نه قبلوي وروره!
پرده واخله له وجـــــدانه بيايې گوره
داوجدان وجدان چي مــــوږيه ژبه بولو
په مجمع کي دځوانانو، د امــــــزولو
داوجــــدان نه دئ خواهش دطبيعت دئ
تحريفونــــــــه دالفاظولوی آفت دئ
که وجــــدان دسړيتوب وای داخواهش
اتفاق بـــــه وو، پرحسن اونکوهش
زمامدوح به ستامبغوض هيڅکله نه وو
بددښول انسان بـــه بد ، اوښه به ښه وو
داخلاف بې وجـــــدانی دئ پيداکړی
طبيعت دخپل خـــــواهش نوم اداکړی

( ١ ) ( ٢ ) کې = که يې
( ٣ ) ذوقې = ذوق يې



که سړی یم اول کارمي دوجــــدان سو
چې وجدان پیدا سو، تــوله کاراسان سو
که وجدان وای جنګ به چیري و پرمخکه
که وجدان وای، خوښ به نه وم ستاپه ورکه
که وجدان وای تــول حقوق به موادا وو
پردنیابه نه بډای اونـــــه ګدا وو
که وجدان وای زه اوته یو، یــــوانسان
ولي زماکمیس کرباس دئ، ستادا، سان (۱)
که وجدان وای عالم ټوله به یکسان وای
جلوه ګربه پــــردنیاخوی دانسان وای
عمومي وفاق، وحــدت، خلت، رحمت
پرعالم بـــــه جلوه ګروو، نه زحمت
که وجدان وای، اســلام کفربه له څه وو
ماوتابه ټول هغه کـــــول چې ښه وو
که وجدان وای، نــــه مریي و، نه اغا
نه زه تاته وم په عـــــرض اوپه غوغا
عالم تــــول بې وجدانی دئ رسواکړی
هرسړي وجــــدان به طبع سوداکړی
طبایــــــع چې مختلف دي پیداسوي
هم هغه دي د عـــــالم مقتداسوي

(۱) سان : یو ډول سپین سنګین ټوکر و چې دنارینه وو جامې یې ختني رغولې . ترکرباس یې جنسیت لوړ او نفیس و .




تمسك القضات الامانیه
دمولوي عبدالواسع شهید تالیف

اگر صغیر باشد یا بسن بلوغ رسیده لیکن تحقق نشده باشد که مرد است یا درصورت خطا دیت بر عاقلهٔ او لازم گردد و درصورت عمد دیت از مال لازم گردد (ذخیره)

(۱۱۱۱) هرکسی که در حد یا قصاص بقتل رسید او را غسل وکفن و بروی نماز خوانند (قدوری)

(۱۱۱۲) هرکس که قتیل در شهر یافته شود او را نیز غسل دهند (دسا

(۱۱۱۳) هرکس که از بغات یا قطاع الطریق کشته شود بروی نماز نخواند چنانچه حضرت امیر المؤمنین علی بن ابی طالب کرم الله وجهه بر بغات نماز نخواند (هدایه) .

---

المؤلف خادم العلماء

محمد عبد الواسع

قندهاري

عفی عنه

(سنه ۱۳٤ قمري)

تمسك القضات الامانيه

دوهمه برخه ـ وروستی مخ



مخامخ په دم قــــدم کي اختلاف سو
پرعالم چابيرنزاع سواوخـــــلاف سو
په علاج ددي طبعي خــــلاف کي ياره !
قوانين دعدالت راغــــــــله سياره
چي دافع دطبعي خلاف سي گــــــوره
وجدان وحدت پيداکي لــــورد لــــوره
اوس معلوم سو، دوجدانه قانون دان دئ
بې قانون چي هرسړی دئ بې وجدان دئ
زه به څپل ظاهرباطن پرقانون عرض کړم
کې قبول کړه، ذووجدانه به ځان فرض کړم
اوکه ټول قانون غــــربي اوزه دشرق وم
دوجدان نوم مي حرام، که اهــل فرق وم
*****
چيري تلمه چيرته راغـــــلم څه راکيږي
ترخبري پــــــــــوري بل خبرياديږي
مطلب داوچي ســـړي حکمت طلب دئ
سړی نه دئ څوك چي نه په دې مطلب دئ
حکمتونه دمخلوق هـــــرگوره ډېردي
ترحساب اوترکتاب اوترشـــمارتيردي
هرسړی مکلف نه دئ پــــــه دې واړو
نوبه اوس په ډېرطلب يوحکمت غــواړو
حي منبع دسعادت د هــــــرانسان وي
نتيجه يې په معاش مــعاديکسان وي

قاصرفکرمي په هره خوا جـــــولان کي
چي پيداحکمت د نـــــوع د انسان کي
په عالم کي بل شی نه رامعلـــــوميږي
بې له دي چي (تعاون) يې نـوم يادېږي
که ته هم دعقل فکراعمـــــال وکې(۱)
تخطی زماد قـــــاصرفکربه نه کې
شاوخواچي ســـــعادت دانسان گورې
بې بهاد تــــــعاون به نه پلورې !
تعاون دئ چي اســـــاس يې دمعاش
پرعالم کي پـــــه حرمت اوصنعت فاش
تعاون دئ چي سړی هـــــواپيماسو
تعاون دئ چي صانع سرپه هـــــواسو
تعاون دئ چي اسرارټـــــوله پيداسو
تعاون دئ چي ژړاندگل پـــــه خنداسو
تعاون دئ چي مطلوب يې ټول غالب کړه
تعاون دئ چي مطلوب يې ټول طالب کړه
الحاصل بې تـــــعاونه د هـــــم جنسو
هيڅوك هيڅ کولای نه سي له مـورړ انسو
داخبره هـــــم تحقيق ده بې له شکه
هرانسان به عقيده لـــــري په کلکه

(۱) وکې = وکړې



اوس نوڅان ته وايم، تې هم په غورږواوره
(که دپلاربه مي وه ژرنده هم په وار، ده)
وهـــــرچاته به مي وار، ورکاوه پلار
زما، نه ولي ســـــوخطا دټولووار
ژرنده څرخوم د يـــــوڅان پرمشتك (۱)
څکه کئ ټکـــــرټکرمي خپل خبنتك
نه له کوره نه له کلي پيتی غـــــوارم
که څوك ږغ راوکي کوڼ سم، سرونغاړم
دخپل خيال اټه اوره مي دي په جوال کي
بادپه لاس، خاوري پرسريم په هرکال کي
بالااب د ژرندي ډك لـــــه اوبوچوي
څرخ تيار، تيرهم پرسپور، گلوهم نه وي (۲)
ته سنگی و بالاسنگ دواړه الـــــماس
اولس ټوله زمـــــاد ژرندي په وسواس
ورته پروت بـــــه دکلوکلوايروي(۳)
بلي ژرندي لـــــه کې وړي بديې اثروي
زمانخوبت له تـــــعاونه په نفرت دئ
په کريابه ژرنده خـوبښ داس فطرت دئ

(۱) مشتك : دغنمو کوچنی جوال
(۲) مولوي مرحوم دکندهارپه ارغنداب کي جايداد او ژرنده درلودل. (کلو) به غـالبا داسهوان (ژرندگړی) نوم و.
(۳) اير = هغه غنم چي ژرندي ته داوړوکولو لپاره راوړل سوي وي.

اولس ټوله مي محروم کړله دې ژرندي
په نينوشپه تيروي ورونـــــه اوخوندي
په يوه سرمي اتـــــڼ دئ برپاکړی
يك جانه مي يـــاوړد صف دی درولی
په نخوت اوپه غرورړد ځان خوشحال يم
چي وژرندي ته وګـــورم په بل حال يم
ځنګه ښه واله ،څه ډول ، څه ښه کهي ده !( ۱ )
څه تاسنګ څـه بالاسنګ څه ټکټکي ده ! ( ۲ )
څه ډب ډب يې دخـــالي ډبروخيژي
پرپارچاوباندي اوبه ، څه ښه شوريږي
فکرنسته چي حاصل دژرندي څه دئ
دبهاراوشورشوری يې پـه څه ښه دئ
په مزدځای کي څــواوړه دي ياغنم
دجوال مزدمي اتــــم دئ ، که لسم
څې کوم داډبــــــهاری اوټك ټك
چي په ټوله ژرنده، نـــه پايي مورك
هره ورځ مي تـــرپرون ډوډی لږيږي
دپرون غمری مي نن څپتی کيږي ( ۳ )

---

( ۱ ) کهي : داوبوډم .
( ۲ ) تاسنګ دژرندي لاندنی پل او بالاسنګ يې پورتنی پل دئ .
ټکټکی هغه لرګی دئ چي دژرندي دپله پر سر ورکول سوی وي او دپلونو دګرزېدو په وخت ټکهاری کوي او ژرندګری دهغه له برغ څخه پوهيږي چي ژرنده فعاله ده .
( ۳ ) غمری : پنډه غنمينه ډوډی ده چي غوري دپاسه درباندي اچول سوي وي .
څپتی : له پتيرو اوړوڅخه پخه سوي نازکه ډوډی ده .



که چاړغ وکئ چي داژرنده کـــــريابه
زه سوتي پرڅرخوم ، کـــــړم يې بې آبه
ځانځاني موجوده کړې هـــــــرسړي ده
زه دځان يم، ته دځان ، دا مـــومردي ده
سرچشمه د ســـــــعادت، تعاون پاته
زه وتاتـــــه وام چپ، اوته ومـــــــاته
په سکوت سکوت کي، دين دنياخطاسوه
نه حرفت نه مـــــوصنعت نه مرعطاسوه
وپلاني اخندته مـــــــه وايه چي بدکړي
پلاني خان ته به په څـــوايي چي ردکړي
نوي ځوان کله طاقت لـــــــــري د پند
زوړ بوډا خـــــوارکی څه کوي بې خوند
لويه ږيره له هلـــــــــکه سره لويږي
پرې يې ږده خپلي بازی تــــه نه شرميږي
په جنکيودي څــــــه کاردئ اې بېکاره!
په ځـــــــــوانانوښځومه سې خبرداره
ادې ګاني دي حـــــــقداري پر مورټولو
که دوی بدکوي مور ټوله بې (۱) ښه بولو
زورور تـــــــه لاهم څوك رښتياوايناکي
لېونی وي مکرځـــــــــان په مبتلاکي

---

( ۱ ) بې = به يې

صم بکم عمي فـــهم لایهتدون(۱)
ورِی ، تږی ، خـــوار و زار،مطلوب ، زبون
حسن وقبح له مـــاورك سوه لبونی یم
زیان وګټه راته یوســـوه بهولي یم
تعاون له قبیلي ، له قـــومه ورك سو
لویي ریري، مکرکارمـــود هلك سو
زه پخپله دغفلت په خـــوب ویده یم
د نخوت شراب مي څښلي ســـرګنده یم
بل څوك نسته چي ارام ارام مي ویښ کي(۲)
پرتندي مي راپټی دعـــلاج سریښ کي
زماخـــوب بولي سراسرګټه دځان
اقـــربا او اعـــزه او ټـول خپلوان
وجدان نسته چي معلوم کړي چي زه څوك یم
دکم سازد تـــراني دپاره کوك یم
زما تعطیل، غفلت، نخوت، که څه یوان دئ
دعـــالم عالم ، مادي معنوي زیان دئ
ستادي زهـــرسي خواږه اې زماقریبه!
چي په ځان دي یوعـــالم کئ بې نصیبه
لوی دښمن زمـــاوځانته یې اې یاره !
په چم چم دي کړم هـــلاك زمادلداره

( ۱ ) .صم بکم عمی فهم لایرجعون ( سوره بقره ۱۸ آیت ) او صم بکم عمی فهم لایعقلون ( سوره بقره ۱۷۱ آیت ) ته اشاره ده . یعنی کاڼه ، ګونګی ، ړانده دوی لارنه مومي . ( ۲ ) کي = کړي



زه ویده یم ته پـــرمالللووي وایي!
زه هلاك ابدي سوم، تـــه مي ستایې!
که زه ویښ سوم پـــه والله مي دئ قسم
چي په اورکي به دي پښوکي ومـــروړم
مابه څوك ویښ کي یارانـــوالغیاث
فرصت دپرتېرسو، خوانانـــوالغیاث
څه سوه اهل دحـــکمت د تعاون
چي خپل ځـــان یې وي هېرکړی لاپرون
زماپـــه ویښه کي فداکي داخپل ځان
زمـــاپه ګټه کي قبول کي(۱) هرڅه زیان
کارخانه د تـــعاون راته برپاکي(۲)
په برقي قوه ماویل کي ، بیامي ماکي(۳)
یوهنداره مـــاته راکي راست نمایشه
چي ښکاره کي مـــاته ځان ، بې ارایشه
د نخوت اود غـــرورله رنګه پاك
راته وښیي زمـــاځان او زمـــاادراك
که مي ولیدمخ پـــه داسي یوهنداره
تجلي به مي وګـــوري واردواره

( ۱ ) کي = کړي

( ۲ ) کي = کړي

زه طلب ددې هنداري کـــرم له تاسي
دبلا ( ۱ ) له کوره، ماکه څـــوك وباسي
زه به لمرسم ټول جهان پـــه کړم رڼا
تاریکه بـــــه پاته نسي پردنیا
داهنداره دهرچاپه کـــورکي سته ده
مګرداچي پـــه زنګارواغشته ده
زنګارڅه دي خـــانخاني خپل مطلبي
زه اخوند، ته سوې اغا، دا ســوه بي بي
په قانون دتـــــعاون انساني
نه اخوند، نه اغـــــا، نه خانخاني
که تاښه کول، زه ستافـــرمانبرداریم
پخپل سرومال ولاړ، اوفــــداکاریم
که مابدکول تــــه هیڅ نه یې معذور
څوچي زمـــابدي له مانه نکړې دور
خان ومال، اولاد په ټول زماپه تهذیب کې
صدقه کړي، زمابه هرڅه په نصیب کې(۲)
که داباب د تعاون پــرعالم خلاص سي
بدیهي ده چي سړي به تــول خواص سي
تعاون په عـــــقلاوو کي اساس دئ
بیاهمت پـــه تعاون کي زموږ په لاس دئ

( ۱ ) دبلا ـ دکندهارمحلي وراشه ده ،یعني زما یې په څه ، ( بمه چه ـ پارسی )

( ۲ ) کې = کړي



هرقـــــدرچي ترقي ده په دنیاکي
تـــــعاون هغه قدردئ په اداکي
داښکاره چي تـــــعاون انساني
هم په دین اودنیانلــــري ثاني
نوپښتونه! دابخت ته اول وغـــواړه
زماخوار، ودې ویناتـــه کښېږده غاړه
زموږ په کـــورکي یوهنداره ده زړه
هیڅ زنګار ورته لارنلـــــري رڼه
هرشی ښه پکښې معلوم دئ په تحقیق
د سباحـــــال یې پرون کړی تصدیق
له پلرو راپاته سوې ده لـــه فخره
اوپه دورکي پرته، زماپـــه بخره
زمـــــایوازې هیڅ قوه نه په رسیږي
دمړومـــــرانه غواړي چي جګیږي
راسه کښې یې ږدو پرسرد لـــورچارسو
ټول عالم پکښې وګوروله چارسو( ۱ )
پټ ولڅ بـــه راښکاره سي له دورا
نروښخه پـــه معلوم سي اشکارا
ګټه، زیان بـــه افتابي سي وجهان ته
هم غالب، مغلوب به ووزي وعیان ته

( ۱ ) له لومړي چارسو څخه مراد دکندهار دښار مرکز د چارسو چوك دئ او له دوهمه يې مطلب څلور خواوې دي . دتام تجنیس صنعت دئ .


وظيفه د تـــــعاون به موپرخای سي
دانسان افراد بــه ټوله خوشنمای سي
صلح کل اوتــرقي چي څه ممکن وي
دعالم دپاره هـــرڅه چي محسن وي
داهنداري(١) پـه رښتياوموږته نمايي
هرچي وايي، دروغ نسته، رشتياوايي
داجهان گـــرده صدقه تردي هنداره
چي ښکاره بـه کړي وموږته سمه لاره
« قندهار١٦جدي ١٣٠٥ ش »

ددغي منظومې په باب زموږدزماني مشرليکوال اروانباد محمدصديق روهي ليکي«دوجدان په باب دمولوي عبدالواسع کندهاري نظريه دده دژوندفلسفي تفکرزيږنده ده» اروانباد روهي د وجدان په باب دفيلسوفانونظرونه راوړي اووايي چي دځينوپه نظروجدان دانسان فطري صفت اودځينوپه عقيده بيافطري صفت نه دئ بلکه په ټولنه کي دانسان په موقف اړه لري. البته ددې خبري سپيناوی زمادليکني تربحث وتلې خبره ده ، خوداروانبادروهي په نزد وجدان دمولوي عبدالواسع په نظرهم دانسان فطري خاصيت نه دئ چي دشهودي مکتب پلويان بيادانظريه نه مني . (٢)

---

(١) هنداري ـ هنداره يې

(٢) روهي ـ محمد صديق ـ دپښتوادبياتوتاريخ (معاصره دوره) دانش کتابتون پېښور ١٩٩٩ م ٨٠ـ٩٧ مخونه .



رساله

(شناخت خدا)

جلّ جلاله

ازآثارقلمیهٔ خادم العلما (محمد عبدالواسع قندهاری) عفی عنه

بعدازمنظوری جناب جلالتمآب عالیقدر وزیرصاحب داخلیه سردارعالی (عبدالعزیز) خان، جهت نصاب تعلیم عمومی کارداران وماموین دولت علیه بمطبع ماشینخانهٔ کابل در سنه ۱۳۰ طبع شد

طبع اوّل ـــــــ ۱۰۰۰ هزار جلد

اروابښادمولوي عبدالواسع دخپل وخت يوزړه ورخطيب و. داسلامي احکامواوارشاداتودبيان په وخت کې دچاپروانه ساتله حقايق يې بې پردې بيانول. دجمعې په ورځوکې به يې دکابل په پل خشتي مسجدکې تبليغ کاوه. وايي چې د۱۳۰۳ ش کال په يوه جمعه يې دخطبې په ترڅ کې يې داولوالامردلياقت اوپوهې په اړه بيان ورکړ اووې ويل "په سياست اوجهانداری کې هغه څوك د مشری اوتقليدوړدئ، چې په دغواصولوښه پوهيږي اوپوره عالم اوماهروي... که کارنااهل اوناپوه ته وسپارل سي، پرمخ نه بلکې وراني ځيني پيښيږي." (۱) داخبره دده دمخالفينوله خواپاچاته بل رازتعبيرسوه اومولوي يې د پاچاپه نزد دهغه دمخالف په توگه معرفي کړ(۲). په داسې حال کې چې مولوي مرحوم داماني دورې دټولواصلاحاتوعملي اونظري مرستندوی اوحامي و. پاچايې دتوقيف امرورکړ اودکابل په توقيف خانه کې يې بندي کړ.دوه کاله وروسته کله چې اعليحضرت امان الله شاه دکندهارپه دوره دهغه ولايت دچارودتفتيش په نيت ولاړدکندهاردمعارفوچارې يې ډېرې خوښې سوې او د کندهار معارفود مديراروابښاد مولوي صالح محمدهوتك له اجراآتوڅخه يې پوره رضايت څرگندکړ. مولوي صالح محمدهوتك په دغه وخت کې د اروابښادمولوي

---

(۱) افغان ياد.... ۸ مخ . (۲) ددغه ناوړه اومغرضانه راپورونواغېزه موږداروابښادمولوي اوپاچاامان الله شاه ترمنځ په اړيکوکې هغه وخت ښه ليدلای سو چې دپغمان لويه جرگه راوغوښتل سوه (۱۳۰۲ ش) په دغه جرگه کې دوخت پاچاترخپلوځينواصلاحاتوتېرسواوکله چې به اروابښادمولوي دهغوپه تفسيراودمخالفينوپه خواب کې څه ويل پاچابه دمحافظه کارواومخالفينوپلوي کاوه.
(وگورئ : رويداد لويه جرگهٔ دارالسلطنهٔ کابل ـ صفحات ۱۲۱ ـ ۱۵۲ ـ ۱۸۴ ـ ۱۸۵)

عبدالواسع دماشوم زوی ( عبدالله ) په لاس د هغه د پلار دخوشي کېدوعریضه وروراندي کړه اوپاچایي سمدلاسه دخوشي کېدوامرورکړ. اروابنادمولوي عبدالواسع له بندي خاني څخه ترايله کېدووروسته له کابله کندهارته ولاړاودعمرترپايه پوري هورې و.

د اميرامان الله شاه روڼه دوره په يوې تراژيدۍ پای ته ورسېده . د هيواد چاري ، دوطن ددښمنانوپه لمسون ديوه جاهل اوناپوه شخص په مشري د غلواوداړه مارانويوې ډلي تــه وسپارلي سوې ( ۱۳۰۷ ش ) مولوي عبدالواسع دکندهارولايت ګڼ شمېر علما او ديني لاربښوونکي او اعيان دامان الله خان په پلوي ديوې فتوا صادرېدو ته را وبلل . يوه اعلاميه يې د « اعلامية مجلس اعيان قندهار » په نامه د طلوع افغان اخبارد اتم کال په دوهمه ګڼه کي خپره کړه چي دده پخپله او نورومشرانو لاسليك كړي وه . بله يې د « فتواى علماى عظام » په نامه دهماغه اخبار په اتمه ګڼه کي نشر کړه چي دده په ګډون اووه ويشتو تنو جيدو علماوو لاسليك كړي وه ( ۱ ) په دغه فتواکي د"بچه سقاء رژيم يومتغلب اومرتجع

---

( ۱ ) پر فتوا باندي دغه لاسليکونه سته : جمال الدين اخندزاده ساکزی ، ملا محمد عمر اخندزاده هوتك ، ملا بهاء الدين دميرهزار جامع خطيب (دنوموړي وراره کمال اخندزاده نومېدی چي په کندهار کي يې تر ورروستيو کلونو پوري د وکيل الدعوا کار کاوه ) ، ملا عبدالله ( دملافرح الدين اخند لمسی ) ، عبدالحـــميد اخندزاده ( متولي ) ، محمد علی صاحبزاده هوتك ( دذاکر له صاحبزاده ګانو څخه ) ، عبدالودود اخندزاده مشهور په توراغا ( نوموړی د مرحوم عبدالباقی صاحبزاده زوی و . مرحوم عبدالباقی صاحبزاده دذاکر شريف په صاحبزاده ګانو کي ډېر درونډ مقام درلود . په ۱۳۰۲ ش کال د قوس پر خلرمه دچارشنبې په ورځ وفات سوی دئ . دکندهار طلوع افغان اخبار يې د مړيني خبرخپورکړ او د « حضرت اجل جناب مستطاب ، قدوه السالکين ، زبده العارفين ، صاحب الفضل والکمالات ، مالك الخرق والكرامات ، عالم بينظير ، کامل روشن ضمير ... سرحلقة سالکان مسلك نقشبندی درقندهار ....» په درنوالقابو ياد کړی و ) ، ( پاته په راتلونکي مخ کي )



اوناأهل باغي رژيم" وبلل سو(۱) کله چي دغي باغي ډلي د ۱۳۰۸ ش کال په دوبي کي کندهارونيو، مولوي عبدالواسع يې داماني رژيم دپلوۍ په جرم کابل ته ځنځير و زولانه بوت اود"بچه سقاو" په امرېې دکابل په سياه سنګ کي له والي علي احمدخان سره يوځای(۲) په توپ کي والوزاوه .

علامه حبيبي ليکي کله چي يې مولوي عبدالواسع کابل ته راووست "بچه سقاوورته وويل چي تاپرمادکفرحکم کړئ دئ . نوځکه تاوژنم . مولوي په لوړږغ جواب ورکړئ چي استغفرالله! زه پراهل قبله دکفرحکم نه کوم. مګرته خوقاطع الطريق يې ، بايدلاس و پښه دي شرعا پرې سي." ( ۲ )

---

دتېر مخ دحاشيې پاته برخه :
ملاعبدالشکور بارکزی ( پخوانی قاضی القضات ) ،ملا احمدجان الکوزی ( دشاه جامع خطيب ) ، سيدمحمداسلم ، غلام دستګير اخندزاده پوپلزی ، عبدالقيوم اليزی ( دمرافعې قاضي ) ، ملاغلام محی الدين ، نظر محمد ( دابتداييه محکمې لوړی مفتي ، زوی يې وکيل صاحب نورمحمدخان دئ چي اوس په کابل کي اوسي ) ، محمد جان ساکزی ( دابتداييه محکمې مفتي ) ، خواجه محمد هوتك ( د ابتداييه محکمې قاضي ) ، محمد محسن مفتی ( نورزی ) ، جمعه خان مفتي ، عبدالرزاق اخندزاده الکوزی ، ملاعبدالحسين ، ملامحمدنذير ، ملاصالح محمد کاکړ ، خيرمحمد اخندزاده توخی(د مشهور مفسرعالم علی محمد اخندزاده زوی . علی محمد اخندزاده د ۱۳۰۴ ش کال داسد پرنهمه دشنبې په ورځ وفات سوی دئ . خبر يې د طلوع افغان د څلرم کال په ۴۹ ګڼه کي خپورسوی دئ ) ، ملاعبدالله کاکړ ( دکاليزو کوځي اوسېدونکی ) ، زوی يې ملا سعدالله نومېدی د کتابو سوداګر و ) ، ملا شرف الدين اخند لودين ( دکندهار مشهور مفسر او دخپل وخت ستر عالم ) او نصرالدين .

( ۱ ) افغان ياد ـ ۹ مخ ـ کابل ـ ۱۳۶۰ ش

( ۲ ) والی علي احمدخان دلويناب خوشدل خان زوی و چي دغازي امان الله خان دسلطنت ترسقوط وروسته په جلال اباد کي پاچهي اعلان کړې وه .

( ۳ ) افغان يادـــ ۸ مخ . دغه مطلب ميرمحمدصديق فرهنګ په (افغانستان در پنج قرن اجز ) جلددوم ۵۸۳ کي هم دعبارت په لږخه بدلون راوړی دئ .

دمولوي عبدالواسع درې زامن (م.عبدالخالق واسعي ، عبدالباري واسعي او عبدالله ) او اووه لوڼې پاته سوې . مېرمن يې دکندهارله يوې معززې کورنۍ څخه وه دميرزاجان محمدخان هوتك خورکېده . .لوڼې يې چې ټولي نهايت پرهېزګارې، قرآن خوانې اوعالمې پښتنې وې چې د هيواد د نامتو عالمانواوپوهانوپه کوروواده سوې وې .يوه لورېې د اروابناد قاضي عبدالصمدخان کاکړ(۱) مېرمن وه ، بله لورېې د ياقوت السيردمولف مولوي عبدالحق خروټي په کورنۍ کې داروابناد محمدقاسم اخونزاده عطار(۲) مېرمن کېدله . دريمه يې د پښتو ژبې دخواخوږي خدمتګاراروابنادمولوي صالح محمد هوتك مېرمن(۳ ) څلرمه يې د هيواددنامتوعالم اوفاضل اروابناد مولوي محمدامين خوګيانۍ (۴) مېرمن اوپنځمه يې دمحمدانورخان پوپلزي مېرمن وه .( ۵ )مشره لورېې په لالا محمد سعيد اوکشره لورېې د حاجي سلطان محمد هوتك (مشهورپه لالوجان ) واده وه .( ۶ )

---

( ۱ ) قاضي عبدالصمدخان کاکړ ( ۱۲۶۶ ـ ۱۳۳۸ ش ) د فيض محمد اخندزاده زوی او سيف الله اخندزاده لمسی کېدی چې دخپل وخت تکړه عالم . فصيح اوخطيب و . څه موده يې دقضا وظيفه هم کړې وه .د ويښ زلميانوپه تهضت کې يې دغړيتوب له امله څوکاله سياسي بندکاللی و .په پښتو اوپارسي يه دنظم ونثر آثاردهيوادپه نشراتوکې خپاره سوي دي .

( ۲ ) اروابناد محمدقاسم اخندزاده خروټی دکندهار دخروټودکوڅې ويړې علمي کورنۍ ته منسوب و چې دکندهار په هرات بازارکې يې دعطارۍ دوکان درلود . نهايت شريف اوپرهېزګاره سړی و . زوی يې څوانيمرګ عبدالغفورعطار (          مړ ) دلوړو تحصيلاتو څښتن او منور زلمی و .

( ۳ ) ( ۴ ) مولوي صالح محمد هوتك اومولوي محمدامين خوګيانی هغه سترشخصيتونه دي چې دعلمي کارنامويه باب يې دهيواد دعلم و فرهنګ څښتنانويه لسګونوکتابونوکې خورا زيات مطالب کښلي دي اودبيامعرفی محتاج نه دي . ( ۵ ) محمد انو خان پوپلزی ډېر معزز او مهذب سړی و چې دکندهار دارغندوا ولسوالی د باباصاحب په کلي کې اوسېدی . ( ۶ ) حاجي سلطان محمد هوتك د مرحوم ميرزاجان محمدخان هوتك زوی دئ چې اوس په کندهارکې اوسي .



# مولوي عبدالرب

مولوي عبدالرب دمولوي عبدالروف کاکړدوهم زوی اودمولوي عبدالواسع شهيدکشرورورچې د۱۲۹۵ هـ ق په شاوخواکې په کندهارکې زيږېدلی دئ . (۱) مروج علوم يې دخپلې کورنۍ په فرهنګي ماحول کې لوستي اوپه فقه، تفسير، حديث، فلسفه، منطق، اوحکمت کې داستادۍ درجې ته رسېدلی و. کله چې په هيواد دمشروطه غورځنګ مبارزې تودې وې، مولوي عبدالرب هم پکښې برخه درلوده اوپه همدې سبب له خپل مشرورورمولوي عبدالواسع سره يوځای بندي سوی هم وخواميرحبيب الله يې دپلاردعلمي مقام ددرناوی په خاطردخوشي کېدلو امر ورکړ.

مولوي عبدالرب داميرحبيب الله خان (سراج الملت والدين ) دحضورملااوپه سفروحضرکې ورسره ملګری و. اودهغه پرځنګ يې دکابل په مکاتبواودارالمعلمين کې دښوونکې په توګه وظيفې هم پرمخ بېولې دي . دغه راز يې له محمودطرزي سره په سراج الاخبارکې قلمي همکاري کوله اودعلامه حبيبي مرحوم دخولې خبره ده چې "ديني مضامين يې په اسلاميه فلسفه کې دتحقيق په نوی سبك خپرول".(۲)

---

(۱) په "افريده های مهجورعلامه حبيبي" کې يې دتولدکال ۱۲۹۴ ، ق ښوول سوی دئ .

(۲) جنبش مشروطيت ـ ۳۰ مخ ـ چاپ ۱۹۹۹

مولوي عبدالرب دجلال آبادپه هغه سفرکي له اميرحبيب الله خان سره ملګری وچي پکښي نوموړي اميرووژل سو ( ۲۱ فبروري۱۹۱۹ م ۱۸ جمادي الاول ۱۳۳۷ ق ) اوعجيب تصادف داوچي مولوي مرحوم په هماغه شپه په جلال آبادکي دلويې توبي په وجه وفات اوهوري ښخ سو.

دوفات په باب يې د"امان افغان" جريدې داسي کښلي و"جناب مستطاب مولوي عبدالرب خان مديرمکاتب ابتداييه ودارالمعلمين وملای حضوراعليحضرت شهيد ، که درمکتب حبيبيه ومکاتب ابتداييه خدماتي نماياني انجام داده بود ، بمرض محرقه درجلال آباد ګرفتاروآخرسرسام شده ، برحمت حق پيوستند... حقيقتا يك ضايعه بزرګ علميست ...که بارحلت ايشان مقام رياست شريعت درمملکت خالي ماند....". (۱)

مولوي عبدالرب دتاليفاتوڅښتن عالم دئ چي زياتره تاليفات يې ددرسي مقصدونوله پاره په دري ژبه کړي دي . په دې ډول:

۱ ـ سراج العقايد ـ دپنځم ټولګی له پاره ـ دکابل چاپ


۲ ـ دينيات څلورټوکه ـ دکابل چاپ له لومړی ټولګی څخه ترڅلورم ټولګی پوري.

۳ـــ اطاعت اولوالامر (دکابل چاپ ) . دارساله وروسته دمولوي صالح محمد هوتك له خواپه پښتوترجمه اوچاپ سوه ( ۱۳۳۴ ق ـ ماشينخانه دارالسلطنه کابل مطبعه سنګی )

۴ ـ سراج القضات ـ خطي

---

(۱) جنبش مشروطيت ۳۱ مخ ـ چاپ ۱۹۹۹ ( امان افغان ص۱۰ شماره اول۲۲ حمل ۱۲۹۸ ش )



سلسلهٔ مؤلفات بیت العلوم مبارکهٔ حبیبیه

قال النبي عليه السلام اطلبوا العلم ولو بالصين

سراج العقائد

حصهٔ اول

که بعد از

تصدیق قاضی القضات افغانستان و مواهیر اهل محکمهٔ شرعیه

دار السلطنهٔ کابل و محفل میزان التحقیقات الشرعیه بقرار تجویز سررشتهٔ

تعلیم عمومی افغانستان برای تعلیم درجه صبیانیه اولی سال سوم مقرر شده است

در مطبع اسلامیهٔ لاهور زیور طبع پوشید

سراج العقايد

دمولوي عبدالرب ليکنه

۵ ـ مقدمه فلسفه اسلامیه خطي

۶ ـ سراج السیر . دلاهورچاپ

۷ ـ سراج الفقه .دوه ټوکه دکابل چاپ ۱۳۳۱ ق

۸ ـ په سراج الاخبارکي دتفسیراواسلامي فلسفې په باب یوشمیرمقالې

۹ ـ سراج الاحکام په اسلامي فقه کي دکابل چاپ

خواهان اجرای هنر و کیش است و ختم کلام بر دعای مزید عمر و اقبال این خسرو

کامگار

و خدیو

نامدار

میرود

ای در بقای عمر تو خیر جهانیان

باقی مباد آنکه نخواهد بقای تو

المؤلف حقیر قلیل الفهم کثیر التقصیر

عبد الرب عفی الله عنه

## مولانا عبدالخالق واسعي

اروابښاد مولانا عبدالخالق واسعي چي دشهيد مولوي عبدالواسع اخندازاده مشرزوی دمولوي عبدالروف لمسی ، د عبدالرحيم اخندزاده کړوسی اود علامه حبواخندزاده کودی کيږي، دکندهارېومشهورعالم اوليکوال اودقرآن حافظ و. په ۱۳۱۹ ق کال دکندهارښاردباميزوپه کوڅه کي زيږېدلی دئ . مرحوم واسعي صاحب مروج علوم يې له خپل پلارڅخه لوستي اودعلامه عبدالحی حبيبي هم سبق و په عربي علوموپه تېره بيالغاتوکي لوی لاس درلود .

په اماني دوره کي يې رسمي ماموريت پيل کړ ( ۱۳۰۰ هـ ش ) اودقضاتودمکتب ښوونکی سو. دغه رازيې دکندهاردگنج په ښوونځي اوپه متوسطه مکتب کي هم دښوونکي په توگه وظيفه سرته رسولې ده . اروابښادواسعي صاحب د"پښتومرکې" غړی واودکندهارداديي انجمن له جوړېدوسره سم يې ( ۱۳۱۱ جدي هـ ش ) دهغه غړيتوب هم ترلاسه کړ .

دغه رازيې دانيس جريدې دليکيني د هيات د غړي په تـــوگه ( ۱۳۲۰ ش ) ، وروسته دمطبوعاتوپه مستقل رياست کي داژانس دپښتودارالترجمې دمديرپه حيث وظيفې سرته رسولې دي. په ۱۳۲۲ ش کي دپښتوټولني غړی سو اوکندهارته ولاړ. هورې يې دکندهارپه مطبوعاتوکي دمرستيال په توگه اوپه احمدشاه بابا لېسه کي دمنطق اوادبياتودښوونکي په توگه کارکړی دئ .



اروابښاد عبدالخالق واسعي

په ۱۳۳۰ ش کال یې د "وروروږغ" په نامه مجله چلوله(۱) اوله ۱۳۳۵ ش کال وروسته یې په پښتوټولنه کې دلغاتودمدیرپه توګه دنده درلوده .

داروانښادواسعي صاحب وروستی دنده په مشرانوجرګه دکندهاردسناتورپه توګه وه. ترتقاعدوروسته کندهارته ولاړاوهورې په خپله پلرنی مېنه کې واړول اود ثورترفاجعې پورې په کندهارکې و. اروانښاد واسعي صاحب په همدغه وخت کې چې دعمریې ډېر کلونه تېرسوي وو، دقرآن عظیم حفظ ته ملاوتړله اوټول قرآن یې حفظ کړ. په دغه وخت کې یې دخپل پلرني مسجدامامت هم کاوه .
واسعي صاحب ډېرمجلس آرایه سړی و. په خبروکې یې پندونه اوترېوې اندازې ظرافتونه هم و.

پراروانښادواسعي صاحب باندې دژوندډېرې سړې وتودې راغلې وې . په سقوي دوره کې چې یې پلار شهیدعبدالواسع اخندزاده داماني نهضت دپلویتوب په جرم په توپ کې والوزول سو، دی هم په کندهارکې دسقوي عمالوله خوا له مولوي صالح محمدهوتک سره یوځای توقیف اوهورې یې په مرګوني توګه ووهل سو ، خوان زوی یې ( عبدالنافع ) ورته خوانیمرګ سو، دمولوي صالح محمد هوتک دجنازې له بدرګې سره یې دکابل دهوایی ډګر پرلار موټر

(۱) وروروږغ مجله دپښتونستان دموضوع په ملاتړ په کندهارکې خپره سوه ( ۱۳۲۹ ش ددلوی ۱۵) موسس یې عبدالخالق واسعي اوهمکاران یې نظرمحمداخک، محمدابراهیم خواخوږی، ریډی ، عبدالروف مخلص، غلام محی دالدین ایوبي، محمدناصرنصرت اواروانښادخادم و. دامجله صرف دوې کنې خپره سوې ده . (پښتوخپروني ـ حبیب الله رفیع ـ لومړی ټوک ۱۳۵۶ ه )

تصادم وکړ ـ مېرمن ، زوی ، لور .. يې ځای پرځای مړه سول . بل ځوان زوی (ګلالی) يې په امريکاکي ترورسو اوجنازه يې کندهارته راوړل سوه چي دده پخپل لاس ښخه سوه . دريم ځوان زوی يې په امريکاکي له يوې معمولي ناروغي مړ اوځوانيمرګ سو.

ددې ټولومصايبوزغم يې ديوه معتقدمسلمان پښتانه په توګه وکړ اوشکايت يې چاوانه ورېد .

اروابښاد واسعي ته دروسي طاعون دراتګ له امله کندهار اور سواوکابل ته وکوچېد. په کابل کي يې دخيرخانې مېنې په لومړۍ برخه کي کورونيواوترمرګه پکښې واوسېد.

په ١٣٦٠ ش کال کي دزړه حمله پرراغله اوپه ابن سيناروغتون کي يوه ورځ بسترسو. پرناروغي يې زه (هوتك) حاضروم . دمرګ شولي اودزړه دحملې دردونه يې په مېړانه وزغمل اودهماغې ورځې په مازيګرکي يې پورېږې کړ اووفات سو، خدای دې وبخښي.

اروابښادواسعي صاحب په عربي ژبه کي دلوی لاس لرلوپه وجه له دغې ژبې څخه ډېري ترجمې کړي دي چي زياتره يې ناچاپې پاته اودپښتوټولني په ارشيف کي خوندي دي.

دمصري عالم سعدزغلول (جوامع الکلام) يې په پښتواړولی اونوم يې (بشپړه وېناوې) پراېښی دئ .

دفرانسوي يوه ګوستاولوبون مشهوراثر (روح الاجتماع) يې له عربي څخه په پښتوترجمه کړی دئ (ناچاپ)

روح الاعتدال له عربي څخه په پښتوژبا[illegible] اصل يې په فرانسوي ژبله ليکل سوی اوبيا انګرېزي ته اړول سوی اوله هغه



څخه يې عربي ته ترجمه کړی دئ . (ناچاپ)

روح التربيه له عربي څخه پښتوژباړه (ناچاپ)

الصحافه له عربي څخه پښتوژباړه (ناچاپ) مولف يې مصري عالم محمودسمهاني دی.

حصون حميديه له عربي څخه پښتوژباړلی دئ .داکتاب چي داسلامي عقايدوبيان پکښې دئ په عربي ژبه ديوه ترکي عالم په قلم ليکل سوی دئ . (ناچاپ)

"نړۍ په دوه زرم کال کي" له عربي څخه پښتوته رااړول سوی اوپه ١٣٣٦ ش کال پښتوټولني چاپ کړی دئ

شخصيت څنګه وده کوي؟ له عربي څخه پښتوته ترجمه کړی اوپه ١٣٤٠ ش کال دپښتوټولني له خواخپورسوی دئ .

په تاليفاتوکي يې يواثرد"پښتومتعدي مصدرونو" مجموعه ده . دااثريې د"پښتومرکې" له پاره ليکلی و اوددغې مرکې د نورو اثاروپه شان ورك سوی دئ

د"پښتوخودآموز" دمتلونوبرخه هم دده له خواليکل سوېده دغه اثرپه کندهارکي چاپ سوی دئ .

د"پښتني دودونه" دکتاب دکندهاربرخه يې هم ليکلې ده (١) .

اروابښادواسعي دقاموسونوپه باب ځيني مبتکري ليکني کړي دي چي دښاغلي عبدالحکيم هلالي په قول « ترننې ورځې پوري دپښتوقاموس ليکنې د تيورۍ په برخه کي بې د عبدالخالق

---

(١) پښتني دودونه په ١٣٣٦ ش کال دپښتوټولني دادبياتودڅانګي له خوا خپورسوی دئ . په ليکلوکي يې پراروابښادواسعي سربېره محمد ګلاب ننګرهاري ، محمدابراهيم ثابت او محمدعالم اتمان برخه اخيستې ده .

واسعي له څو تحقيقي مقالوڅخه ، په افغانستان کي بل چا څه نه دي ليکلي . واسعي دپښتو شعري او ادبي قاموس تر عنوان لاندي يولړ علمي او تحقيقي څېړني کړي چي په کابل مجله کې خپرې شوي دي » . ( ۱ )

دغه رازيې له کندهارڅخه دخپرېدونکي مجلې" پښتو " سره پراخه قلمي هکاري درلوده . ددغي مجلې د"اجتماعيات" ترلوی عنوان لاندي يې د"اولسي ژوند" په نامه ليکني خپرې سوېدي. دپښتومجلې د"اجتماعيات" په برخه کي دکندهاردپښتوانجمن نوروغړوهم برخه اخيستې ده.(۲)

واسعي صاحب په شعرهم گوتي وهلې خوپاللي يې نه دئ دشعرنمونه يې له "اوسني ليکوال" څخه رااخلو

## تياره اوښکلا


تل يې وگـــــوره چي تياره اوښکلا
دوه عنوانـــونه دغــــروب پرکتاب
ځيرورته گـــوره چه ښکلاهرمابنام
له تــــــــابېليږي دتياروپه حجاب
تــوله نړۍ باندي آرام شي حـــاکم
چه لمرپښنه کښيږدي دغروب پرركاب

( ۱ ) هلالی ـ دکتورعبدالحکیم ـ پښتوقاموس ليکنه ـ ۱۲ مخ ـ پښتوټولنه ـ ۱۳۵۴ ش ـ کابل .

( ۲ ) رفیع ـ حبیب الله ـ پښتوخپروني ـ ۲۶ مخ ـ کابل ۱۳۵۶ش



ځـــوچه سهارشي تياري مخ ونيسي
بيرته عـــالم دژوندون اورکړي کباب
لـمردافق پرژۍ جـــــــلی وليکل
چـــه عالم ړونددئ هم مغرورهم خطا
آيـــــــــادژوندفنازوال نه ويني؟
لکه تيـــاروچي زمـــــــارښاکړه تالا
کشکي لمرخپل تاريخ ليکلای همېش
چـي څـــه پيږي دي رژېدلي پخوا؟
دلمـــرنظام ته يـــوحـــيرت اخيستي
ختــو ، لـــــوېدويې سودايي کړه دنيا



داشجره دښاغلي نصیر هنرپښتون لخوا تهیه او خطاطي سوې ده . کاپي یې ماته ښاغلي میرویس حبیبي راولیږله اوما له دې کتاب سره مله کړه .



## علامه عبدالحی حبیبي

دعلامه حبیب الله کندهاري (حبواخندزاده) ددرنې کورنی پراسمان ترټولوروڼ اوځلاندستوری ارواښادعلامه پوهاندعبدالحی حبیبي دئ چې زموږ دهیواددمعاصرفرهنګي بهیرد"سرلاري" ویاړیې ګټلی دئ.

علامه عبدالحی حبیبي دعبدالحق اخونزاده زوی د عبدالرحیم اخونزاده شهیدلمسی دعلامه حبیب الله کندهاري کړوسی دملافیض الله کاکړ کوسی اودملابابړ مدرس کودی دئ چې د ۱۳۲۸ هـ ق کال دربیع الثاني پر۱۷ د پنجشنبې په ورځ (می ۱۹۱۰م) دکندهار ښار دبامیزوپه کوځه کې زیږېدلی و. د عبدالحق اخندزاده درې اولادونه پاته سوي دي. مشرزوی یې عبدالباقي نومېدی چې په ځواني کې داستسقاپه ناروغی مړسوی دئ. علامه عبدالحی حبیبي یې دوهم زوی اویوه لوریې(بی بی صاحبه) وه (۱)چې روزنه یې موروپرغاړه اخیستې وه .علامه مرحوم له وړکیني څخه دعلم اوپوهي لیوال و. دده دوړکیني زمانه د اعلیحضرت امیرامان الله خان له روښانه دورې سره برابره وه اوپه دغه روښانه دوره کې چې کندهارته هم د پوهي اومعارف لمن اوږده سوه ، ښوونځي اومکاتب جوړسول ـ علامه یې له لومړنیو زده

---

( ۱ ) بی بی صاحبه دکندهار د منور اوعلمي شخصیت اروانښاد محمدرسول پښتون بارکزي ( ۱۲۷۹ ـ ۱۳۶۱ ش ) مېرمن وه . دافغانستان دعلوم‌اکاډمی غړی او دهیواد هنرمند خطاط او څېړونکی ښاغلی نصیرهنر پښتون ددغي پښتنې مېرمني زوی دئ .





کوونکوڅخه واوپه ۱۲۹۹ ش دکندهارپه مکتب تجارکي شامل سو چي له فارغېدووروسته يې ( ۱۳۰۴ش ) په ۱۵ کلني کي دکندهارپه يوه لومړنی ښوونځی کي دښوونکي په توګه وظيفه ومونډله . علامه مرحوم پر ښوونځی سربېره دخپلي کورنی په علمي محيط کي هم درس وايه اوخپل داکازوی مولوي عبدالواسع اخندزاده شهيد ( ۱۳۰۸ ش ) ته پردرس کښېنوست . علامه مرحوم ورروسته ليکي "...ازپدرجزچندکتاب وکلکسيون های جرايدسراج الاخبار (کابل ) وحبل المتين (کلکته ) وکتب مرحوم محمودطرزي مدير (سراج الاخبار ) که درکابل طبع شده بودچيزی ديگر بارث نبردم. مثنوی مولوی بلخی و ديوان خواجه حافظ شيرازي وګلستان وبوستان شيخ سعدی ازکتابهايی بودکه درهمان سن طفوليت چشم من به آن اشنا شده بود ، هنگاميکه درمکتب ابتدايی درس ميخواندم کتب ابتدايی صرف ونحوعربی ورياضی وهيات وفقه واصول فقه ومنطق ميرومبادی بلاغت وعروض وقافيه راازعمزاده خود مرحوم مولوی عبدالواسع شهيدفراگرفتم ... وی درتدريس راه خاص واسلوب مستقيم وکوتاهی داشت و مرا در يکسال بمبادی اشنا ساخت." (۱) علامه مرحوم دخپلواستادانوپه لړکي دمولوي ابوالوفاکندهاري( ۱۹۷۵ م ) نوم اخلي اوليکي چي دغه مولوي مرحوم ددوی په کورني مسجدکي اوسېدی اوده ورڅخه " ادبيات اودقرات علم اوهغه کتابونه ولوستل چي منتهيان يې لولي " . علامه حبيبي مرحـــــــوم داحاديثوپه علم کي مولوي

---

( ۱ ) ژوندون مجله ـ شماره اسد، سنبله ۱۳۶۱ ش

عبدالواسع اومولوي ابوالوفادواړه دځان استادان بولي . (هماغه مجله ) دغه رازدخپل ژوند په وروستي اثر"جنبش مشروطیت درافغانستان" کي اروابناد شهید عبدالرحمن خان لودین هم په خپلو استادانوکي شمېري ( ۱ ) دغه رازیې په استادانوکي دحجت الاسلام شیخ محمدطاهر کندهاري نوم هم یادسوی دئ ( ۲ ) . له خپلواستادانوڅخه ددرس لوستلوپرځنګ یې د کابل د نویو ښوونځیومضامین لکه جغرافیاوطبیعیات وحساب اونورهم مطالعه کول. دی لیکي " در همین هنگام که درپیچ وخم صغری وکبری منطق واشکال اقلیدس وجازولایجوزدرحجرات مساجد ومدارس قدیم سرگردان بودم . جغرافیاوطبیعیات وحساب مکاتب جدیدکابل راهم مطالعه کردم و سراج الاخبار وحبل المتین رامیخواندم، بالاخره ازکاوه و ایرانشهر و ارمغان و الهلال سودهابردمی وحظهااندوختمی... " (هماغه مجله )

علامه مرحوم په اووه لس کلني کي ( ۱۳۰۶ ش ) دطلوع افغان جریدې دمرستیال په توګه وټاکل سو اوڅلورکاله وروسته دهماغي جریدې مدیری ته ورسېد . په همدغه وخت کي یې انګرېزي اوارودوژبي تریوې اندازې زده کړلې ، دومره چي د دغودواړو ژبو کتابونه په ولوستلای سي(۲ ) .

---

( ۱ ) جنبش مشروطیت ... ۶۵ مخ ـ چاپ ۱۹۹۹ . ( ۲ ) افغاني شمله ــ ۵۵ مخ .

( ۳ ) علامه مرحوم په اردوژبه دترجمې صلاحیت درلود او د ( چهارمقاله برفردوسی وشاهنامه ) نومی کتاب یې له اردو څخه په پارسي ژباړلی دئ . داکتاب دهندوستان پښتانه پروفیسر مرحوم محمودخان شیراني په اردو لیکلی او زموږ لوی استاد هغه په پارسي اړولی دئ . پارسي ترجمه یې د لوی استاد له سریزي اوتحشیې سره دبیهقي دکتاب خپرولو موسسې له خوا په ۱۳۵۵ش کال په کابل کي خپره سوې ده .

استادليکي چي دتاريخي څېړني اوپلټني روش يې له Combridge History of India اوجرجي زيدان اوشبلي نعماني اوسيدسليمان ندوي په شان دمصري اوهندي فاضلانوله ليکنوڅخه اودبرلين له کاوه جريدې اودعلامه محمدقزويني له ارزښتناکو اثاروڅخه زده کړي دئ .(هماغه مجله )

علامه مرحوم نهه کاله دطلوع افغان اخبارپه پښتوژبه وچلاوه. په دغه نهه کلنه موده کي استاددپښتوژبې اوادب پر ډګر پاخه بنستونه کښېښوول چي وروسته به پروړغيږو. په ۱۳۱۹ ش کال چي په کابل کي پښتوټولنه تاسيس سوه. علامه حبيبي مرحوم يې د رييس په توګه وټاکل سو اوپرڅنګ يې دمطبوعاتودمستقل رياست دمرستيالى وظيفه هم پرغاړه اخيستې وه .يوکال وروسته د معارفو په وزارت کي دمشاور(سلاکار) په توګه وټاکل سواودرې کاله وروسته يې په هيوادکي دلومړي ځل له پاره دادبياتوپوهنځی تاسيس کړ ( ۱۳۲۳ ش ) چي په پوهنځي کي يې د پښتو ادبياتو د تاريخ تدريس پخپله کاوه. دوه کاله وروسته کندهارته د معارفو د رييس په توګه ولېږل سو ( ۱۳۲۵ش ) . په ۱۳۲۶ ش کال له علمي وفرهنګي وظيفوڅخه ګوښه کړه سو اوپه چمن کي دافغاني سوداګرو د"وکيل التجار" په توګه يې کارپيل کړ . په ۱۳۲۷ ش کال دکندهارخلکوپه غيابت کي دهيوادپارلمان (دملي شوراوومي دورې) ته دخپل نماينده په توګه وټاکه (۱) . درې کاله يې د

( ۱ ) دښاغلي عبدالرحيم هاتف دخولې خبره ده چي وايي « هغه وخت يوازې په کابل کښې انتخابات په صندوق اوکاغذاوپتوعامه رايو وسوه نورچيري خصوصا په کندهارکښې دمشرانو په مجمع کښې ديوه کاغذپرمخ به هر جاخپل نظر امضا کاوه .( دحاشيې پاته برخه لطفا په راتلونکي مخ کي ولولئ )



هيواد په ملي شوراکي له نورملي مبارزينوسره څنګ پرڅنګ په هيوادکي دعدالت اومساوات له پاره فعاليت وکړ اود همدغو مبارزو له امله په ۱۳۳۰ ش کال له هيوادڅخه وتلوته مجبورکړه سو. لس کاله يې په پاکستان کي دهجرت ترخې شپې تېرې کړې (۱) . په ۱۳۴۱ ش کال بيرته هيوادته راستون سواوخپلوعلمي او تحقيقي فعاليتونوته يې دوام ورکړ . په ۱۳۴۴ ش کال يې دکابل پوهنتون له خواد پوهاندی علمي رتبه ترلاسه کړه . وروسته دانجمن تاريخ دموسسې رييس وټاکل سو( ۱۳۴۵ ش ) تردې وروسته يې د صدارت دفرهنګي سلاکاراووروسته داطلاعات اوکلتورروزارت دفرهنګي مشاورپه توګه وظايف درلودل اودغه وظيفې يې ترمړيني ادامه وموندل.

علامه مرحوم دخپل څه دپاسه نيمه پېړۍ فرهنګي فعاليت په

( دتېرمخ دحاشيې پاته ) هغه پانه به دوثيقې ضميمه مرکزته استول کېدله . کله چي حاجي اخترمحمدخان بارکزي خپل لاسليك کاوه ترهغه وړاندې يې دتاييدپه غرض هغه بيت چي دمولاناجلال الدين بلخي په ستاينه کښې ويل سوی و ، وکيښ چي وايي :

من چه گويم وصف آن عاليجناب ــ نيست پيغمبرولی داردکتاب » ( افغاني شمله ــ ۶۴ مخ )

حاجی اخترمحمد خان بارکزی دکندهار يو معزز سپين ږيری و . دده په نامه يوه جامع هم سته .

( ۱ ) ښاغلی اجمل ختك دعلامه مرحوم پرقبر څو تاريخي خبري وکړې چي زه ( هوتك ) يې شاهد وم . ده وويل چي « داموقع نه بيا ماته ميلاوېږي اونه يې تاسې موندلی شئ ... فکروکړئ دافغانستان له حکمرانانو نه ښه راغلی ودپاکستان حکمرانانو ورته دسرو او سپينوفرشونه جوړول . دده په وياړ يې جشن جوړکړ لېکن تاريخ ګواه دی، دپښتورمددخان جومات ګواه دی ، دپښتورمحب وطن ولسونه ګواه دي چي حکومت زور وکړ چي دده په خوله يولفظ دافغانستان خلاف ووايي . ده دافغانستان پرضد يولفظ هم دخولې نه ونه يوست . زه يې ګواه يم . زه ورسره سکرټروم دحکومت له خواورسره موظف وم ده ويلي وو چي ماسره دی ولېږی نوهم هلته يې ده ته هرڅه ورکول . خوده دخپلې خاورې اوخپل قوم خلاف يوه خبره ونه کړه . دايوېبل باب دی . پردې بندي شو . په دې ووهل شو . په دې ورټل شو خو هغه يې ونه کړه . » ( افغاني شمله ــ ۱۳۲ ــ ۱۳۳ مخونه )

ترخ کي خوراډېري نوښتګري هڅي کړي دي. په معاصرفرهنګي ډګرکي ترټولوزيات پرکارعالم و. دګوتود ستړياکلمه يې دژوند په قاموس کي نه وه اودهمدغې پرکارۍ محصول يې دده ترقلم واووښت. کله چي دمرګ پربسترپروت واومعالج ډاکترورته دبشپړ استراحت ، لږخوراک ، لږحرکت اولږ مطالعې توصيه کوله ، ده په ځواب کي ورته ويلمي وه «...آخرحضرت ملك الموت ته په انتظارکښېنم؟... په رښتياچي دملك الموت پذيرايي سخته ده .» (۱) وايي چي علامه مرحوم تروفات يوه ورځ مخکي يوعربي شعرپه پښتوترجمه کړ. علامه مرحوم په نړيواله سطح يوپېژندل سوی عالم و. د يونسکودنړيوالي موسسي نښان يې دکورپردروازه نصب سوی و چي داوياړ د هيواد دبل پوه په برخه نه و.

علامه حبيبي مرحوم د پښتواوپارسي فرهنګ دغه لاندي برخي دلومړي ځل له پاره پيل کړي دي :

ـ لومړی پښتواخبارليکنه دده په لاس پيل سوه .

دا اخبار دکندهار طلوع افغان و چي په ۱۳۰۰ ش کي د اروانښاد مولوي صالح محمد هوتك ( ۱۳۳۹ ش مړ ) په لاس تاسيس سو. په لومړي سرکي يې په پارسي او پښتودواړو نشرات کول خو په ۱۳۱۰ ش کي د علامه حبيبي مرحوم له خوا ټول په پښتو واړول سو او په دې ډول په هيواد کي دلومړني بشپړ پښتو اخبارتاداو کښېښوول سو .

ـ د پښتوادب تاريخ ليکنه ده پيل کړه .

(۱) داستادياد ـ دمقالومجموعه ـ ۱۹۵مخ ـ کابل ـ ۱۳۶۴ ش



دپښتو ادب تاريخ ليکني لومړی ځښته دعلامه مرحوم په لاس په طلوع افغان کي د « تاريخچهٔ شعر پښتو » تر نامه لاندي په ۱۳۱۴ ش کال کښېښوول سوه . دا اثر يې په پارسي ژبه ليکلی دئ چي وروسته يې بيا دهمدې موضوع په باب د « تاريخچهٔ شعر پښتو» په دوام د پښتو ادبياتو تاريخ څلور ټوکه وليکل او لومړی ټوك يې د ۱۳۲۵ ش کال ليکنه ده . ښاغلی سرمحقق زلمی هيوادمل ليکي چي « استادحبيبي نه يوازي په افغانستان کي دپښتوادبي تاريخ ليکني بنسټ ايښوونکی دئ بلکه دپښتنويه نوروفرهنګي حوزو لکه پېښور او کوټه کښي هم ترده دمخه چا ادبي تاريخ ليکلوته اقدام نه و کړی . » (۱)

ـ د پښتوژبي لرغوني متون واردواره دده په قلم په انتقادي توګه تهيه اوخپاره سول . په دې برخه کي دعلامه مرحوم لومړنی کار (دخوشحال خټك مرغلري ) دي چي په ۱۳۱۷ ش کال يې له کندهاره خپور کړ . او ورپسي يې دعبدالقادرخان خټك ديوان ( تله ـ ۱۳۱۷ ش له کندهاره ) ، لوی احمدشاه بابا ( ۱۳۱۹ ش له کابله ) ، پټه خزانه ( ۱۳۲۳ش له کابله ) ، تذکره الاوليا ( له کابله ) ، سواتنامه ( ۱۳۵۸ش له کابله ) خپاره کړل. دپښتو آثارو د انتقادي متون دبرابرولو په برخه کي د ځينو ختيځ پوهانو له خورو ورو کارونوڅخه وروسته په منظم او پرله پسې توګه لومړی ګام د پښتنويه ټولوفرهنګي حوزو کي ترعلامه مرحوم وړاندي چا نه دئ کړی .

(۱) افغاني شمله ـ ۸۴ مخ

ـ دروښاني ادب سیستماتیکه څېړنه په افغانستان کي اول وارده پیل کړه .

داڅېړنه دپښتوادبیاتوتاریخ له دوهم ټوک سره ملمه ده چي په ۱۳۴۲ش ( ۱۹۶۳ ع ) کي په کابل کي چاپ سوه . د روښاني غورځنګ په باب دپښتونخوا یو بل فاضل حافظ محمد عبدالقدوس دخیرالبیان دلومړي چاپ ( ۱۹۶۷ ع ) په سریزه کي خورا ګټوره ، عالمانه څېړنه کړې ده ( ۹۲ مخه ) او ارواښاد مولانا عبدالقادر دهمدې چاپ په پیل کي وایي چي « دخیرالبیان د دریافت نه څه زمانه مخکښې فاضل مولوی عبدالقدوس دبایزید روښان په حقله دپښتواکیډمی په مجله کښې ښه محققانه مضامین شایع کړي وو » ، خو علامه حبیبي په افغانستان کي لومړی شخص دئ چي د روښاني تحریك له ژوري مطالعې او څېړني وروسته یې ددغه غورځنګ سیاسي توب مدلل کړ . پخوا داسي فکر کېدئ او اوس هم یوشمېر کسان په دې عقیده دي چي روښاني غورځنګ یوازي یو مذهبي تحریك و چي وروسته یې سیاسي بڼه واخیستله . علامه مرحوم داثابته کړه چي دا تحریك له لویه سره سیاسي و او پر یوه واحد مرکزباندي دپښتنو د راغونډېدلو او له مغولو سره دهغوی دمبارزو دمنسجمولو په نیامت پیل سوی و .

ـ دخوشحال پېژندني لومړی خښته دده په لاس کښېښنوله سوه .

دخوشحال خان ختك په باب ابتدایي خبري له سراج الاخبار څخه مولوي غلام محی الدین افغان پیل او ارواښاد امین الله خان زمریالي وریسې په ۱۳۱۵ ش کال تعقیب کړې . خو علامه حبیبي



دخوشحال پېژندني تاداو په ۱۳۱۴ ش کال په تاریخچۀ شعر پښتو کي ایښې و او دښاغلي سرمحقق هیواد مل صاحب دوینا له مخي « استاد داکارونه په تاریخچۀ شعرپښتو کښې په ابتدایي ډول پیل کړل ، دخوشال مرغلرې اودعبدالقادرختك دېوان په مقدمه کښې یې پسې وپالل ، په تاریخچۀ سبکهای اشعارپښتو ، پښتانه شعراء لومړی ټوك ، دپښتوادبیاتوتاریخ دویم جزء ( د دابیاتو پوهنځی د پښتوڅانګې ددویم صنف له پاره ) ، دخوشال دجهانداری نظریه نومې اثر کښې یې ورته انکشاف ورکړ ، دخوشحال دسواتنامې ( د ۱۳۵۸ هـ ش کال چاپ ) دچاپ ته برابرولو اودخوشال بابا د دري سوم تلین له پاره دخوشال په اشعارو کښې انتقادي پانګه نومې اثر په لیکلوسره یې له خوشال پوهنې سره خپله مینه اثبات ته ورسوله » . ( ۱ )

ـ په پښتوشعرکي دسبك موضوع واردواره ده رامنځ ته کړه .

په پښتو شعر کي دسبك موضوع هم علامه مرحوم دلومړي ځل له پاره په تاریخچۀ سبکهای اشعار پښتوکي ( ۱۳۱۹ ش کال ) رامنځ ته کړه او ددغي موضوع لومړی خښته یې کښېښنوله .

ـ په افغانستان کي لومړی وار پښتولنډه کیسه دده په قلم وکښل سوه .

ـ د پښتو داستان لیکني لـــــومړی ګام هم دوی واخیست اود ( توریالی پښتنه ) په نامه یې داستان وشمه لیکنه ولیکله . په دې لیکنه کي دافغانستان دخپلواکۍ اخیستلو پر وخت د سپین

( ۱ ) ( افغاني شمله ـ ۸۶ مخ )

بولدك په محاذ كي ديوه توريالي كهول قرباني او سرښندني په خورا ښه توگه بيان سوي دي . داليکنه په اوسني ليکوال نومي کتاب کي « ډرامه » بلل سوې خو دپښتو پیاړې محقق ښاغلی زرين انځور پکښې د داستان او ډرامې ګډې خانګړتياوې ليدلې دي .( ۱ )

ــ په پښتوژبه آزادشعر دده له خولې وويل سو.

ــ په پښتوژبه کي د معاصري تذکره ليکني تاداو ده کښېښو.

معاصره پښتوتذکره ليکنه د پښتو ټولنې له جـــــوړېدو سره سم ( ۱۳۱۹ ش ) دعلامه مرحوم په لاس پيل سوه اودپښتانه شعراء لړۍ يې شروع کړه . دپښتانه شعراء لومړی ټوك يې په ۱۳۲۰ ش کال راوايست چي وروسته داسلسله پسې وپالل سوه او ترپنځم ټوکه پوري ورسېده .

دعلامه حبيبي په اکاډميکوکاروکي دپټې خزانې اودسليمان ماکودتذکرة الاوليا نشرډېره لويه هنگامه جوړه کړه. ځکه ددې آثاروله لاري لوستونکي دپښتونظم اونثرله ډېرولرغونوپېلګوسره اشناسول . پټې خزانې مخالفين اوموافقين ومونديل، چاجعلي کتـاب وبـالـه اوچـامـقـدس . پـه فـارسـي ، انـگرېـزي ، روسـي ، فرانسوي، الماني، عربي اواردوژبوژباړل سو. په رداوتاييدکي يې کورنيو او بهرنيو پوهانودعلامه مرحوم تر وفات وروسته پنډ پنډکتابونه وليکل . پخپله علامه مرحوم پخپل ژوند کي ددغه کتاب په باب خپل نظرداسي څرګندکړی و:

( ۱ )داستادياد ــ ۱۸۵ مخ ــ ۱۳۷۳ ش چاپ ــ کابل ــ دښاغلي انځور صاحب مقاله



«...ازوقتي که اين کتاب نشرشددرداخل وخارج درباره آن دراين مدت سی سال گفتگوهابعمل آمدوسخن هاگفته شد، وبراصالت آن شکوك وظنون اظهارگرديد، وبرخي آنرامجعول اين حقير، وجمعی ساخته وپرداخته مولف آن محمدهوتك درحدود ۱۱۴۱ق ۱۷۲۹م دانستند... ولی هيچ يکی ازنقادان محترم قلم نبرداشت که انتقادعلمی ونظرهای مستند خودرابنويسد ونشرنمايد، تااگرآن سخنهامستدل وبرمعاييرعلمی مطابق باشد، شنيده وپذيرفته شود،واگردرخور ردوانتقادباشدبه ترديد وتنقيح وتسخيف آن پرداخته ايد.» ( ۱ ) اوورپسې زياتوي « ...من نه بحيث مدافع مطلق اين کتاب درينجاگپ ميزنم بلکه می خواهم شنيدگيهای خودراتنهاازنظرعلمي تحليل کنم واگربعدازين هم کسی براساس علمی چيزی بنوسيديابگويدآنرابدون تعصب وتربدباحوصله وسيع شنيد، واگرسخن علمی ومستدل ودرخورتامل وتفکرباشد، بايدآنراموردغوروبحث وتحقيق قرارداد.»

( ۱ ) پټه خزانه ــ عکسي چاپ ــ سريزه ــ ۳مخ ــ دريم چاپ ــ ۱۳۵۴ش ــ کابل

اثاریې :

په دې برخه کې به زه داستادعلامه حبیبي اثارپه کرونولوژیکي توګه راوړم .

۱ ــ په پاړسي اوپښتوژبه دطلوع افغان جریدې چلول ( ۱۳۱۰ ـ ۱۳۱۹ش )

۲ ـ تاریخچه ادبیات پښتو (پاړسي ) کندهار ـ ۱۳۱۱ ش(۱) .

۳ــ سردارمهردل خان مشرقي شاعرقندهاري(پاړسي ) ـ کابل ـ ۱۳۱۲ش

۴ ــ اشعارودېوان تیمورشاه افغان(پاړسي ) کابل ـ ۱۳۱۳ش.

۵ ـ تاریخچه شعرپشتو ـ(پاړسي ) ـ کندهار ـ ۱۳۱۴ ش

۶ــ خودآموزپښتو (دوه ټوکه ) دنورولیکوالوپه مرسته کندهار ـ ۱۳۱۴ش

۷ ـ پیغام شهید ـ (پاړسي مثنوي ) ـ کابل ـ ۱۳۱۴ش

۸ ــ محقق قندهاری شرح حال وآثارمولوی حبیب الله قندهاري (پاړسي ) ـ کابل ـ ۱۳۱۴ ش

---

( ۱ ) ددغه اثریادونه اودچاپ کال ماله (اوسني لیکوال ) نومي کتاب څخه رانقل کړل چې علامه مرحوم پخپله دکتاب لیکول (اروانبادبېنوا ) ته ورلېږلې وه. په نوروځایوکې یې یادونه نسته . په (آفریده های مهجورعلامه حبیبي ) کې ددغه اثراو (تاریخچه سبکهای شعرپشتو ) دچاپ کال اوځای سره الیش سوي اوپه (افغاني شمله ) نومي مجموعه ( ۱۷ مخ ) کې هم تکرار سوي دي .دغې ګډوډی زماپرهغه لیکنه چې په (افغاني شمله ) کې خپره سوې ، هم اغېزه کړې ده . ماهوري داستادلومړی چاپ سوی اثرهمدابللی دئ . داستادلومړی چاپ سوی اثربايد (تاریخچه ادبیات پشتو ) وبولو. (تاریخچه سبکهای شعرپشتو ) د۱۳۱۹ش کال په کالنۍ کې په بشپړه توګه خپره سوېده . دا احتمال لیري نه دئ چې ( تاریخچه ادبیات پشتو ) او (تاریخچه شعرپشتو ) دې دیوه اثردوه نومه وي که داسي وي ، نوبیاداستادلومړی چاپ سوی اثرلکه په (افغاني شمله ـ ۴مخ ) چې ویل سوي دي ، ( سردارمهردلخان مشرقي شاعرقندهاري ) دئ چې په ۱۳۱۲ ش کې خپورسوی دئ .



۹ ـ غزنه (پاړسي مثنوي ) ـ کابل ـ ۱۳۱۵ ش

۱۰ ـ ملي پسرلی (پښتونظم ) ـ کندهار ـ ۱۳۱۷ ش

۱۱ ـ وضع اصطلاحات پښتو ـ کندهار ـ ۱۳۱۷ ش

۱۲ ـ افغان اوافغانیت ـ (پښتو ) کندهار ـ ۱۳۱۷ ش

۱۳ ـ دعبدالقادرخان خټك دېوان ـ سریزه اوترتیب ـ کندهار ـ ۱۳۱۷ ش

۱۴ ـ دخوشحال خان خټك ملغلري ـ سریزه اوترتیب تصحیح اومقابله ـ کندهار ـ ۱۳۱۷ ش

۱۵ ـ سپېڅلې پښتو (دلعل محمدکاکړپه مرسته ) کندهار ـ ۱۳۱۸ش . په دې قاموس کې دپاړسي لس زره لغت په پښتواړول سوي اوپرفیلالوژي باندې یوه اوږده سریزه هم ورباندې زیاته سوې ده .

۱۶ ـ تاریخچه سبکهای شعرپشتو (په پاړسي ژبه ) کابل ـ ۱۳۱۹ش

۱۷ ـ مشاهیرابدالیان (په پښتو ) کابل ۱۳۱۹ش . په دې اثرکې ترلوی احمدشاه بابا وړاندې ابدالي مشاهیرراپېژندل سوي دي.

۱۸ ـ پښتانه شعراء ـ لومړی ټوك (پښتو )کابل ۱۳۲۰ ش دا اثر دوهم وارپه پېښورکې په مسخ سوې بڼه چاپ سوی دئ( ۱۹۵۱ م ) اومااوربدلي دي چې استادله دغه چاپه ناخوښه و .

۱۹ ـ لوي احمدشاه بابا دېوان ـ تصحیح مقابله اوسریزه ـ کابل ۱۳۲۰ش

۲۰ ـ جوانمردان وعیاران (پاړسي ) کابل ۱۳۲۱ ش

۲۱ ـ پټه خزانه ـ تصحیح ترجمه اوتعلیقات ـ کابل ۱۳۲۳ ش دااثردوهم وارپه تهران کې ( ۱۳۴۰ ش )، دریم وارپه کابل کې

۱۳۵۴ش

۲۲ ـ زرنج واحوال تاریخي آن(پاړسي) کابل ۱۳۲۴ ش

۲۳ـ تحقیقات راجع به پټه خزانه ـ کابل ۱۳۲۴ ش؟

۲۴ ـ پښتوڅېړني ـ دفرانسوي ختیځ پېوه دارمستستردلیکني پښتوژباړه (۱۳۲۵ ش) دسیدقاسم رشتیااوعبدالروف بېنواپه مرسته.

۲۵ ـ دپښتوادبیاتوتاریخ ـ لومړی ټوک ـ دادبیاتوپوهنځي ـ کابل ۱۳۲۵ ش

۲۶ ـ تاریخچه بیداري سیاسي درافغانستان ـ پېښور۱۳۲۹ش دا اثر په "آزادافغانستان" نومي اخبارکي په پرله پسي توګه خپور سوی دئ .

۲۷ ـ تحقیقات راجع به ترجمان البلاغه رادویاني (پاړسي) کابل ۱۳۳۰ ش

۲۸ ـ مورخان گمنام افغان ـ کابل کالنی چاپ ۱۳۳۳ش

۲۹ ـ خلیلي نامه (پاړسي مثنوي) پېښور۱۳۳۴ ش

۳۰ ـ روابط ادبي سندباافغانستان ـ کراچي ۱۳۳۷ ش

۳۱ ـ تازه نوای معارك ـ تصحیح تحشیه ـ مقابله ـ تعلیقات ـ کراچي ۱۳۳۷ ش

۳۲ ـ شاعرهیرمندهارون افغان(پاړسي) کراچي ۱۳۳۸ ش .ددغه شاعرپه باب یې دتهران دیغما په مجله (شماره اول ۱۳۳۹ش) د کي د چارلس ریوديوې تېروتني په باب مفصله څېړنه کړې ده . چارلس ریو نومړی هارون خان دشمس الدین محمدله زوی هارون سره چي ۶۵۰ ق په شاوخوا کي ژوندی و، اشتباه کړی دئ . هارون خان افغان دحاجي جمال خان بارکزي زوی و چي د ژوند



زمانه یې ۱۲۰۰ ق حدوددي.

۳۳ ـ کتاب های گم شده تاریخ غزنوي(پاړسي) کراچي (یوه برخه) ۱۳۳۸ ش

۳۴ـ دشیخ الاسلام عبدالله انصاري سیرت اوشخصیت ـ کابل ۱۳۴۱ ش

۳۵ ـ دپښتوادبیاتوتاریخ ـ دوهم ټوك ـ کابل ۱۳۴۲ ش . په دې کتاب کي یې داسلام له پیل څخه بیاترزرم هجري کال پوري پښتوادب څېړلی دئ .

۳۶ ـ تاریخ افغانستان درعصرتیموریان هند (پاړسي) کابل ۱۳۴۲ ش

۳۷ ـ پښتوولویکان غزنه ـ یك تحقیق جدیددرتاریخ غزنه وتاریخ ادبیات پښتو ـ کابل ۱۳۴۲ ش

۳۸ ـ طبقات صوفیه ـ دشیخ الاسلام عبدالله هروي ـ تصحیح تحشیه مقابله اوتعلیق ـ کابل

۳۹ ـ صدمیدان ـ دخواجه عبدالله انصاري هروي ـ تصحیح وترتیب ـ کابل ۱۳۴۲ ش

۴۰ ـ زبان دوهزارساله افغانستان یامادرزبان دري( دبغلان دکتیبې تحلیل) کابل ۱۳۴۲ ش

۴۱ ـ نگاهي به سلامان وابسال (پاړسي) ـ کابل ۱۳۴۲ش

۴۲ ـ طبقات ناصري ـ دمنهاج سراج جوزجاني ـ تصحیح مقابله تحشیه اوتعلیق ـ کابل ۱۳۴۳ ش . داکتاب یې واردواره په دوو ټوکوکي په سنګي چاپ په کویټه اولاهورکي خپورکړی و۱۳۴۹ ـ

٤٣ ـ رساله سررشته طريقت خواجگان ازجامي ـ کابل ١٣٤٣ش

٤٤ ـ افغانستان بعدازاسلام لومړی ټوک (پاړسي) کابل ١٣٤٥ ش . داکتاب دوهم وارپه ١٣٥٧ ش کال په کابل کي بياچاپ سو.

٤٥ ـ تصوف دري ـ کابل پوهنتون ١٣٤٦ ش

٤٦ ـ پښتودتاريخ اولغت په رڼاکي ـ کابل (ورمه) ١٣٤٧ ش

٤٧ ـ تاريخ مختصرافغانستان ـ دوه ټوکه ـ کابل ١٣٤٧ ش

٤٨ ـ دپښتوادبياتوتاريخ ـ دپوهنځی ددريم ټولگی ـ کابل ١٣٤٧ش

٤٩ ـ دپښتوادبياتوتاريخ ـ دپوهنځی دڅلورم ټولگی ـ کابل ١٣٤٧ش

٥٠ ـ زين الاخبارگرديزي ـ تصحيح مقابله تحشيه او تعليق (پاړسي) ـ کابل ١٣٤٧ ش

٥١ ـ رهنمای تاريخ افغانستان درکتب فارسي عربي واردو ـ کابل ١٣٤٨ ش

٥٢ ـ تاج کابلشاه درکعبه ـ کابل ١٣٤٨ ش

٥٣ ـ سواداعظم ـ تصحيح مقابله اوتعليق ـ تهران ١٣٤٨ ش

٥٤ ـ ملتان کالودی شاهی خاندان (اردو) ـ لاهور١٣٤٩ ش

٥٥ ـ اصل خلجيان افغانی (رفع اشتباه درباره ايشان) ـ تهران ١٣٤٩ ش (ددې اثرانگرېزي ژباړه دامېرخسرودهلوي په باب دمقالوپه مجموعه کي چاپ سوي ده) .

٥٦ ـ فضايل بلخ ـ تصحيح مقابله وتعليق ـ تهران ١٣٤٩ ش

٥٧ ـ هفت کتيبه قديم(پاړسي) کابل ١٣٥٠ ش

٥٨ ـ تاريخچه خط درافغانستان ـ کابل ١٣٥٠ ش



٥٩ ـ دالبيروني کتابښود (پښتو) کابل ١٣٥٢ ش

٦٠ ـ شرح بيتين مثنوي ـ دمهردلخان مشرقي ـ ترتيب اوسريزه ـ کابل ١٣٥٢ ش

٦١ ـ کتابشناسي البيروني (ترجمه وتکمله) ـ تهران ١٣٥٢ ش

٦٢ ـ شاعرانديشه(مولاناجلال الدين بلخي) کابل ١٣٥٣ ش

٦٣ ـ پيرروښان (دروښان پيرعصراودده غورځنگ) دخيرالبيان سريزه ـ کابل ١٣٥٣ ش

٦٤ ـ ظهيرالدين محمدبابر(زندگاني وشخصيت او)(پاړسي) کابل ١٣٥٣ ش

٦٥ ـ دافغانستان پېښليك ـ کابل ١٣٥٣ ش

٦٦ ـ هنرعصرتيموريان (پاړسي) تهران ـ ١٣٥٥ ش

٦٧ ـ مدرسه شاه مشهدغرجستان وبنای مرقدسالارجليل در کميسان بلخ (دهنرمردم په مجله کي) تهران ١٣٥٥ ش

٦٨ ـ فردوسي وشاهنامه ـ د پروفيسرشيراني ـ(له اردوڅخه ژباړه) سريزه اوتحشيه ـ کابل ١٣٥٥ ش . دااثرپه اردوژبه په ١٣٤٢ م کال دهنددهلي ښاردانجمن ترقي اردوله خواچاپ سوئ دئ . پاړسي ترجمه يې په ١٣٥٥ ش په کابل کي خپره سوه . په (آفريده های مهجورعلامه حبيبي) اوافغاني شمله کي يې دچاپ کال مغشوش دئ .

٦٩ ـ نسب وزادگاه سيدجمال الدين الافغاني (پاړسي) کابل ١٣٥٥ ش

٧٠ ـ منازل السايرين د.ردايرهٔ وجود ـ کابل ١٣٥٥ ش

٧١ ـ دپښتوژبي اوادب موقف دمرکزي ايشيادخلکوپه

تمدنونوکي(پښتو- انګرېزي ) کابل ۱۳۵۶ ش انګرېزي ژباړه يې دعلامه حبيبي نه ده .

۷۲ - انتخابي ازحديقه حکيم سنايي(انتقادي متن) کابل ۱۳۵۶ش .

۷۳ - دافغانستان لنډتاريخ (پښتو) کابل ۱۳۵۶ ش . دا اثر اروانښاد ښهنواپه پښتوژباړلی دئ ورسته ښاغلي الحاج عبدالودودکرزي او ښاغلي داود وفا په ۱۳۷۸ ش کال بيا ترجمه او چاپ کړ !

۷۴ - تحقيق بروفات سنايي - تهران (يغما مجله) ۱۳۵۶ ش

۷۵ - تعليقات برتاريخ تلفظ وصرف پښتو- کابل ۱۳۵۶ ش .
دااثردفرانسوي ختيځ پوه جيمزدارمستتردئ ....

۷۶ - خودی وبيخودی دراندیشه اقبال (پاړسي) - (مجله ادب) کابل ۱۳۵۶ ش

۷۷ - نظري برادبيات پښتو - کابل ۱۳۵۷ ش(په آفريده ها...
کي يې "ترجمه ازعربي توسط سمندر" ګڼل سوی دئ )

۷۸ - متون دري - دکابل پوهنتوچاپ - ۱۳۵۷ ش

۷۹ - دپښتوادب په تاريخ کي قصيده - کابل ۱۳۵۷ ش

۸۰ - لغت البشتو(عربي) قاهره ۱۳۵۷ ش (داکتاب په آفريده هااونوروکي تاريخچه مختصرادبيات پشتوبلل سوی دئ ؟)

۸۱ - نامهای برخی ازایزدان عصرکوشانی واثرهای باقیمانده آن درادب والسنه افغانستان - کابل ۱۳۵۷ ش

۸۲ - منابع اولی تاريخ هنرکتاب سازی درعصرتيموريان - د يونسکو چاپ - ۱۳۵۸ ش . ددغه اثرانګرېزي ژباړه په لندن کي



چاپ سوې ده ۱۹۷۹ م

۸۳ - سواتنامه - خوشحال خان ختک - سريزه تحشيه اوتعليقات - کابل ۱۳۵۸ ش

۸۴ - نومورکي مورخين (پښتو) کابل ۱۳۵۹ ش

۸۵ - دکوشاني عصراديان(انګرېزي) - ديونسکوپه فرمايش د کوشاني البوم له پاره ۱۳۵۹ ش

۸۶ - بابرپه افغانستان کي(انګرېزي) فرانسه ۱۳۵۹ ( ۱۹۸۰م)

۸۷ - روضت الفريقين - دابورجامومل ابن مسرورشاشي مروی (پاړسي) تصحيح وتعليق - تهران ۱۳۵۹ ش

۸۸ - زندګينامه ابن سينا (پاړسي) کابل ۱۳۵۹ ش

۸۹ - شناختنامه ميافقيرالله جلال آبادی - دمکتوباتوسريزه - کابل ۱۳۵۹ ش

۹۰ - دبوعلي سينابلخي ژوندليک (پښتو) کابل ۱۳۵۹ ش

۹۱ - دميافقيرالله پېژندليک (پښتو) کابل ۱۳۵۹ ش

۹۲ - په اوسني پښتوکي شعرکي دژوندځپې (پښتو) کابل ۱۳۶۰ ش

۹۳ - په شلمه پېړۍ کي دافغانستان هنر(پښتو) کابل (دهنرمجله) ۱۳۶۰ ش

۹۴ - پښتونثرته کره کتنه - کابل ۱۳۶۰ ش

۹۵ - تاريخ ګويی به تعميه دراشعارقديم دري - کابل ۱۳۶۰ ش

۹۶ - داميرعلي شيرنوايی فکري اوسياسي شخصيت - کابل ۱۳۶۰ ش

۹۷ - اسماني نغمې اولاهوتي سرودونه (پښتو) کابل ۱۳۶۱ ش

۹۸ ـ امیرکروړودومان او (پاړسي) کابل ۱۳۶۱ ش

۹۹ ـ پنجاه مقاله حبیبي ـ کابل ۱۳۶۲ ش

۱۰۰ ـ جنبش مشروطیت درافغانستان (پاړسي) کابل ۱۳۶۳ ش . ترمرگ وروسته يې چاپ سو.

۱۰۱ ـ مجمع الغرایب ومزارعلوی دربلخ (پاړسي)

۱۰۲ ـ جغرافیای تاریخی افغانستان (پاړسي) ـ څوبرخي يې چاپ سوي دي.

۱۰۳ ـ تاریخ تجزیهٔ شاهنشاهی افغان ـ نوی چاپ

۱۰۴ ـ درد دل وپیام عصر ـ نوی چاپ

دعلامه عبدالحی حبیبي دري زامن اویوه لور پاته دي چي تر ننه پوري ( ۱۳۸۰ ش ) ټول ژوندي دي .

ډاکټرحبیب الله حبیبي

دعلامه عبدالحي حبیبي مشر زوی دئ چي په ۱۳۱۸ ش کال دلبندی پرلسمه دکندهارپه نوي ښارکي زېږېدلی دئ .لومړنی زدکړي يې دکندهارښارپه شالمار ښوونځي کي پیل کړي اولومړی ټولگی يې د کندهاردتوپخاني په مکتب ، دوهم او دریم ټولگی يې په چمن کي هغه وخت چي پلار مرحوم يې دافغاني وکیل التجار په توگه هورې وظیفه درلوده ، پای ته رسولی ، څلورم ټولگی يې دکابل ښارپه غازي لیسه کي ، له پنځمه تر اتم ټولگي پوري يې په پېښورکي او له اتمه تر څورلسم ټولگي پوري يې په کراچی کي درس لوستی دئ . پنځلسم اوشپاړسم ټولگی يې دکابل پوهنتون په ساینس پوهنځي کي بشپړکړی اوتر څومیاشتو معلمی وروسته يې په طب پوهنځي کي خپلو لوړو زدکړوته دوام ورکړی دئ چي تر



فارغېدلو وروسته يې دکابل په ابن سینا روغتون ، دجلال آباد ښار په ملکي روغتون او دکابل د وزیراکبرخان روغتون دانتاني ناروغیو په څانگه کي دډاکټر په توگه کار کړی دئ . په ۱۹۷۶ م کال دعالي تحصیلاتو لپاره کاناډا ته تللی او په ۱۹۸۷ م کال دامریکا د داخلي امراضو دتخصص له ازمویني څخه تربریالي کېدو وروسته تر ننه پوري د امریکاپه باستن ښارکي د داخله ډاکټر په توگه کار کوي . دخپل مسلك څیني څېړنیزي لیکني يې دامریکاپه طبي مجلوکي خپري سوي دي .

ډاکټر حبیب الله حبیبي دده دخپلي وینا له مخي دگوښه گیر طبیعت څښتن دئ .په جوله تر خپل عمر ډېر خوان ښکاري . یوه لور لري چي پرتمینه نومېږي او وایي چي دنامه په ایښودلو کي يې دشیخ متي بابا دا شعر ( که غردئ ښکلی پرتمین دئ ) اغېزه دخیله ده .

انجنیرمیرویس حبیبي

دعلامه حبیبي مرحوم منځوی زوی دئ چي د۱۹۴۲ ع کال دمی پر شلمه په کابل کي پیداسوی دئ . لومړني تعلیمات يې دکابل په عالي تخنیك کي کړي اوپه ۱۹۶۲ ع کال دکابل پوهنتون په انجیري پوهنځي کي شامل اوپه ۱۹۶۷ ع کال دهماغه پوهنځي له ساختماني څانگي څخه اول نمره فارغ سوی دئ . ماسټري له لندن یونیورسیټی څخه د Health Facilities Planning په څانگه کي اخیستي ده . رسمي کار يې دروغتیا وزارت دروغتیایي چاپېریال په څانگه کي پیل کړی او دافغانستان دځینو سیمه ییزو روغتونونودساختماني چارو او پلان گذاری په برخه کي فعاله ونډه





اخیستې ده چې په هغوکې د جلال اباد دوه سوه بستریز روغتون ، د کندهار ۲۵۰ بستریز روغتون او هرات د ۲۰۰ بستریز روغتون نومونه یادولای سو .

انجنیر میرویس حبیبي په ۱۹۸۲ کال له هیواده مهاجر سوی او په پاکستان او هندوستان کې له څه خنډ وروسته په ۱۹۸۳ ع کال دامریکا متحده ایالاتو ته له خپلې کورنی سره راغلی دئ . اوس په New York City Health and Hospital Corporation کې د Senior Health Facilities Planner په توګه کار کوي . پخپله تخصصي څانګه کې لیکلې آثار لري چې په لندن او امریکا کې چاپ سوي دي او پرڅنګ یې شعري ذوق هم پالي او په پښتو ، دري ، اردو ، او انګریزي یې څه شعرونه ویلي هم دي . انجینیر میرویس حبیبي متاهل دئ او دوه اولاده لري چې دواړه دعالي تحصیلاتو څښتنان دي .

ډاکټرخوشحال حبیبي

دعلامه حبیبي مرحوم کشر زوی دئ چې په ۱۳۲۵ ش ـ ۱۹۴۶ ع کې په کابل کې زیږېدلی دئ . لومړنی زده کړې یې په پېښور او کراچي کې ، هغه وخت چې کورنی یې دپردېسی شپې تېرولې ، سرته رسولي دي . په ۱۳۵۲ ش کال دکابل پوهنتون دعلوموپوهنځي څخه فارغه سوی دئ . دعسکري خدمت له تېرېدو وروسته یې دکرنې وزارت د ملي پارکونو په څانګه کې یې کار پیل کړ او دخپلې دندې په لړ کې یې دهیواد بیلابیلې سیمې لکه واخان دره ، دپامیر غرونه ، دغورات او هزاره جات درې ، د ریګستان دښتونه او دنیمروز هامون کتلي او څېړلي دي . په دغه

وخت کي دجمهوري حکومت په پلان کي د افغانستان دملي پارکونودبنسټ ایښوولو پروژه شامله وه او خوشحال حبیبي دهمدې پروژې فعال غړی و . په دې لړ کي یې له یوه بورس څخه په استفادې سره دعالي تحصیلاتودبشپړېدو په غرض د امریکا د مشیګن ایالت په مشیګن سټېټ پوهنتون کي شامل او په ۱۳۶۷ ش کال یې د بیالوژۍ په څانګه کي دوکتورا واخیستله . خوشحال حبیبي په تېرو دوو لسیزو کي دکرني له بېلابیلو نړیوالوموسسو لکه دنړۍ دکرني موسسه ، دنړۍ دحفاظت اتحادیه اود سعودي عربستان دطبیعي منابعودساتني له ټولني سره کار کړی دئ . د رسمي وظیفې پرڅنګ یې په خپله تخصصي څانګه کي یولړ علمي مضامین کښلي چي په بیلابېلو علمي رسالو کي چاپ سوي دي . دغه راز یې دحیواناتودژوند او سلوك په باب درې مستقل کتابونه لیکلي دي .

ډاکټر خوشحال حبیبي ادبي ذوق هم پالي . دخپل مرحوم پلار ناچاپه آثار ( درد دل وپیام عصر ، تاریخ تجزیهٔ شاهنشاهی افغان ) یې دعلامه حبیبي دڅېړنو دمرکزپه همکاري چاپ کړي دي . دغه راز یې دپټې خزانې او تذکره الاولیا کتابونه په انګرېزي ژباړلي دي چي پټه خزانه یې په ۱۹۷۷ ع کال د یونیورسیټي پریس آف امریکا له خواچاپ سوې ده .

ډاکټر خوشحال حبیبي اوس دامریکا په میریلینډ کي اوسي .

## محمدرفیق حبیبي

محمدرفیق حبیبي دارواښاد زین العابدین اخندزاده زوی و چي دمولوي عبدالرحیم اخندزداه لمسی اودعلامه حبواخندزاده کړوسی کېدی . د ۱۳۲۰ هـ ق کال په شاوخواکي په کندهارکي زېږېدلی دئ . نـومـوړی دارواښـادمـولـوي عـبـدالـواسـع اخـنـدزاده لـه شاگردانوڅخه و. لومړنی زده کړي یې له دغه مرحوم څخه وکړې وروسته دکندهار «بیت الحفاظ» ته شامل سو اودوه کاله یې هورې زده کړوته دوام ورکړ. وروسته کابل ته ولاړ ( ۱۲۰۸هـ ش ) اوپه دارالمعلمین کي شامل سو . له دارالمعلمین څخه تر فارغېدو وروسته په کندهارکي دښوونکي په توگه مقررسواو ورپسې سرښوونکی سو. ترسقوي دورې مخکي یې په مزارشریف کي دسرښوونکي په توگه ( ۱۳۰۶ هـ ش ) وظیفه سرته رسولې ده . کله چي په هیوادکي سقوي اړودوړ پېښ سو، اروانښادمحمدرفیق حبیبي له کاره گوښه سواوداعلیحضرت محمدنادرپه دوره کي بیادولتي ماموریت وروسپارل سو اوداخل دکندهارپه مستوفیت کي دتحریراتودسرکاتب په توگه وټاکل سو. څه موده یې هورې کاروکړخوله دولتي کاره یې زړه تورسواوسوداگری ته یې لاس واچاوه . په دې لړکي یې په ځینوخصوصي تصدیوکي کارونه وکړل څه موده دکندهارد «پښتون شرکت»مامورو ( ۱۳۱۲هـ ش ) ، بیاپه کراچي کي دملي بانك نماینده سو ( ۱۳۱۸ ش ) . په پېښورکي یې هم ددغه بانك دنماینده په توگه کارکړی دئ ـ څه موده یې په



اروانښاد محمد رفیق حبیبي

ډیلي کي دکندهاردسوداګري داطاق د نــــــماینده په حیث کارکړی اووروستی وظیفه یې په کابل کي وه ، دملي بانك دتفتیش داداري لوی مدیروایه همدغه وظیفه کي تقاعدسواوپرکورکښېنوست .

اروانښادمحمدرفیق حبیبي یومنورپښتـون وددولتي ماموریت اوخصـوصـي سرګردانیوېي سره ادبي ذوق هم پاله ـ دهیواد په ورځپاڼو (طلوع افغان ) او (انیس ) کي مقالې خپرولې په پښتوژبه یې نظمونه ویل اوپه عربي اواردوژبویې دترجمي صلاحیت درلود اوځوکتابونه یې له عربي څخه ژباړلي دي چي چاپ سوي نه دي .

۱ ـ هدایت الحکمه

۲ ـ تتمه البیان فی تاریخ الافغان ـ داکتاب علامه سیدجمال الدین افغاني په عربي کښلی دئ .اروانښادمحمدرفیق حبیبي هغه په پښتواوپارسي دواړو ژبو ژباړلی دئ ( ۱۳۲۰ هـ ش ) . (۱)

۳ ـ تاریخ الامم ـ داکتاب یې له اردوژباړي څخه په پښتواړولی دئ ( ۷ ټوکه )

اروانښادمحمدرفیق حبیبي په ۱۳۵۰ هـ ش کال په کابل کي وفات سوی دئ . دنوموړي مرحوم دنظم اونثرنمونه به له « اوسني لیکوال »څخه رانقل کړم :

دمېني مینه

مینه دي کوردئ خدمت یې پوردئ . . .

---

( ۱ ) تتمت البیان فی تاریخ افغان د اروانښاد مولوي محمد امین خوګیاني په قلم په پارسي ترجمه سوی او چاپ سوی دئ . پښتو ژباړه یې په کوټه بلوچستان کي دمحمدیوسف منصور لخوا سرته رسېدلې ده او دبلوچستان پښتواکاډیمی خپور کړی دئ ( می ۱۹۷۹ م ) .

ترکورچي ووزي بيادي وطن دئ، گران لکه تن دئ ...
راسئ چي په ټولودوطن مينه کو، لکه دتن مينه کو
مينه يې داده چي خدمت يې په رشتياوسي، نه په سپماوسي.
ډېره پرمخ تللې دنيا ، زه پاته ترشا...
ښاغلی پښتون سرړدي پرمېنه توريالی ، ځکه وي تل بريالی - خدای دي نوم ورك مه کاپښتونه داصفت ستادئ ، که مې رښتياپوښتې ترډې لابالادئ ...

راسه چي ولاړسوپه خدمت دوطن ورځ شپه يوه کو، آرام ونه کو، لومړی داولادگډه روزنه ، په پوهه پالنه ، معارف ښوونځي پرانيستلي ، په هرښاراوکلي -- نوکه بياهم اولاددي ناپوه سي راپورته، نه دئ ښه ، ښه دادی چي ځي گورته ...

وروسته داچي تجارت ته دي نظرکړه ، له دنيانه ځان خبرکړه - نن ورځ ښېل اصول دي اينښي تجارت ته ، له هغونه کاراخيستل درانه نه دي منانت ته ، که مين يې چي مروچه ، دی سي مېنه دغه لارده ، دوطن درد دپاره دواداده چي په کارده .

دتجارت په کورکي پروت يوترازودئ، ورته ناست لوړيې بازودئ - په لومړی پله کي يې پروته صادره ده، په دوهمه کي يې پروته وارده ده ، که شوې دواړي پلې خولې په خولې بيابښه ، که صادره پله يې درنه سوه خورابښه خدای دي نه کاچي دواړي خوگی ډېرسي ، که سوونويه چاره پسې ژردرومه غم چاپېرسي ...

بلمه داچي مخ راواړوه صنعت ته ، ملادي وتړه اوچته اوره ورکه وحرفت ته - که يې وينې په همدې دنيانازيږي . همدغه دئ چي يورپ اوامريکاپه وياړيږي پښتون هم ځانله صنعت درلود، هم يې



حرفت درلود.

بې قدري دخپل لباس کړواودبل جامه پنده ، په ښکاره په کالوپټ يوپه باطن واړه بربنډه ...

بلمه داچي يوم درواخله پرکښه داده چي په ماشين کړي ځمکه زيراوزبر، هم لراوهم برهم سمه اوهم غر - هرلورکړه کښتونه ، شنه کړه لوی لوی ځنگلونه ...

بوټي دي گوره په غروکي په دښتوپه شپلوکي - ټول دي اکسيرپه دنياکي ، که زه ته ځان سوه کړوکيمياکي ...

اوزگړی، پسونه ډېرتربيه کړه وژغونې وړی يې دځان په ښه کړه - قرقل روزه په ځر، که بغنه دي يادوبر ...

راسه گوره ښکاره شی مودکاردئ ، خوکوم شی ته چي موړاړيوهغه کاردئ ...

سرمايه واچوه په گټه ، داسي نه چي ته په پټه زه په پټه - هوله وروره گټه گټه نه ده گوره ، که غيرت دي پښتني وي له دې گټې نه ځان ژغوره ...

دمېنې مينه که لرې لاره يې داده ، دخولې خبري تنهاوينداده - ملادي وتړه وکارته،اوره ونيسه وبارته ،دپښتون نوم بياژوندی کا،ځان ترټولوگړندی کا .داده دمېنې مينه ترې قربانه که خپله وينه .

## دنظم نمونه

### ژبه

ته پوهېږې چي وحــدت دملت څه دئ ؟
واقعي شان وشـــوکت دملت څه دئ ؟

چه ملت پـــرې راټولیږي هغه څه دئ ؟
چه یـــوقام په پېژاندکیږي هغه څه دئ ؟
لومړی ژبه ده چي قــــام په پېژانده شي
نورڅه وروسته دي هرگزبه وړاندي نه شي
که دي ژبه ژوندۍ نه وي تـــه په مړوکي
شمېرېږې شمارنه یې هیڅکله په ژوندوکي
که دي ژبه وه ژوندۍ سربه دي لـــوړ وي
اوکه نه تل به دي سیالو ته سرخــــوړ وي
خودي توان وي کوښښ کـــړه پخپله ژبه
پس له هغه کړه خان پـــوه په بله ژبه
زیار وباسه د پښتوآثارراغــــــونډکړه
د پښتوغمي له خـــــاورو را بربنډکړه
شعراء مـــــــود نامه سره ټول تللي
ډېرآثار یې پــــــه غفلت ترلاس وتلي
عـــــــلوم واړه په پښتوکي ترجمه کړه
دپښتوناوې پدې گېڼه ښـــــایسته کړه
( ۱۳۱۷ هـ ش )

زمونږ دزماني مشهورهنرمند سندرغاړی ښاغلی دوکتور محمد صادق فطرت ناشناس دارواښاد محمدرفیق حبیبي زوی دئ دهیواد په ثقافتي ډگر کي دښاغلی دوکتورفطرت درول په باب بویه ځانگړی کتاب ولیکل سي .

********



## لالا محمد سعید حبیبي

د زین العابدین اخونزاده زوی او دمحمد رفیق حبیبي مشر ورور و چي دافغاني محصلینو په لومړۍ ډله کي شوروي اتحاد ته دتحصیل لپاره تللی او په مخابراتوکي یې تخصص اخیستی و . نومړی په کابل کي اوسېدی او دوخت له منورینو سره محشور و دمخابراتو په څانگه کي دیوه متخصص په صفت کارکاوه . مړینه یې د۱۳۲۷ ش په حدودو کي پېښه ده .

دلالا محمد سعید خان حبیبي درې زامن اویوه لور پاته سول . مېرمن یې لکه وړاندي چي مو ولوستل د ارواښاد مولوي عبدالواسع شهید مشره لور ( بي بي اسماء ) وه .یو زوی یې عبدالهادي حبیبي نومېږي چي دحربي مکتب له لمړنیو زده کوونکو څخه و چي د ټانك په څانگه کي یې په انگلستان کي لوړ تحصیلات کړي دي . په ۱۹۴۹ ع کال پاکستان ته تللی او اوس هورې اوسي . دپاکستان راډیو له فارسي پروگرام سره همکاري لري .( ۱ )

بل زوی یې زمونږ د وخت معروف علمي او مطبوعاتي شخصیت ښاغلی دوکتور محمود حبیبي دئ چي د ژورنالیزم په څانگه کي یې په فرانسه کي لوړ تحصیلات کړي دي . دهیواد په کلتوري موسسو کي یې له ریاسته نیولې تر وزارته کارکړی دئ . وروستی وظیفه یې دسنا مجلس مشرتوب و. اوس په کابل کي اوسي .


---

( ۱ ) دښاغلي انجنیر میرویس حبیبي یادښت

## مولانامحمدشريف حبيبي

اروابناد زين العابدين اخندزاده دري زامن درلودل .د دوو زامنو محمدرفيق حبيبي اومحمدسعيدحيبيي (مشهورپه لالا ) په باب مخکي ورغبدو۔ دريم زوی يې محمدشريف حبيبي وچي په کندهارکي د (مولانامحمدشريف ) په نامه خلکوپېژاند . دپښتوژبي نقادليکوال واوکله کله يې نظم هم کيښ . پرفارسي سربېره په عربي اردواوانګرېزي ژبو پوهېدی . پرخصوصي تحصيلاتوسربېره يې دجراحی اوطب کورسونه ويلي و ۔ په دارالمعلمين کي يې هم زده کړي سرته رسولي وې اوترفارغېدووروسته يې دښوونکي په توګه ۱۲ کاله خدمت کړی و. دکندهارادبي انجمن سرګرمه غړی واوکله چي علامه عبدالحی حبيبي مرحوم دکندهارطلوع افغان په بشپړه توګه پښتوکړ .. اروابنادمحمدشريف حبيبي يې له همکارانوڅخه و. له طلوع افغان اوپه مجموع کي دکندهارله مطبوعاتوسره دمولاناهمکاري همېشنی وه . خورااوږدې مقالې اومفصل مضمونونه يې ورته ليکل.

مولانامحمدشريف حبيبي دهيوادپه درددردمن ليکوال و د هيوادوالوپرنېستمنه ورځ يې زړه خوربدی خودهغوناوړو عادتونو ۔ ناپوهيوبه کله کله دعصبانيت تردرجې درداوه . په ظريفه لهجه يې توندي انتقادي خبري کولې. مولانامحمدشريف حبيبي په ژوندکي تل پرمخ وهل سوی و اودخلکوبې قدری ډېرخوړولی و. ليکنويې زياتره انتقادي اړخ درلود.



اروابناد مولانامحمد شريف حبيبي

مولانامستقل آثارهم کښلي ووچي نومونه يې په دې ډول دي :

۱ ـ اوسني سرمايه داران

۲ ـ خواص اوعوام

۳ ـ اجتماعي بڼغ

۴ ـ آس نامه ( ۱ )

دمولانامحمدشريف ظرافتونه په کندهارکي ډيرعام سوي اودمعاصرينودخولې وردگرزيدلي دي. کله چي په هيوادکي ددوهمي ديموکراسی دراتگ په وخت کي دوخت صدراعظم دوکتورمحمديوسف کندهارته په دوره راغلی و (          ) اوپه هيوادکي يې داساسي قانون اوديموکراسی په باب دخپل حکومت پيغام خلکوته رساوه ، دکندهارخينوخلکوله مولاناڅخه وغوښتل چي په دغه رازديموکراتيکه فضاکي ملت ته خپل پيغام ورسوي . وايي دی پريوه ډبره ودريد (لکه رشتياچي يې ملت مخاطب وي ) اوپه لوړآوازيې وويل" اې ... ملته ! سپی آينده درته گوري ."

دمولانادغه وجيزه وشمه خبره په کندهارکي دومره عامه سوې ده چي عوام اوخواص يې دواړه په خبروکي دوجيزې په توگه کاروي . مولانا محمدشريف حبيبي ټول ژوندپه تجرد کي تيرکړ او واده يې ونکړ . دژوند په وروستيوشپو کي دکندهارښاردهرات دروازې چوك ته نزدې په يوه کوټه کي اوسيدی . په ۱۳۴۹ ش کال په کندهار کي مړ سو. د ښخولوسرښته او لگښت يې ښاغلي

---

( ۱ ) په دغوآثاروکي"اوسنی سرمايه داران" او"آس نامه" ماهغه وخت وليدل چي نومړی مرحوم دکندهارپه کلاقصيل کي دمولوي عبدالواسع اخندزاده په مسجدکي اروابنادمولوي محمدامين خوگياني ته دکتلوله پاره راوړی و. مرحوم خوگيانی په دغه وخت کي له کابله ، کندهارته راغلی و.

عبدالرحیم هاتف پر غاړه واخیستله . جنازه یې خواره بوښکې وه او لکه په ژوند چې دزمانې ناخوالو پرمخ وهلی و ، مړینه یې هم دیوه بېوزله دانشمند مړینه وه . د ژوند ټول مایملك یې دلرګو یو صندوق و چې په هغه کې دده خپل لیکلي آثار او کاغذونه او یو شمېر تسبیح خوندي وې . داصندوق دکندهاردعالي دارالمعلمین دهماغه وخت مدیر ښاغلي احمدزي واخیست .(۱) وړاندې مې وویل چې مولانا حبیبي د طلوع افغان همکار و . په دغه اخبار کې یې خورا ډېرې لیکنې خپرې سوې دي چې ماته اوس میسرې نه دي نود لیکني نمونه به یې له اوسني لیکوال څخه رانقل کړم

کونډه

دځورلسمي سپوږمۍ رڼاشاوخواته خپره وه . دآسمان په لمن کې دسپوږمۍ پلوشوکوچني ستوري نهام کړي وو.خوغټ ستوري لکه دشلېدلي غاړګۍ مرغلري لرې اونږدې بربښېدل . . .دلوی سیندپورته خواته داوبوډم دسپوږمۍ په پاکه رڼاکې یوه روڼه سطحه تشکیله کړې وه اوچیرې چې دساحل له لوړوڅنډوڅخه توري سایې رالوېدلي وې نودطبیعت داتابلویې ډېره رنګینه کړې وه.

دسیند راسته اړخ ته چې دګڼوونواوخاشوډك ځنګل مخ پرکښته غزېدلی و کله چې به د نازك بادڅپه ځني ومونښته ددرختوپه پاڼوکې به نرۍ نرۍ شورشورشروع سو. دسیندپرټوله شاوخوایوه درنه آرامي اوچوپتیاخپره وه ، یواځې هغوښوراندو سایوبه په دې بېده صحنه کې حرکت راوستی چې دځنګله له درختوڅخه پرمځکه

(۱) ښاغلی احمدزی د دوکتورمحمود حبیبي له خسرګنی څخه دئ .



رالوېدلي وې اود بادپه نریوڅپوکې ښورېدلې.

دسپوږمۍ رڼااوپه اوبوکي دهغې انعکاس شاوخواټوله روښانه کړې وه هلته دلرې ځایه دسیندپرغاړه یوه سایه په حرکت کې وه . داسایه به دېستوریکوپرمخ کله ښه ښکاره سوه اوکله به له نظره ورکه سوه ، لږوخت نه وتېرسوی چې دې سایې په چابك حرکت شروع وکړه اوکله چې دځنګله خواته نږدې سوه پرېوه کږه لارورو څرخېده اودتورځنګله په خېټه کې ورکه سوه .

هغه سایې چې په دې آرامه صحنه کې ښورراوستلی ودیوې خوانې ښځې وه چې توربوږنی یې پرځان پېچلی و.ددې غېږ ډکه وه اوتربغل لاندې یې یوه کوچنۍ نجلۍ هم له ځانه سره بېوله . داښځه ځنګله ته په ډېره وارخطايي ننوتله . هلته په ځنګله کې چې پرمځکه ددرختواوپاڼوله پیوست څخه روڼارالوېدلې وه د بادله څپوڅخه داسې په رېږد وه لکه دهغې خوانې ښځې زړه . ددې زړه آرام نه کاوه اوددرختوپه تیاره کې دهرهغه ځای په لټون کې وه چې رڼابه نه وه ورلوېدلې . داچې به دهرې پلنې درختې شاته ودرېده اودکوم پیوست څخه به یې دسیند پرغاړه لویه لارولیدله نوبیابه یې زړه په ټکان سواومخ په وړاندې به ولاړه اوپه یوبل ډېرتیاره ځای کې به یې ځان غلی کړ. دې به له ډېرې بېرې څخه خپل توربوږنی ژرژرپرځان راوپېچی اوکله کله به یې سترګې هم پټې کړې . دې خپل ګامونه ورورو پورته کول اوکله چې به یې ترپښولاندې دچوپاڼودمیده کېدوآوازپورته سونوژربه ودرېدله اوبل پل به یې په آرامه پرمځکه کښېښود ، هغه وخت چې داسرګردانه ښځه دتیارې په منځ کې یوې لویې پډې ته ورسېدله نودهغې په تنه

پوري داسي وموښتلمه لکه په هغه درختته پوري چي کومه زخه راشنه سوې وي . ددې په غيبرکي چي يوښايسته کوچنى هغه هم داسي آرام ولکه دخپلي مورله اضطراب څخه چي خبرو. دی به آرام وخوکله چي به يې دمورپلودده پرسترګوولوېد نوناآرامي به يې کوله خوکله چي به يې مخ ورلخ کړ نودوې ښايستې سترګي به يې په غالبانوکي ګرزېدې اوهرکله چي به دپاڼوله منځ څخه دسپوږمۍ کومه پلوشه پربرابره سوه شنه خوله دخندابه ورته ولاړ، اوکله کله به يې داسي ورواخيست چي کوچنى سربه يې هم ورسره ښوروواه .ددې ترچپه بغل لاندي چي کوچنى نجلۍ ولاړه وه هغې هم څه نه ويل ، يـواريـواربـه يـې مـخـکـي تـه وکـتـل اوبـيـابـه يـې سـرورهـيـسـتـه کړاودمورمخ ته به يې وکتل، ځوانه ښځه رېږدېدله اوآرام يې نه درلوداوهره پلابه يې کوچنى نجلۍ کنبېکنبله او ورته و به يې ويل

"ملالي! الله په بلادي مرګ سه ، آرامه ودرېږه مه ښوره "

کوچنى معصومي نجلۍ به پرمورلاس راوګرزاوه اوپه کوچنى آوازبه يې ورته ووېل "ادې! ډېره ډېره ښورې . هه آ ، هه آ اوس خوته ښورې . ګوره ستاپوړنی څرنګه ښوري" ځواني ښځي په ډېره وارخطايي ددرختوله پيوست څخه لويي لاري ته سترګي نيولي وې. اويواربه يې ورووروداسي آوازترخولې ووتی :

" الله ته خوموويني !اه و، خدايه په څه ګناه دي نيولي يو، خدايه زه که ګناکاره يم ته ددې مومنانوروی ته وګوره . خدايه مورخوهيڅوك نه لري. اوه..." دامهال چي به کوچنى نجلۍ دمورخبروته غوږنيولی و، په آرامي به يې پرهغې لاس راوڅرخاوه اومخي ته به دې ودرېده اوپه کوچنى ژبه به يې ورته ووېل "ادې زه



داسي ببلېزم (ببربېږم) " موربه يې ژرلاس پرراوڅرخاوه اوپه ځان پوري به يې تينګه زږه اوورته وبه يې ويل "ملالي! بلادي واخلم، خودادی زه درسره يم . اوس دستي د مامك کره ځو. هلته به بس شيدې اوغوړي وخورواوبيابه کراره بيده سې. ښه، ږغ مه لره ، بشردي جارسم" کوچنى نجلۍ به دامهال سترګي دمورخولې ته نيولي وې اوپه کراره به يې اړخ ته راغله اوداسي به يې ورته ووېل "شه دی، ادې شه " ته نوهم مه شوره (ښوره )! کاکودي خدای مل (مړ ) کی. شه ادې چي کاکومل(مړ ) شي موژ(موږ ) به بياکول (کور ) ته لال(ولاړ ) شو."

دکوچنى نجلۍ کوچنيوخبرودمورستونی له ژړاڅخه وپړساوه خودبېري څخه يې ترخولې ږغ ونه وت.

د پنډواونږيودرختوله پيوست څخه ځواني ښځي هرآن دسيندپرغاړه لاره څارله ، دامهال له ليري څخه ددوکسوتېزي تيزي خبري دبادپه څپوکي ددې غوږوته راورسېدې. دلويي پلې شاته ولاړه ښځي دزړه ټپ ټپ په توفان کښېوت اوازبستی ( ۱ ) چه له وارخطايي څخه يې خوله وچه سوې وه دوچ ستوني څخه يې بې اختياره غړچ غړچ شروع سو.

هـغـه خـبـري چـي بـادرارسـولـې وي دهـغـودووکـسـو وې چـي دسيندپرغاړه پرلويه لاربه دې پسي راروان وه.

کله چي ښه رانژدې سول بياترهغوچي آوازيې ورکېدی دځواني ښځي غوږوته داخبري ورسېدلی.

---

( ۱ ) ازبستی  ازبسکه ( پارسي )

ـ ښه! سالو! ( ۱ ) ولاړه خووالله که سي .

ـ هو، چيري تلی سي ، کوم ځای لري؟

... "سالو! زما دا يوه خبره په ټينګه ومنه چي زه ترڅان تېرېږم خوترخپلي کونډي تېرېدای نسم .. " ته ووايه زما غيرت به څرنګه دامني چي زما دوروركونډه دبل پښه واوړي. په مرګ بندنه يم دچاپرواهم نه لرم، خپله مي کونډه ده اوخپل مي يتيمان دي.هو! پرميراث به يې اووه وغزوم . دقاضي اوحاکم په لارمي هم حق دئ اودموك(رشوت ) پرڅای چي ځان ګرووم هم حاضريم "په يوه پنډه خندا" ښه نوسالوته ووايه چي دابه نوڅوك زما دپنجې وباسي . اوکه ترې هم تېره سي نوداسي خبري په ځودانوکارتوسوښه فيصله کيږي. باوروکه سالولالا! چه پرخپله کونډه اوميراث به ډېرسرونه ترخاورولاندي کوم.

دامي فيصله ده اوپرېږدم يې هم نه. نوچيري به ولاړه سي . وروړلري! هاورور... هغه پخپله دحبيب الله خان دغلاپل پرختلی اوپه کلي کي يې ملااوبازواکاکشف الحال ورخراب کړی دئ سباوبل سباپه لوټکه اخته کيږي والله که يې خورته پام لاسي. نودابه څرنګه زماځخه خلاصه سي ؟

( دکتاب پای )

---

( ۱ ) پښتانه « صالح » ته د اسم تصغير په بڼه « سالو » وايي .



## اخځونه


۱ ـ خپل ـ هارون ـ آفريده های مهجور علامه حبيبی ـ کابل ـ ۱۳۶۷ ش

۲ ـ دزرغوني ياد ـ دمقالو مجموعه ـ کابل ـ ۱۳۶۲ ش

۳ ـ روهي ـ کانديد اکادميسن محمد صديق ـ د پښتو ادبياتو تاريخ ـ معاصره دوره ـ پېښور ـ ۱۹۹۹ م

۴ ـ ظفر کاکاخېل ـ سيدبهادرشاه ـ پښتانه دتاريخ په رڼاکښې ـ پېښور ـ ۱۹۶۵ م

۵ ـ غبار ـ ميرغلام محمد ـ افغانستان درمسيرتاريخ ـ چاپ ۱۳۶۶ ش

۶ ـ خلمی ـ محمد ولی ـ دکندهارمشاهير ـ ۱۳۶۸ ش

۷ ـ وکيلی ـ عزيزالدين ـ تيمورشاه درانی ـ کابل ـ ۱۳۴۶ ش

۸ ـ وکيلی ـ عزيزالدين ـ تاريخ خرقهٔ شريفهٔ قندهار ـ کابل ـ ۱۳۶۷ ش

۹ ـ پښتانه شعراء ـ لومړی ټوك ـ دوهم چاپ ـ پښتوادبي مرکزپاکستان ـ ۱۹۸۴ م

۱۰ ـ دحاجي جمعه بارګزي دېوان ـ کابل ـ ۱۳۶۰ ش

۱۱ ـ ديوان جناب طرزی صاحب ـ سردارغلام محمد خان طرزی ـ ۱۳۰۹ ق

۱۲ ـ آريانامجله ـ دحوت ګڼه ـ کابل ـ ۱۳۴۵ ش

۱۳ .... هروی ... محمد وزیر ... یادی ازدانشمند مورخ نامور افغانستان مرحوم پوهاندعبدالحی حبیبی قندهاری ـ کاناډا ـ ۲۰۰۱ م

۱۴ ـ مزارات هرات ـ تصحیح ، مقابله ، حواشي و تعلیقات از فکری سلجوقی ـ کابل ـ ۱۳۴۶ ش

۱۵ ـ غیاث اللغات ـ چاپ تهران ـ ۱۳۶۳ ش

۱۶ ـ لمر ـ جریده ـ شماره ۱۹ ـ سال دوم ـ کانادا ـ ۲۰۰۱ م

۱۷ ـ دهخدا ـ لغتنامه ـ چاپ تهران

۱۸ ـ افغان ـ ملاعبدالباقی ـ تهذیب الواجبات ـ ۱۳۶۶ ش

۱۹ ـ هوتك ـ محمد معصوم ـ وياړونه ميوندونه ـ په « ميوند د افغانستان تاريخي ځلی » کي چاپ .

۲۰ ـ منهاج العابدين ـ دعلامه حبر اخوندزاده ـ لاهور ـ ۱۳۴۰ ق

۲۱ ـ پښتانه شعراء ـ دوهم ټوك ـ کابل ـ ۱۳۲۱ ش

۲۲ ـ زلمی ـ هیوادمل ـ فرهنگ زبان وادبيات پښتو ـ لومړی ټوك ـ ۱۳۵۶ ش

۲۳ .... مجموعهٔ اسناد و مدارك چاپ ناشده دربارهٔ سیدجمال الدین مشهوربافغانی ـ تهران ـ ۱۳۴۲ ش

۲۴ ـ افغان یاد ـ دمقالو مجموعه ـ کابل ـ ۱۳۶۰ ش

۲۵ ـ هوتك ـ محمدمعصوم ـ پوخ کاڼی ـ کاناډا ـ

۲۶ ـ تاج التواريخ ـ دبمبی چاپ ـ ۱۹۰۴ م

۲۷ ـ فرانك ـ مارتين ـ Under The Abslute Amir ـ ۱۹۰۷ م

۲۸ ـ حبیبي ـ عبدالحی ـ دمیافقیرالله پېژندلیك ـ کابل ـ ۱۳۵۹ ش

۲۹ ـ هوتك ـ مولوي صالح محمد ـ پاشلي ویناوي ـ ۱۳۶۹ ش



۳۰ ـ حبیبي ـ عبدالحی ـ جنبش مشروطیت درافغانستان ـ ۱۳۷۷ ش

۳۱ ـ فهرست نسخ خطی ارشیف ملی افغانستان ـ کابل ـ ۱۳۶۳ ش

۳۲ ـ سراج الاخبار ـ پنځم کال ـ لومړی ګڼه ـ ۱۲۹۴ ش

۳۳ ... افغاني شمله ... دمقالو مجموعه ... د ډاکټر طارق رشاد راټولونه ـ ۱۳۷۹ ش

۳۴ ـ پښتو پښتو قاموس ـ دافغانستان دعلوموااکاډیمي ـ کابل ـ ۱۳۶۱ ش

۳۵ ـ معجم المفهرس ـ محسن بیدارفر ـ انتشارات بیدار ـ قم ـ ۱۳۶۶ ش

۳۶ ـ رویداد لویه جرگهٔ دارالسلطنهٔ کابل ـ ۱۳۰۳ ش

۳۷ ـ طلوع افغان ـ اتم کال ـ اتمه ګڼه

۳۸ ـ فرهنگ ـ میرمحمدصدیق ـ افغانستان درپنج قرن اخیر ـ ۱۳۷۳ ش

۳۹ ـ بینوا ـ عبدالروف ـ اوسني لیکوال ـ دریم ټوك

۴۰ ـ رفیع ـ حبیب الله ـ پښتو پانګه ـ لومړی ټوك ـ ۱۳۵۴ ش

۴۱ ـ رفیع ـ حبیب الله ـ پښتو پانګه ـ دوهم ټوك ـ ۱۳۵۶ ش ـ کابل

۴۲ ـ رفیع ـ حبیب الله ـ پښتو خپروني ـ لومړی ټوك ـ ۱۳۵۶ ش

۴۳ ـ هلالي ـ دکتورعبدالحکیم ـ پښتوقاموس لیکنه ـ کابل ـ ۱۳۵۴ ش

۴۴ ـ ژوندون مجله ـ داسد ، سنبلې ګڼه ـ ۱۳۶۱ ش

۴۵ ـ شیراني ـ محمود خان ـ چهار مقاله برفردوسي وشاهنامه ـ دپوهاند عبدالحي حبيبي زباړه ـ کابل ـ ۱۳۵۵ ش

۴۶ ـ داستاد یاد ـ دمقالومجموعه ـ کابل ـ ۱۳۶۴ ش

۴۷ ـ پته خزانه ـ عکسي چاپ ـ کابل ـ ۱۳۵۴ ش